اقتصاد

ليکوال: پوهنيار سيف الدين سيحون

ژباړن : م.ا. يادگاري

اقتصاد

PROPERTY OF
ARIC
Established
1986

ليکوال: پوهنيار سيف الدين سيحون

ژباړن: م. ا. يادگاري

کال: ۱۳۸۰ هـ ش ۲۰۰۱ م

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : اقتصاد
لیکوال : پوهنیار سیف الدین سیحون
ژباړن : م.ا. یادگاري
خپرونکی : د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره
پرله پسې نومره : ۷۲
لومړی چاپ : ۱۳۸۰هـ.ش کال، د خپرونکي له خوا، پېښور
چاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه
د مخونو شمېر : ۹۶
کچه : ۱۳,۵ × ۲۱ سانتي متره
د خپرونکي پته : دویم کور، رحمان بابا روډ،
پوسټ بکس: ۱۰۸۴، یونیورسټي ټاون - پېښور
ټیلفون: ۴۵۳۱۶-۴۴۳۹۲-۴۵۳٤۷
فکس: ۸۴۰۴۷۱-۹۱-۰
الکترونیکي پوسټ: aric@brain.net.pk
کمپوز او طبع : احمد پرنټنګ پرېس، ټیلیفون ۲۱۵۵٤۰
دویش او پلورنې ځای: د اکبر دفتر (د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام اداره)

د کتاب له مطالبو څخه اقتباس د مأخذ په ښودلو سره جایز دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

د اکبر د اطلاعاتی او نشراتي منابعو مرکز (اریک) له څلورو کالو راهیسې د افغانستان ولایتونو ته د ګرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نیولی دی. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په یو خاص ځای کې ایښودل کیږي. د سیمې خلک ورڅخه امانت کتابونه وړي، لولي یې او خپلو شاوخوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لیږدول کیږي او یا پرې یوشمیر نور نوي کتابونه ورزیات او هماغه ځای کې پاتې کیږي.

مونږ دا هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه راټول کړو چې دلیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، ترڅو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او... مسایلو کې مرسته وکړي.

موږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم ترسره کوو چې خلک څه ډول آثارو او موادو ته اړتیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هیله من دي. موږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بیلا بیلو منابعو (کتاب پلورنځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو. په نوموړو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اریک هڅه کوي چې داړتیاوړ آثارو په تألیف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

ددغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور درې کاله

لومړی

د مخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کار پيل شو او له هغه وخت راهيسې تر اوسه پورې د اريک ګرځنده کتابتونونو ادارې د محترمو همکارو مؤسسو په مرسته په دغه برخه کې پياوړي ګامونه اخيستي او ګټور فعاليتونه يې ترسره کړي دي.

د ښه او سيستماتيک کار له پاره د اريک د ادارې استازيو او يو شمير څيړونکو او ليکوالو يو ګډ هيأت وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ کولو پړاوونه چې د تکړه او مسلکي ليکوالو له خوا تأليف کيږي، په ګډه پر مخ بوځي.

دغه هيأت د افغانانو د صميمي همکارۍ ميرمن نانسي هيــــچ دوپرې، سيد محی الدين هاشمي، خواجه غلام جيلاني شبل، محمد شکيب افضلي او محمد رفيع څخه تشکيل شوی دی.

مونږ له خپلو ټولو درنولو لوستونکو څخه چې د هيواد په بيلا بيلو ښارونو او کليوالو سيمو کې زمونږ له کتابتونونو څخه ګټه اخلي، هيله لرو چې خپلې اړتياوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هيواد له ليکوالو او پوهانو څخه غواړو چې چه له مونږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لا ښه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اريک د ګرځنده کتابتونونو اداره

فهرست

عنوان ———————— مخ

سریزه ١

لومړی څپرکی:

د اقتصاد د علم مفهوم او ماهیئت ٣-١٤

د اقتصاد د علم د زده کړې اړتیا او اهمیت، د اقتصاد د علم موضوع، د اقتصاد د علم پیژندنه، له نورو علومو سره د اقتصاد د علم اړیکې، ولې باید اقتصاد وکړو؟ د اقتصاد د علم ویش، د اقتصادي مسئلو د تحلیل لارې چارې.

دویم څپرکی:

اقتصادي اصطلاحات او مفاهیم ١٥-٣٥

دریم څپرکی:

د اقتصادي نظریاتو تاریخي بهیر ٣٦-٤٨

دلرغونې دورې اقتصادي پېش بینۍ او نظریې، تجارتي مکتب، طبیعیون یا د طبیعت د پلویانو مکتب، کلاسیک مکتب، اشتراکي مکتب، د نهاییون مکتب، تاریخي مکتب.

څلورم څپرکی:

اقتصادي سیستمونه او نظامونه ٤٩-٦٠

د آزاد بازار نظام، د مرکزي پلان اقتصادي سیستم، د مختلط اقتصاد سیستم.

عنوان ——————————— مخ

پنځم څپرکی:

سوداګري او د مالونو تبادله ۶۱-۷۶

په اقتصاد کې د سوداګرۍ او دمالونو د تبادلې نقش او اهمیت، دمالونو د تبادلې د تحولاتو تاریخي بهیر، د مالونو د تبادلې او سوداګرۍ ښیګنې، بازار موندنه، بازار موندنه او دهغه ډولونه، د سوداګرۍ د شرکتونو ډولونه، نړیواله سوداګري.

شپږم څپرکی:

پیسې، بانک او مالیه ۷۷-۹۲

پیسې، بانک، د بانکونو ډولونه، عمومي مالیه، د مالیې ډولونه.

مأخذونه او منابع ۹۳

سریزه

د اقتصاد پوهه چې د بشري ټولنې د متغیرو او بدلیدونکو شرایطو زیږنده ده، د انسان په ژوندانه کې ډیر اهمیت مونډلی او د انسان د ژوندانه په ډیرو ساحو کې یې ډیر تاثیرات پرځای پرینبي دي. د اقتصاد علم لکه د عصري پوهنې نورې برخې د لویو بدلونونو په بهیر کې واقع شوی او د هغه مسایل مختلف بعدونه احتوا کوي.

په اوسنیو شرایطو کې د اقتصاد علم څخه د اقتصادي او اجتماعي سیاستونو د تنظیم له پاره استفاده کیږي او دغه اصل د ټولنې د ودې او انکشاف سره په تدریج پراخوالی مومي. هیوادونه او مختلفې مؤسسې له دې علم څخه د تولیدي او توزیع په چارو کې او همدا رنګه د داخلي او خارجي سوداګرۍ او مبادلې، د قیمتونو کنترول، د اقتصادي نوسانونو، د مالي او پولي مسئلو په تنظیمولو او منسجم کولو کې، د اقتصادي او اجتماعي ودې او انکشاف پلانونو په طرح کولو کې، او د هیوادونو د رشد او ودې په برخه کې په هر اړخیزه توګه کار اخلي، او د اقتصادي ودې او پراختیا له پاره له دې علم څخه په منطقي او معقوله توګه ګټه اخیستل په یوه دوامداره او کلي قاعده تبدیله شویده.

«د اقتصاد علم، لکه د نورو اجتماعي علومو په څیر ځانګړي او مشخص مفاهیم اصطلاحات او مضامین لري، چې هر سړی خپل د رابطې د نوعې سره سم، چې د ټولنې سره یې لري، د دې مفاهیمو، اصطلاحاتو، حدودو سره پیژند ګلوي پیدا کوي، او د اقتصاد متقابله رابطه د نورو اجتماعي علومو او د اجتماعي او اخلاقي محیط د ضوابطو ارزښتونه په درسته توګه درک او اجراء کوي.»

د اقتصاد علم زده کړه ژورې او دوامدارو مطالعې غوښتونکې ده او په عصري علومو کې یو پیچلې ساحه تشکیلوي، او د هغه اسسات هم پراخه او دوامداره مطالعې ته اړتیا لري. هغه شی چې په دې رساله کې مطالعه او څیړل

کیږي ، د دې علم یوه اندزه عمومي او کلي مفاهیم دي ، چې د اقتصادي او اجتماعي مسئلو په هکله چې په ورځني ژوندانه کې سړی ورسره هرو مرو مخامخ کیږي ، انسان ته مفکورې او پوهنه وربښي. د همدغې اړتیا پرښنسټ دوخت د کموالي سره سم ، هغه شیان چې د لیکوال له نظره با اهمیته ګڼل کیږي ، په دی رساله کې انعکاس موندلی ، او د پیچلی او تخصصي مفاهیمو ، د ریاضي فورمولونو له استعمال او استفادی څخه ډډه شوې ده.

دغه رساله په شپږو څپرکو (فصلونو) کې لیکل شوې ده ، په لومړی فصل کښې د اقتصاد د علم مفهوم او ماهیت او ځینې مقدماتي مسئلې او د ښې پیژندنې و آشنائي له پاره د دې عرضې سره بررسي شویده ، په دوهم فصل کې هغه اقتصادي مفاهیم او اصطلاحات چې په اقتصاد کې ډیر معمول او متداول دي مطرح شوي او د دغې اصطلاحاتو د ضرورتونو په اساس قدامتونه هم په پام کې نیول شوي دي.

په دریم فصل کې اقتصادي نظرئې له تاریخي نظره څیړل شوي او نظریات او عمده اقتصادي مکتبونه لنډ تحلیل شویدي ، په څلورم فصل کې اقتصادي سیستمونه او اقتصادي سیاستونه چې د هغې څخه یې نشأت کړی بررسي شوي دي ، په پنځم فصل کښې سوداګري او د مالونو تبادله مطالعه او ارزیابي شویده ، او په شپږم فصل کې د پیسو (پول) اقتصاد ، بانکداري ، مالیه او بودجه په ننني او معاصر اقتصاد کې په لنډه توګه تر مطالعې لاندې نیول شوې دي.

څیړنه د علمی او اکاډمیکو معیارونو په بنسټ ترسره شوې ، او د معتبرو او با ارزښتو کتابونو او رسالو څخه په دې هکله استفاده شوې ، د مأخذونه لست د دی کتاب په پای کې را اخیستل شوی.

په درناوی

پوهنیار سیف الدین سیحون د کابل

پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد

لومړی څپرکی :

د اقتصاد د علم مفهوم او ماهیت

د اقتصاد د علم د زده کړې اړتیا او اهمیت:

د نن ورځې انسان د هر وخت څخه زیات خپل د چاپیریال او مسلط اقتصادي او اجتماعي سیستم تابع او ورپورې تړلی دی. ملي نظام جهانی شرایطو ته تابع دی، د نننی عصر دولتونه سره تړلي دي، چې اقتصادي ضرورتونو اتحاد او وابسته ګیو ته چټکتیا او شدت ورښنلی دی.

په مجموع کې د انسان فعالیتونه، او د هغوی کار او هلی ځلی په اقتصادي ډګر کې د هغه په ژوند کې د بدلونونو باعث ګرزېدلي دي. انساني ټولنه د مختلفو او مغلقو ضرورتونو په اساس، لکه پوښاک، مسکن، روغتیا، تفریح، کسب او کار، اجتماعي تأمینات او مزد او معاش، قیمتونه، پانګه اچونه، پروژه سازي، بیمه او داسې نورو اقتصادي مسئلو پورې تړل کیږي، نو ځکه «د اقتصاد د علم اساسي وظیفه د انسان نجات د هغه د ضرورتونو د فشار څخه دی».

اقتصادي مسایل ډیر او مختلف دي، او د هغو زده کړه انسان ته دا امکان ورښني چې په لاندې مواردو کې روښانه نظر لاس ته راوړي:

۱ – د کار او کارګرې مسایل، د کار د مزد او اجورې مطالعه او د هغه تفاوت په نړیواله سطحه، د خرید د قدرت سره جوخت، چې په مختلفو هیوادو کې موجود ده.

۲ – د قیمتونو د لوړوالي په هکله د هیوادو او په مجموع کې په نړیواله سطحه پوهه لرل.

۳- د هیوادونو د تولیداتو څېړنه او مطالعه او د مختلفو هیوادو د عوایدو مقایسه په نړیوال ډګر کې.

٤- د اسعارو د نرخ د تغیراتو او تحولاتو څېړنه او مطالعه په ملي او نړیواله سطحه.

٥- د عوایدو د ویش په هکله څېړنه او بررسي د اشخاصو او افردو په منځ کې او د مولدو پس اندازونو تشکیل، د پانګې آچونې (سرمایه ګذاری) له پاره.

٦- د وروستوالي د علتونو او د اقتصادي پرمختګ پلانګذاري، د اقتصادي او اجتماعي وروستوالی د منځه وړولو په هکله پوهه.

٧- د دولت په واسطه د مالیې راټولولو په هکله معلومات او همدارنګه د مالي، پولي او اداري سیستمونو دقیق تنظیم، او همدغسې د محاسبوي او محافظوي سیاستونو د محلي صنایعو په هکله د بهرنیو رقیبانو په مقابل کې تنظیمول. د دې پوهې د پراختیا او ودې په صورت کې دا ایجابوي چې د ټولنې او افرادو او اشخاصو آګاهي په منظور له دی اقداماتو څخه او همدارنګه سبیسدی او مشارکت رشد او اقتصادي انکشاف له پاره لږ تر لږه د دغه معلوماتو څخه برخمن وی، ترڅو د اقتصادي او اجتماعي تحولاتو په لاره کې د معاصر تمدن همګام او د اقتصادي پرمختګ په لوري حرکت وکړای شي.

د اقتصاد علم او پوهه له بیلابیلو څانګو څخه تشکیله شوې ده، چې له هرې برخې سره د آشنائي، په لړکې زده کوونکی د مختلفو دقیقو او پیچلو مسئلو سره مخامخ کیږي، چې منطقي تفکر او علمي پوهې ته اړتیا لري.

د اقتصاد علم موضوع:

اقتصاد هغه علم دی چې د هغه په چوکاټ کې، اقتصادي فعالیتونه، د مسئلو علت او معلول او د اقتصادي پدیدو مشخصات، لکه د تولید منابع او عواملو (ځمکه، کار او سرمایه) او همدارنګه (د کار وسایل، د کارنیرو، د کار

مواد او اداره) ترکیب او د هغه قیمت گذاري او د عوایدو ویش او د هغوی تغیرات او تحولات، پیسې (پول) او کریدت او د مالونو راکړه او ورکړه (تبادله) په ملي او بین المللي ساحه کې ارزیابي کیږي.

په ننني او معاصر اقتصاد کښې، اقتصادي تعادل او عدم تعادل حالت، او اقتصادي منظم او دقیق روښونه او لارې تـاکل د پلانگذارۍ له لارې هم تربحث او مطالعې لاندې نیول کیږي.

د مالي او پولي سیاستونو اغیز هم د عادي او ورځنیو اقتصادي فعالیتونو په چوکاټ او محدوده کې ډیر اهمیت لري، او سیاستونه د اقتصاد په عمومي او مشخص حالت باندې ځانگړې اغیزې لري، چې د غه موضوع باید د اقتصادي نظریاتو او سیاستونو په برخه کې په ژوره توگه په پام کې ونیول شي.

اقتصاد دوه جنبې لري: لومړی محض اقتصاد او دوهم عملي اقتصاد.

محض اقتصاد د انساني او پولي څخه بیله او مستقله پدیده ده، او هغه د طبیعي او مستقلو قوانینو له کشف او پلټنې څخه عبارت دي، چې د هغه په نسبت د محصولاتو تولید، د پانگې (سرمایې) تشکل او د ټولنې شتمنۍ او ثروت تقسیم او ویش صورت مومي.

عملي اقتصاد د هغه قاعدې له پلټنې څخه عبارت دي، چې ښه او بهتره شکل د سازماندهي د محض اقتصاد د قوانینو څخه په استفادې سره د ډیرې گټې او شتمنۍ (ثروت) دلاس ته راوړلو په منظور تأمینیږي. په دې معنی محض اقتصاد هم هغه د اقتصاد د علم عملي اصول دی. او له ننني عملي اقتصاد څخه منظور اقتصادي او ټولنیز (اجتماعي) سیاستونه دی.

د اقتصاد علم پیژندنه:

د اقتصاد د علم د منځ ته راتلو څخه تر اوسه پورې له مختلفو دیدگاهو څخه ډیر تعریفونه طرح او وضع شوي دي.

د ارسطو له نظره اقتصاد: «د منزل تدبير او د كور مديريت دي»، ځكه چې په هغه وخت كې «كورنۍ» د اقتصاد واحد استازى يا نماينده ګڼل كيده.

آدم سميت A. Smith اقتصاد «د شتمنۍ علم» ګاڼه، دويد ريكاردو D. Ricardo د اقتصاد اساسي هدف او بررسي «د ثروت تقسيم او توزيع» ګڼل؛ جان استوارت ميل J. S. Mill د اقتصاد علم «د ثرورت ماهيت بررسي كول د توليد او توزيع د قوانينو له لارې» ګاڼه، الفرا مارشال (د رفاه مسلک) په اقتصاد كې مطرح كاوه، هغه د اقتصاد غايه او هدف د انسان سوكالي او رفاه او شتمني (ثروت) يې د دې هدف ته د رسيدو په خاطر يوه وسيله ګڼله. او آرتورپيګو A. Pigou اقتصاد د پېسې (پول) د پيدايښت د څرنګوالي او د هغه تاثير د اقتصادي فعاليتونو په رابطه مطالعه كوي، او ځينې نور د اقتصاد علم په بازار كې د قيمتونو تياكل او مطالعه او د كاليو تبادله تعريف كوي او ځينې نور، اقتصاد د كميابو توليدي منابعو د اختصاصي علم په توګه تعريفوي، او ځينې بيا هم د اقتصاد علم د عقلاني تصاميمو د اتخاذ له پاره (څه په لړوالي د شرايطو او څه په ډېروالي د شرايطو) يو منطق بولي. يعنې اقتصادي منطق په واقعيت كښې د لږ يا كمياب عوامل د توليد تركيب او تخصيص څرنګوالى د اقتصادي كارونو د ايجادولو په منظور او د خلكو د زياتره رضايت په خاطر په اقتصادي تولنه كې وي.

په پورتنيو تعريفونو كې د اقتصاد د علم په باره كې يو تعداد مهمې جنبې موجودې دي، او هر يوه يې د خپل طرز تلقي او ديد ګاهو څخه يوه جنبه مطرح كړيده.

ډير دقيق تعريف د اقتصاد علم څخه پل سمويلسن Paul Samuelsan امريكائى معاصر اقتصاد پوه وړاندې كړى دى، هغه په دې عقيده دى چې: «د اقتصاد علم د هغو روشونو له بررسۍ څخه عبارت دى چې انسان د پيسو په واسطه يا بيله هغې څخه د كميابو منابعو د تخصيص له پاره، د كاليو او خدمتونو د توليد

او سرته رسولو په منظور دوخت او زمان په اوږدو کې او همدارنګه د هغه د تقسیم او توزیع د اشخاصو او ګروپونو په منځ په تړلنه کې، د مصرف په منظور په اوسني او آینده وخت کې انتخابوي».

له نورو علومو سره د اقتصاد د علم اړیکي:

د اقتصاد علم د نورو اجتماعي (ټولنیزو) علومو په څیر له بیلا بیلو علومو سره مختلفې اړیکې او پولې لري، چې په لاندې ډول د هغه رابطه او اړیکې د نورو علومو سره په لنډه توګه ترڅیړنې او بررسۍ لاندې نیسو:

اقتصاد او فلسفه:

فلسفه په بشپړه توګه عبارت له هغه تحقیق څخه دی چې د خلقت او هستۍ نظام د اسرارو د علتونو په باب صورت نیسي. د همدې فلسفي نظریاتو او دلایلو پر بنسټ دی چې اقتصاد خپل اساس او مبداء د هغه پواسطه بیانوي. زیاترو اقتصادي مکتبونو د فلسفي نظریو په اساس بنا موندلې او ددې اقتصادي مکتبونو هدف او مرام د فلسفې له تګ لارې څخه په استفادې سره، خپل اقتصادي نظریات توجیه او عملي کوي.

اقتصاد او تاریخ:

تاریخ تیرې شوې واقعې د زمان او مکان له نظره انعکاسوي او د تاریخ د علم په استفادې سره د انسان ژوندانه د تحول په باره کې او د انساني ټولنې د تیرشوي او اوسني ژوند په باره کې نظر څرګندوي. د اقتصادي علومو بنسټ د اقتصادي او اجتماعي تاریخ په بنسټ او اساس ایښودل شوی دی.

له تیرو اقتصادي تجربو څخه کولای شو د هغه منفي او مثبتې نقطې په پام کې وینسو، او تجربه شوې معقوله لاره په عمل کې انتخاب او پلې کړو.

اقتصاد او جغرافیا:

انسان د خپل ژوند د ادامې له پاره، له طبیعي امکاناتو څخه د ښې او معقولې استفادې په خاطر او د خپلو اړتیاوو د لیرې کولو په خاطر، او د تولید د

سطحې د لوړولو په منظور د کمي او کېفي له نظره، د خپل چاپیریال او طبیعي ماحول پیژندنې ته اړتیا لري. د مثال په توګه د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي په خاطر په یوه سیمه کې لازمه ده، چې د هغې سیمې د خاورې د نوعیت او څرنګوالي، د باران د اورښت، د ځمکې لاندې اوبه، اقلیمي شرایطو، حرارت او رطوبت او داسې نورو موضوعاتو په باره کې مطالعې ترسره شي. د جغرافیې علوم د غه ټول معلومات انسان ته وړاندې کوي، د جغرافیې د علم په مرسته، موږ کولای شو چې طبیعي عوامل او اقلیمي اغېزې د انسان د فعالیت سره سم د تولیدیو ډېر عمده عامل وګڼو.

اقتصاد او سیاست:

د ټولنیزو (اجتماعي) علومو په منځ کې سیاست له هرڅه څخه زیات اقتصادي علم ته نږدې او ورسره تړلی دی. اصولاً د سیاست د علم مفهوم او هدف د هیواد او ټولنې اداره ده.

د یو هیواد او ټولنې ټوله اداره د هغې ټولنې اقتصادي نظام پورې تړلې ده. که سیاست د اداري هنر او د قدرت د مطالعې علم په یوه ټولنه کې دی، نو د نظامونو اقتصادي سیاستونه، پلانونه، بودجه او د دولت اقتصادي او اجتماعي پروګرامونه هم د یوسیاسي نظام د پایو د ټینګښت او د هغه د قدرت د مشروعیت له پاره ډېره اغېزه لري. اقتصاد په ډېرو مواردو او حالاتو کې په هیواد کې د سیاسي او اجتماعي بدلونونو او تغیراتو له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي.

په اوسنیو شرایطو کې چې ژوند او د هغه اړتیاوې ډېرې زیاتې او پیچلې دي او د هغه لمن د ورځې په تیریدو سره پراختیا مومي، نو په دې توګه د اقتصاد رول او نقش په سیاسي ډګر کې هم ورځ په ورځ زیاتیږي. په ډېرو هیوادونو کښې خلک عموماً د دولتونو اقتصادي سیاست ته ډېره پاملرنه کوي او د هغه له رویه د حاکمې دستګاه کړه او وړه د هغه د اقتصادي سیاست له مخې ارزیابي کوي.

په اوسنیو شرایطو کښې د اقتصادي قوانینو او رابطو پېژندنه او پوهه د هیوادو د سیاسي اداري د مسئلو لومړنی او اساسي جزء گرځېدلی دی.

اقتصاد او ټولنپوهنه (جامعه شناسي):

ټولنپوهنه (جامعه شناسي) د ټولنې د جوړښت، د ټولنې او اشخاصو د تگ یا په اصطلاح د هغوی د رفتار او کردار د یو اوبل په مقابل کې او د هغه عنعناتو، ادابو او د هغه له انگیزو څخه بحث کوي.

د ټولنپوهنې د نظریاتو څېړل او نتیجه گیري یو مهم علمي مېتود اقتصاد پوهانو ته وړاندې کوي، او له اقتصاد پوهانو سره د اقتصادي قوانینو په تنظیمولو او اجرا کولو کې مرسته کوي. اقتصادي فعالیتونه او اجراءت په ټولنه کې ځینې عکس العملونه راولاړوي، نو ځکه اقتصاد پوهان باید د موضوع د اجتماعي او ټولنپوهنې له نتیجې څخه بشپړه پوهه ولري، د مثال په توگه د کلیو او باندو ډیر خلک نوي کورونه د عصري وسایلو سره نه مني، او اکثراً عنعنوي او پخواني کورونو ته ترجیح ورکوي. نو ځکه ویلای شو د اقتصاد علم د ټولنپوهنې او روانشاسی په مرسته باید ددې مخالفتونو علت وڅېړي او معلوم یې کړي، او د سمې او عملي لارې څخه په استفاده خلکو ته قناعت ورکړي. همدارنگه د ټولنپوهنې (جامعه شناسي) په مرسته، د اقتصاد علم کولای شي دا معلومه کړي، چې ولې او په څه علت ځینې اقتصادي پلانونه په ځینو ټولنو کې په بریالیتوب سره تطبیقیږي او په ځینو نورو ټولنو کښې نامطلوبه اثرونه او نتیجې منځ ته راوړي.

د اقتصاد او حقوق علم:

د حقوق علم د هغو قواعد او اصولو څخه عبارت دی چې د اشخاصو او افردو پر رابطې د یو بل سره د ټولنې او دولت په مقابل کې حاکم وي.

د اخلاقي قوانینو پر خلاف چې خاص اجرائیوي ضمانت پکې شامل نه دی، حقوقي قوانین د اجرائي ضمانت لرونکي دي، او خلک د هغه په تطبیق او یا د هغه

څخه په خود داری مکلف دي. د اقتصادي او حقوقي علومو رابطه له دې نظره د اهمیت وړده، چې دوی دواړه د ټولنې او اشخاصو (افرادو) اړیکی او رابطې بررسي او تنظیموي، مګر هر یو د دې اړیکې او رابطې د خاصو دیدګاهو څخه څیړي، مثلاً د صنایع په برخه کې د اقتصاد علم د غه موضوع د کارګرانو څخه مناسبه استفاده د تولید په برخه، د معاشونو او قیمتونو موضوع، د صنعتی ښانو او تولیداتو د عرضې او تقاضا مسئله او داسي نور تر بحث لاندې نیسي، په داسې حال کښې چې د حقوقو علم د کارګر او کار فرما په منځ اړیکې د قانون له نظره، فردي او د ډله ایز قرار دادونه، د کارګر او کار فرما د اختلافونو په هکله مقررات، بیمه او داسې نور تر مطالعې او څیړنی لاندې نیسی.

اقتصاد او دیني علوم:

اقتصاد د دینی علومو سره نږدې اړیکي لري، او د اسلامي فقهي او د اسلام د مقدس دین ارشاداتو او نورو ادیانو زیاتره برخه اقتصادي مسایل تشکیلوي. د دې حکمونو زیاته برخه د ټولنې اقتصادي او معیشتي روابطو په تنظیم پورې اړه لري.

د اقتصاد رابطه له روانشناسی، بشر پیژندنې او نژاد پیژندنې سره:

برسیره پر هغو علومو چې ورته اشاره وشوه، د اقتصاد علم له نورو ټولنیزو علومو، لکه: رواشناسی، مردم شناسی (بشر پیژندنه) او نژاد شناسي (نژاد پیژندنی) سره نږدی اړیکي لري. برسیره پر اجتماعي علومو، اقتصاد، ریاضي او احصائیې سره هم نژدې اړیکي لري.

ولې باید اقتصاد وکړو ؟

د اقتصاد علم د انسانانو له یو لړ منظمو فعالیتونو څخه عبارت دی، چې د اړتیا وو د لیری کولوو له پاره، د لږ ترلاسه کیدونکو وسایلو څخه په استفاده کولو،

دیو منظم پلان په چوکاټ کې د اقتصادي اصولو په نظر کې نیولو سره صورت مومي. موږ باید اقتصادي عمل وکړو، ځکه چې:

لومړی: د انسانانو غوښتنې او اړتیاوې نامحدودې دي.

دویم: ددې اړتیاوو د لیرې کولو له پاره وسایل او امکانات محدود دي.

له پورتنی ټکی څخه دا جوته کیږي، لکه څرنګه چې د ضرورتونو د لیرې کولو له پاره وسایل او امکانات محدود او ضرورتونه نامحدودي دي، نو باید کوښښ وشي، چې ترممکنه حده پورې په همدغه امکاناتو او وسایلو د انسان زیاتره اړتیا وې لیرې (رفع) شي. په دې صورت کې ویلای شو چې اقتصاد کول عبارت دي د انتخاب کولو څخه.

په هر اقتصاد کې د هغه اقتصادي نظام او سیستم دنه په نظر کې نیولو سره، باید لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړل شي:

الف- څه شی باید تولید شي؟ یعنې کوم شیان او خدمتونه په کوم کیفیت او شکل او په کومه اندازه په اقتصاد کې تولید شي؟

ب- څرنګه تولید شي؟ یعنې د کومې فني طریقی څخه په تولید کې استفاده وشي، او د تولید د عواملو ترکیب (طبیعت، ځمکه، کار، سرمایه یا پانګه او اداره) او همدارنګه دکار قوه، دکار مواد، (کار وسایل او اداره) څنګه صورت ومومي؟

ج- د چا له پاره تولید شي؟ یعنې په څه ترتیب او په کومه طریقه د هیواد د تولیدات د خلکو په منځ کې وویشل شي، د هغه له جملې څخه په څه اندازه د مصرف د پاره او په کومه اندازه پانګه اچونې ته اختصاص ورکړل شي.

د- ترکومه حد پورې د موجوده منابعو او زیرمو څخه استفاده وشي، یعنې په څه ترتیب موجوده او آینده حقوقو د طبیعي منابعو په اړتیا او اعظمي استفاده ددې منابعو څخه تفکیک او سره توپیر شي.

هـ- ترکومې اندازې پورې باید د تخنیک د استفادې په ساحه کې انعطاف پذیري و منل شي؟ یعنې په کوموو قفو او طریقو اوسنی تولید په وروستیو تکنالوژیو بدل کړای شي.

د اقتصاد د علم ویش:

د اقتصاد علم عمدتاً په دوو مهمو برخو ویشل کیږي: (ملي اقتصاد او تصدي اقتصاد)، او په دې دوو برخو کښې مربوطې نظریې او سیاستونه ارزیابي او مطالعه کیږي. برسېره پردې باید ووایو چې پولي، کریدتي او تجارتي مسایل، مالي نظریې او سیاستونه هم پراخې تخصصي او تحقیقي څیړنیزې څانګې د اقتصاد د علم په ساحه کې احتوا کوي.

دا جوته ده چې په اوسني زمانه کې په اقتصاد کې د تحقیقي او سنجشي روشونو او میتودونو او همدارنګه ریاضي و احصائیې څخه په پراخه اندازه کار اخیستل کېږي، او اقتصاد یوه لویه او پراخه تحقیقي او علمي ساحه په بر کښې نیسي.

ملي اقتصاد، له هغه علم څخه عبارت دی چې د یو هیواد د سیاسي قلمرو په ساحه کښې تر مطالعې لاندې نیول کیږي، او اقتصادي عمومي مسایل تر ارزیابۍ او مطالعې لاندې نیسي. تولید د ملي اقتصاد له نظره عبارت دی له ځمکې، کار، پانګې (سرمایه) او اداری څخه. تصدي اقتصاد علم، عبارت له هغه علم څخه دی، چې اقتصادي اصول په یوه کارځای کې چې یو اقتصادي واحد (تصدي) دی، تر مطالعې لاندې نیسي. د تولید عوامل د اقتصاد تصدي له نظره عبارت له د کار وسایل، د کار قوه، د کار مواد او اداره او تنظیم څخه دی.

دولت هم یو اقتصادي عامل دی، او د هغه فعالیت د عمومي اقتصاد تر عنوان لاندې مطالعه کیږي. دولت د خپلو لګښتونو له پاره مالیې ټولوي، او خپلو کارکوونکو ته معاش ورکوي. د دولتي اقتصاد د برخي فعالیتونه، هغه فعالیتونه

دی، چې خصوصي تشبثات د هغه په سرته رسولو مایل او قادر نه وي، لکه د بندونو او نهرونو جوړول، هوائي ډګرونه جوړول، برېښنا او تیلفون شبکې او لینونه ایجادول، لارې جوړول او داسې نور.

برسېره پردې د اقتصادي فعالیتونو یوه لویه برخه د انفرادي اشخاصو له طرفه سرته رسیږي، او د بازار د ضرورت لویه برخه او تولیدات او همدارنګه د کالیو (شیانو) خرڅلاو د دې سکتور له خوا سرته رسیږي، چې په اوسني وخت کښې د فعالیتونو یوه لویه ساحه په برکې نیسي.

د اقتصادي مسئلو د تحلیل لارې چارې:

اقتصادي څېړنې د اقتصاد د مطالعې په برخه کې زیاتی او یوه د بل بشپړونکې دي. دغه روشونه او تګ لارې نظر په طریقه او طرز د استدلال سره، د تحلیل مقیاس او د وخت و زمان رول په تحلیل کښې تشریح او توضیح کیدلای شي.

د قیاس روش (Deduction) او د استقرا روش(Induction):

د هغو لومړنیو روشونونه چې اقتصاد پوهانو د اقتصادي قوانینو د کشف دپاره تر استفادې لاندې نیولي دي د قیاس او استقرا روشونه دي.

د منطق له نظره د استقرا روش له هغه طریقې اوروش څخه عبارت دی، چې انسان یو قانون او کلي او عام حکم چې د مسلمو اصولو او بدیهیاتو یو جزء دی پر خاصو مواردو جاري کړی او لازمه نتیجه لاس ته راوړي. مثلاً هر شی چې جاذبه قوه ولري، نور شیان ځانته راکاږي، د ځمکې په باره کښې ویلای شو چې ځمکه د جاذبې قوې لرونکې ده، ځکه چې شیان ځان ته جذبوي.

د استـــقرار روش د قیـــاس د روش برعـــکس کوښښ کوي چې په جزئي چارو کښې په مطالعه او اولیـــدنه او د هغـــوی د عمل د شکل او نحوې له نظره، کلي او جامع اصول لاس ته راوړي.

په تیرو وختو کې د خاص روش مکتب د تحلیل له نظره تعقبیده، خو په

اوسنیو شرایطو کې مطلوبې نتیجې ته د رسیدو او د اقتصادي قوانینو د کشف په خاطر له دواړو روشونو (قیاس او استقرار) څخه استفاده کیږي. برسېره پردې د اقتصادي مسئلو د تحلیل له پاره د ورانې روش، ریاضي او احصائیوي مېتودونو، او همدارنګه د کوچنی او لوی (میکرو او ماکرو) اقتصاد تحلیلي روش څخه اودستاتیک او ډینامیک روشونو څخه هم کار اخیستل کیږی.

ستاتیک (Static) د سکون او عدم تحرک معنی لري. یا په بل عبارت، ستاتیک د اقتصادي متحولینو د بررسی څخه په یو ټاکلی حالت کې، عبارت دی.

ډینامیک (Dynamic) یا متحرک روش په اقتصادي څېړنوکې په مختلفو زمانو کې د عامل زمان د وارد کولو او شاملولو څخه عبارت دی.

د اقتصادي پوهې د تحقیق او مطالعې له پاره د دواړو علوموا و پوهې څخه کار اخیستل کیږي.

دويم څپرکی:

اقتصادي اصطلاحات او مفاهيم

د اقتصاد علم لکه د نورو بشري علومو په شان د خاصو مقولو او اصطلاحاتو درلودونکی دی، او زده کوونکي يې اړدي چې له دغو مفاهيمو او اصطلاحاتو سره آشنائي پيدا او له هغو څخه استفاده وکړي. ددې ټولو اقتصادي اصطلاحاتو او مروجې مقولې د عميقې او دقيقې مطالعې متضمن دي او د اقتصادي او اجتماعی پرمختيا او دوې سره سم نوي مفاهيم او مقولې په دی عرصه کښې وارديږي، او هر ورځ دغه مفاهيم او اصطلاحات په دې ساحه کې ورزياتيږي. سره له دې چې اقتصادي مقولې او اصطلاحات او له هغو څخه استفاده د هر ليکونکي له نظره فرق لري، مگر ځينې اصطلاحات او مقولې په ملي او نړيوالو ادبياتو او خبري رسينو کې شامليږي، او د هغو استعمال د ټولنې په ورځنيو چارو کې معمول دی.

په همدې اساس د اړتيا سره سم هڅه کوو چې تر ممکن حده پورې هغه اقتصادي مفاهيم او اصطلاحات چې زيات استعماليږي دځينو معتبرو منابعو څخه په استفادې سره په لنډه توگه مطرح او توضيح کړو:

۱ - د توليد عوامل:

هغه عوامل چې انسان د هغه په مرسته شيان د خپل ضروورياتو د تأمين له پاره توليدوي، د توليد عوامل بلل کيږي. کولای شو چې د توليد عوامل په دريو گروپونو وويشو:

- ټول طبيعي شيان، لکه ځمکه، اوبه، دباد قوه، اتم او داسې نور (طبيعت)

- د بشري ټولنې کسبي او يا ارثي، جسمي او روحي قوې (کار)

- هغه ټول وسايل چې د انسان په واسطه جوړ شوي وي او د نورو شيانو د توليد له پاره ورڅخه استفاده کيږي، لکه ماشين، وسايل او آلات وابزار (سرمايه يا پانګه)

۲- کموالی (کميابي):

په دې نړۍ کښې چې موږ ژوند کوو، يو قانون د کميابۍ په نامه موجود دی، نو ځکه انسانان بايد د شيانو په توليد کښې د توليد کمياب وسايل په کار واچوي، تر څو وکولای شي د دوی پواسطه، خپل مخ په زياتيدو اړتياوې رفع کړي.

۳- بازار:

بازار په اقتصاد کې له مهمو او با ارزښتو مفاهيمو څخه ګڼل کيږي. بازار په اقتصادي معنی او مفهوم په هر رنګه اقتصادي مبادلې اطلاق کيږي. په کلي توګه د بازار له پاره درې ځانګړنې په پام کې نيول کيږي:

لومړی- بازار هغه ځای دی چې پيرودونکی او خرڅونکی يو او بل سره وويني او ليدنه کتنه پکې کوي.

دويم- بازار هغه ځای دی چې په هغه کښې د شيانو او خدماتو مبادله صورت نيسي.

دريم- که چيرې په مخابراتي او تيلفوني شکل هم معاملې سرته ورسيږي، بازار عملاً منځ ته راځي، نو ځکه په دې ځای کې بازار لزوماً د يو خاص ځای او مکان معنی نلري.

٤- د عمومي برخې اقتصاد:

د دولت اقتصادي فعاليتونو تشريح او تحليل او يا په بل عبارت پر اقتصاد د لګښتونو عمومي اثرونه او ماليات، مطالعه او څيړنه د عمومي برخې اقتصاد موضوع ده. البته د دولت اقتصادي فعاليتونه هم هغه موضوع ده، چې د اقتصاد

په عمومي برخه کې د پاملرنې وړ ګرځي. د مصرف کوونکي او تولیدونکي د ژوندانه پر شرایطو باندې، د دولت د فعالیت اثرونو تحلیل د اقتصاد عمومي برخي موضوع تشکیلوي.

د دولت فعالیتونه د خلکو او ټولنې په ورځنې ژوندانه باندې تاثیر لري. مقررې او قوانین، اداري، تصمیمونه، اقتصادي سیاستونه، لکه د منابع تخصیص، اقتصادي ثبات او د شتمنۍ ویش په مجموع کې د دولت فعالیتونو پورې اړوندې دي، چې د عمومي برخی په ساحه کې تر مطالعې لاندې نیول کیږي. یا په بل عبارت عمومي اقتصاد، د عایداتو او شتمنۍ ویش او په وروستي تحلیل، اقتصادي ټینګښت تر پاملرنې لاندې نیسي.

۵ - د خصوصي برخې اقتصاد:

دغه اقتصاد د مؤسسو او خصوصي افرادو او اشخاصو له فعالیتونو څخه عبارت دی، او په اوسنیو شرایطو کې دغه برخه د مختلفو ټولنو په اقتصادي چارو کې ډیر لویه ساحه احتوا کوي. د دغه اقتصادي عرضې د فعالیت انګیزه د هغه فرادو او اشخاصو خصوصي ګټې تشکیلوي چې د تولیدي عواملو لرونکي دي. مګر خصوصي افراد او اشخاص د ګټې د لاس ته راوړلو له پاره، قسماً ټولنیزې اړتیاوې رفع کوي، او په دی لحاظ ټولنیزو ګټو ته هم خدمت کوي.

٦ - ارزښت:

د اقتصاد په علم کې ارزښت لاندې مفاهیم لري:

۱ - مبادلوي یا تبادلوي ارزښت: په دی معنا چې ارزښت له هغه مقدار څخه عبارت دی، چې یو بل شي سره تبادله کیږي.

۲ - د استعمال ارزښت: دغه ارزښت مفهوم زیاتره د یوشي ګټورتیا او مطلوبیت افاده کوي، یعنې دیو شي ارزښت نظر په آزادیو او اړتیاوو فرق کوي.

او په ډېر استفادوي ارزښت لري، مګر د هغه مبادلې ارزښت ډیر کم دی.

۷- عرضه:

د شیانو (امتعې) او خدماتو هغه مقدار او اندازه ده، چې په یو ټاکلي قیمت پیرودونکي (خریدار) ته وړاندې کیږي. ډیر عوامل د عرضې په ټاکنه کې دخالت لري، لکه د محصول بیه، د تولید د عواملو تأمین او د نورو شیانو بیې.

۸- تقاضا:

د ټاکلو شیانو او خدماتو هغه مقدار دی چې په ټاکلي وخت کې په ټاکلي بیه وپیرودلای شي، کله چې د یو شي بیه کمه او ټیټه شي، نو تقاضا هغه ته زیاتیږي، او کله چې د شیانو بیه لوړیږي، دهغو شیانو ته تقاضا کمیږي.

۹- تصدي یا کار ځای:

د یو تخنیکي، اقتصادي او ټولنیز واحد څخه عبارت دی چې په هغه کښې د تولید عوامل (د کارقوه، دکار وسایل، د کار مواد او اداره) سره یوځای کیږي، او په نتیجه کې د شیانو تولید سرته رسیږي، تولید لاندینې قسمونه لري:

لومړنیو موادوتولید: د نیم کاره موادو تولید اود کار تمامو ادوتولید.

۱۰- ټولنیز (اجتماعي) تولید:

د یو ملـي اقـتـصاد د شیانـو او خـدمـاتو له مجمـوعې څـخـه عبارت دی چـې، په یـو ټـاکل شـوي وخت (معـمولاً یو کال) کښـې مـنځ تـه راځي او په پیسو (پول) افاده کیږي.

۱۱- ملي شتمني او پانګه:

په یوهیواد کښې د ټولې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ پولي ارزښت په یو ټاکلي وخت او زمان کې ملي پانګه بلل کیږي.

۱۲- ملي عاید:

په یو اقتصاد کې د یو هېواد د اوسیدونکو د لاس ته راوړل شوي عوایدو مجموعه ده چې، د مختلفو تولیدي عواملو پواسطه یې تحقق موندلی، او دهغه

متشکله عناصر او اقلام عبارت دی له مزد او معاشه څخه، انفرادي خالص عاید، کرایه او اجاره، د اسهامو گټه، د سرمائې گټه، ناتقسیم شوي گټې او پرمؤسساتو باندې مالیې.

۱۳- عاید:

د اقتصاد د علم له نظره هغه پولي حاصلات یا نورې مادي گټې چې د شتمنۍ د په کار اچولو په نتیجه کې او د خدمت په اثر منځ ته راغلې وي، عاید بلل کیږي.

د محاسبې له نظره عاید د یوې تصدي یا یو شخص د ټولو پولي وارداتو څخه عبارت دی.

۱٤- سوداگري (تجارت):

د شیانو او خدماتو له پیرودلو او پلورلو څخه عبارت دی چې مخصوصاً په یوه لویه ملي او نړیواله پیمانه صورت نیسي.

۱۵- تجارتي معاملې:

سوداگر یا غیر سوداگر کسان چې منقول مالونه او شیان چې نورو ته د خرڅلاو یا اجاره ورکولو په مقصد پلوري او هغه منقول شیان د هغه په اصلي حالت یا په بل شکل تبدیلوي او هغه خرڅوي او یا یې اجاره ورکوي، د غه خرڅلاو او اجاره ورکول، د تجارتي معاملو له جملې څخه گڼل کیږي.

۱٦- سوداگر:

هر هغه شخص که افراد وي یا شرکتونه چې، د تجارتي اهلیت درلودونکي وي، او پخپل نوم یې یوه یا څو تجارتي معاملې سرته رسولې وي، او د غه دنده یې خپل دایمي پیشه او کسب گرځولې وي، سوداگر ورته ویل کیږي.

۱۷ - تجارتخانه:

تجارتخانه له هغه ځای څخه عبارت دی چې سوداګر خپل تجارتي فعالیتونه له هغه ځایه څخه اجراء کوي، او ددې غوښتونکی وي چې د هغه له ګټې څخه برخمن شي. تجارتخانه د مادي (سامان او وسایلو) او غیر مادي (د کرائی د تجدید حق، نوم او عنوان د تجارت خانې او داسې نور) عناصرو لرونکې ده.

۱۸ - مالیات او عوارض:

مالیات هغه مبلغ دی، چې خلک، شرکتونه، او مؤسسات یې له قانون سره سم د دولت د مالي بنسټ او د عمومي مخارجو د تأمین له پاره اخلي. د مالیاتو بله ستره ځانګړنه داده چې د مالیې د اندازې او د عمومي خدماتو ارزښت په منځ کښې چې مالیې ورکوونکی له هغه څخه برخمن کیږي دوه اړخیزه رابطه وجود نلري.

۱۹ - بیه (قیمت):

بیه یا قیمت، پولي جنبې یا د امتعی (شیانو) یو مقدار چې د هغې په مقابل کې د بلې امتعې یو واحد مبادله کیدای شي. قیمت د یو شی (متاع) د اساسي خصوصیت او د شیانو ذاتي ارزښت بیانوونکی دی. بیلا بیلو شیانو د قیمت ټاکل په اقتصاد کښې، د بازارونو په چوکاټ او محدوده کې ترسره کیږي.

د قیمت په ټاکلو کې د تولید لګښتونه، ضرورتونه او بازار اغیز لري.

۲۰ - سود، منفعت او ګټه:

د نظري اقتصاد د علم په اصطلاح کې د یوې تصدی د عوایدو د پاتې برخه ده، د سرمائې د ګټې د تادیې، د ځمکې اجاره او د کار مزده څخه وروسته چې کار فرما پورې تعلق نیسي. د محاسبې په اصطلاح کې سود یا منفعت د پانګې زیاتوالی د یوې تصدې د فعالیت په نتیجه کښې ده.

خالصه ګټه (نفع) د خرڅلاو د قیمت او د مالیې د عوارضو دور کړې (تادیی) په منځ کې له تفاوت څخه عبارت دی.

۲۱ - سبسايدي:

تولیدنکي او مصرف کوونکي ته هغه بلا عوض کمکونه دي، چې د قیمتونو د سطحې د ټیټ ساتلو یا د یو ټاکلي شي د تولید د جریان ساتلو او خوندي کولو له پاره ورکول کیږي.

۲۲ - د سهام بازار:

هغه بازار یا مارکیټ چې په هغه کښې بیه لرونکي پانګې پلورل کیږي او خرڅیږي، د سهام بازار نومیږي. د نړۍ په ډیرو هیوادونو کښې، مخصوصاً په پرمخ تللي صنعتي هیوادونو کښې بورس او بازار ډیر اهمیت لري. د بازار او بورس اهمیت په دې کښې دی، چې د پس انداز او پانګې اچولو عملونه آسانه کوي. یعنې له یوې خوا د پانګې اچولو امکان منځ ته راوړي او له بلې خوا، د سهمونو په عرض سره د ضرورت وړ سرمایه برابروي، او برسېره پردې، خصوصي پس اندازونه (سپما) په مولدو پانګې اچونې کې په کار اچوي.

۲۳ - ثروت، پانګه او مال:

د مختلفو شتمنیو د اقسامو زیرمې چې د هر اقتصادي واحد له خوا ساتل کیږي، د هغه د درلودونکي له پاره عاید ایجاد وي او یا د عاید د ایجادولو ظرفیت لري. شتمني کولای شي ځانته مختلف شکلونه ونیسي، لکه نقدې پیسې، بانکي امانت، پور (قرضه)، سهمونه او داسې نور د مالي شتمنۍ ډولونه.

۲٤ - د بهرې نرخ او حاصل:

د پیسې (پول) په خدمت کې نیولو بیه، د پیسو د یو ټاکلي مبلغ یوه برخه چې د یو ټاکلې (معینې) دورې له پاره چې د یو لاس ته راوړل شوي پور (قرضې) په مقابل کې ورکول کیږي.

د ګټې نرخ په واقعیت کې د قرضې (پور) لاس ته راوړلو قیمت دی چې په پور اخستونکي یې ورکوي. په همدې اساس د ګټې نرخ هغه عامل دی چې د پیسو

انتقال د پور اخستونکی او پور ورکوونکي تر منځ آسانه کوي، په دې قسم چې پور اخستونکی د پوريا قرضی د لاس ته راوړلو او هغه رضايت چې لاس ته راوړل شي مبلغ ده ته ايجادوي، د غه ګټه او حاصل د پيسې خاوند ته ورکوي، په مقابل کې پور ورکوونکی د خپلوتاديه شويو پيسو په مقابل کې د يو ټاکل دوری د پاره مکافات لاس ته راوړي چې هغی ته د حاصل نرخ وائي.

۲۵ - توليد:

هغه فعاليتونو ته چې په وروستني تحليل کښې د مطلوبو شيانو يا خدمتونو لاس ته راوستلو سبب ګرځي، توليد ويل کيږي، توليد د اړتياوو سره سم صورت نيسي، په دې شکل چې توليد شوی محصول کولای شي د انسان داړتيا وو يوه برخه رفع او له مينځه يوسي.

۲٦ - پلان، برنامه او طرح:

پلان عبارت له هغې وسيلې څخه دی چې، د هغه پواسطه د توليد عوامل (ځمکه، کار او سرمايه) او (د کار وسايل، د کار مواد، د کار قوه او اداره) د هغو هدفونو له پاره چې مخکې ديو ارګان (دولت) له خوا ټاکل شوي دي په کار اچول کيږي.

پلان ديو اقتصادي تصميمګرۍ مرکز د نوښتونو، برنامو او طرحو د ملي يا تصدی اقتصاد په سطحه يوه مجموعه ده، په دې حالت کولای شو په مختلفو سطحو د پلان طرحې ته اقدام وکړو.

په يو پلان کښې ټول هدفونه او قدامونه ياد داشت، او ممکنه وسايل د اهدافو د سرته رسولو له پاره په نظر کې نيول کيږي.

۲۷ - د سراني عايد:

د سراني عايد په يوه زماني دوره کښې د يو هيواد د ملي عايد تقسيمولو څخه د نفوسو پر تعداد باندې لاس ته راځي.

۲۸- پیسې:

پیسې یوه عامه منل شوې وسیله د راکړې او ورکړې (تبادلې) د تادیې، د شیانو د ارزښت تاکل او حسابي واحد په منظور وي.

پول یو قانوني طلب دی او د دغه طلب همیش د فعالیدو لرونکی دی. د فعالیدو څخه هدف په اجتماعي محصول باندې د کمي او کیفي له نظره قانوني طلب څخه دی. پیسې (پول) د تبادلې د وسیلې، د ارزښت معیار، د ذخیرې وسیله، او د ارزښت د ساتلو وسیله پیژندل شوی دی.

۲۹- بانک:

بانک یوه عامه صطلاح ده، چې په مختلفو اشکالو فعالیت لري، چې زیاتره د امانت اینبودلو، تنزیل، پانګه اچونه، پور ورکول، د بانکنوټونو خپرونه، او د رنګارنګ خدمتونه ترسره کول په غاړه لري.

۳۰- تنزیل:

هغه مبلغ دی چې د یو پور څخه یا د یوې حوالې څخه د ژر تادیه کولو په نسبت وضعه کیږي، او یا هغه مبلغ چې د تجارت سند لکه حجت او داسې نورو د پولې قیمت څخه مخکښې لاس ته راځي، اخیستل کیږي (د وجهي قیمت او د بازار قیمت تر منځ تفاوت). چې عمدتاً بانکونه او مشابه مؤسسې دا رنګ معاملې سرته رسوي.

۳۱- د پیسې (پول) شبه:

هغه شتمنې او دارائي چې لکه د پیسې په شان کولای شي د ارزښت د ساتلو د معیار په نوم ور څخه استفاده وشي، د پول (پیسې) شبه بلل کیږي. باید وویل شي چې ددې څخه د مبادلو د سهولت ورکوونکي عامل په توګه استفاده نشو کولای، لکه د قرضې د اسنادو پانې، د پس انداز د حسابونو ډولونه، چې دا رنګې شتمنۍ په اسانۍ د پیسو (پول) سره د تبدیل وړ دي.

۳۲- شرکت:

شرکت عبارت د هغه قرار داده څخه دی، چې د هغه پواسطه دوه يا څو کسه موافقه وکړي، چې يو شی په ګډه تر عمل لاندی ونيسي، يو شمير هدفونه تعقيب او هغه ګټه چې د هغې څخه لاس ته راځي، په خپل منځ کې وويشي.

۳۳- تعاوني شرکت:

هغه شرکت چې د غړيو او شريکانو په پانګه منځ ته راغلي وی، او ګټه يې د مالي ذخائرو د پاره د مصارفو او مبالغو د کسر په پام کې نيولو څخه وروسته، د غړو او برخه والو په منځ کې ويشل کيږي.

۳٤- څو ملتي شرکتونه:

د هغه شرکت يا د توليدی واحدونو مجموعه چې، د نړۍ په يو تعداد زياتو هيوادونو کې او د مختلفو شيانو په توليد او خدماتو کې د خپل هيواد څخه بهر کار او فعاليت کوي، څو ملتي شرکتونه بلل کيږي. دا رنګه شرکتونه لږ تر لږ ۲۵ فيصده خپل توليد په نورو هيوادونو کې سرته رسوي.

۳۵- انحصار:

هغه بازار دی، چې په هغه کې يو عرضه کوونکی او يا توليدونکی وجود ولري. انحصاري بازار د درې اصلي ځانګړتياوې لري:

لومړی - په توليدکنبې د تصديو مشارکت اصلي انګيزه، ګټه ده.

دويم- بل توليدونکی وجود نلري.

دريم- توليدونکی د بيې ټاکوونکی هم دی.

۳٦- د پيسو عرضه:

په يو اقتصاد کې د نقدي شتمنۍ مجموعه ده، چې کولای شو هغوی په ضروري شيانو او خدمتونو تبديل کړو، نه يوازې پيسې، بلکه امانتونه، حوالې او کريدتي سندونه هم په هغه کې شامل دي.

۳۷- د پیسو بازار:

هغه مالي مؤسسې دي چې په هغه کې د لنډ وخت بیه لرونکې پاڼې، د لنډې مودې پورونه د سره زر (طلا) پیرودل او رانیول او د اسعارو مبادله سرته رسیږي.

۳۸- پولي سیاست:

د مرکزي دولت سیاستونه، چې د مرکزي بانک له لارې د موجودو پیسي مقدار په اقتصاد کې، د بهرې نرخ، د داخلي پیسې (پول) د مبادلې نرخ د خارجي اسعارو په مقابل کې سرته رسیږي، پولي سیاستونه بلل کیږي.

۳۹- د پولي سیاستونو هدفونه:

د پولي سیاستونو اهداف د ماکرو یالوی اقتصاد د اهدافو مجموعه احتوا کوي. دغه هدفونه عبارت دي له: د اقتصاد دوامدار وده، د پیسو د رانیولو (خرید) د قدرت ثبات، د تادیاتو د بیلانس تعادل ایجادول، د بیو د سطحې ثبات، او بالاخره د پانګې آچونې پر سطح نفوذ.

٤۰- پولي پایه:

په یو اقتصاد کښې نقدي مالي زیرمې دي، چې معمولاً د کاغذي او مسکو کو پیسو په شکل په دوران کې وي.

٤۱- تجارتي بانکونه:

تجارتي بانکونه هغه مؤسسې دي، چې مختلف مالي خدمتونه سرته رسوي، لکه د مبادلې حوالې، د برات سندونه قبلول او منل، طلباتو نقدول، پور ورکول، د بیې لرونکي پاڼو سهمونه او قرضي نشرول، خرڅول او پېرودل، او په پای کښې د بانکي خدمتونو یوه برخه سرته رسول، چې ځینې وخت دغه بانکونه مؤسسو ته پولي پورونه هم ورکوي.

۴۲- بازار موندنه:

په کلي توګه، خرڅلاو، توزیع، تبلیغات، د خرڅلاو تشویق، د تولید پلانګذارۍ عملیاتو او فعالیتونو ته بازاریابي وایي. یا په بل عبارت بازار یابي هغو عملیاتو ته ویل کیږي، چې مستقیماً مصرف کوونکي او دقیقه ارزیابي د بازار د ضرورتونو څخه او دغه ضرورتونو انعکاس تولیدی مرکزو ته ترسره کوي.

۴۳- نړیواله سوداګري:

د یو هیواد او نور نړیوالو هیوادو په منځ کې د شیانو او خدمتو تبادله ده. ددې مبادلې د برقرارولو دلیل د نړۍ د مختلفو هیوادو په منځ کې د بیلابیلو شیانو او خدمتو د تولید او مصرف توپیر دی. برسیره پردې د اقتصادي سوکالۍ زیاتوالی په هر هیواد کې د تنوع د ایجاد او لاس ته راوړلو له لارې په موجوده شیانو او خدماتو د لګښت دپاره دی.

۴۴- بیمه:

هغه قرارداد دی چې د هغه پر اساس بیمه شوی د یو ټاکلي مبلغ په مقابل کې بیمه کوونکي ته، خپله پانګه د غیر مترقبه حوادثو په مقابل کې بیمه کوي، او بیمه کوونکی وعده کوي چې د حادثې د واقع کیدو په صورت کښې یوه برخه یا د بیمه شویو ټول ادعا شوی مبلغ د لومړي قرارداد په اساس، چې د دواړو خواوو په منځ کښې عقد شوی دی، تادیه کوي.

۴۵- پړسوب (تورم):

د تورم په دوره کې، قیمتونه لوړیږي، او د پیسو واقعي ارزښت کمیږي، په حاد تورم کې قیمتونه په چټکتیا سره لوړیږي او د پیسو ارزښت په شدت سره کمیږي، چې په دې حالت کښې به جنسي مبادلې د بازار ډیرې ښې مبادلې وي.

۴۶- پانګه (سرمایه):

پانګه یا سرمایه د تولید له مهمو عواملو څخه دی، او له هغه شتمنۍ څخه متشکله ده، چې د هغه څخه عاید لاس ته راځي او په پولي حساب افاده کیږي.

معمولاً د پانګې (سرمايې) اصطلاح د سرمايوي اموالو سره په مترادفه توګه استعماليږي. ځنې وخت پانګه په پولي پانګه او تملکي پانګه تشخېص کيږي. د پولي پانګې اندازه د سرمايې هغه برخه ده چې د پول يا بانکي امانت په شکل ساتل شوې وي. او تملکي سرمايه، د سرمايې هغه برخه ده، چې د تملک د سند په شکل، لکه سهمونه، دګروي او قرضې سندونه موجوده وي.

په محاسبه کې پانګه (سرمايه) هغه مبلغ ته وايي چې، په يو کسب او کار کښې پانګې اچونې شوې وي، په اقتصادي تيورۍ کښې، سرمايوي مالونه، هغه توليدي اجناس دي، چې د زيات توليد يا دنوي توليد له پاره په کار اچول کيږي.

٤٧ - پانګه اچونه:

د پيسو (پول) تبديلولو هغه رنګ ملکيت ته، چې دوام ولري او ګټور وي، لکه د قرضې د سندونو او نور ملکيتونه پلورل، چې اميد کيږي، اصل يې مصئون او رضايت بخشه عايد ترې په لاس راځي. په اقتصادي نظريو کښې د پانګې اچولو څخه مقصد د پولي پانګې څخه په استفادي سره توليدي وسايل لاس ته راوړل دي، او د خرڅلاوړ مالونه هم په برکښې نيسي. په بل عبارت پانګه اچونه، په واقعي توګه پانګې ثبات، لکه توليد يا تعمير، ماشين او آلات، او ساختمانونه جوړول دي، او دشيانو او کاليو د تمرکز بيانوونکي دي، چې پخپله مختلف شيان (امتعه) او خدمات دوروستنيو لګښتونو له پاره تأمينوي.

٤٨ - پولي انقباض (ډيفلاسيون):

د ډيفلاسيون څخه هدف د قيمتونو د سطحې ټيټيدل دي، او دا حالت هغه وخت کې منځ ته راځي، چې د پيسو (پول) حجم او اندازه د عرضه شوي اجناسو او خدماتو په نسبت په يوملي اقتصاد کښې لږه وي، او يا د ځينو علتونو په اساس په لګښت کې لږوالی راغلی وي، او په دې حالت کې د پيسې د دوران چټکتيا کمه شوې وي، او ډيفلاسيوني حالت منځ ته راځي.

٤٩ - صادرات:

هغه شيان او خدمت دي، چې په يو هېوادا کښې د خرڅلاو د پاره د نورو هيوادونو په بازارونو کښې توليديږي، او د صادراتي شيانو، صادرونکی هېواد نورشيان او خدمات، سره زريا اسعار لاس ته راوړي.

۵۰ - واردات:

واردات عبارت دی د سوداګرۍ د مال را نيول له باندنيو هيوادو څخه او يا هغه شيان چې له بهر څخه هيواد ته راځي، او يا په بل عبارت د يو هيواد توليدي او خدماتي شيانو جريان بل هيواد ته د مصرف او کار اخيستلو په منظور واردات بلل کيږي. په اوسني وخت کې د نړۍ هيوادونه تر زياتې اندازې پورې په نورو هيوادونو کې توليد او ايجاد شوي شيان (مالونه) او خدمات مصرفوي.

۵۱ - ناخالصه ملي توليد:

د داخلي ناخالصه توليد مجموعه او ټول عوايد چې د هيواد د اوسيدونکو د اتباعو د پانګې اچونې څخه په خارج کې او هم ټول عوايد چې د نورو هيوادونو د اوسيدونکو (اتباعو) د پانګې آچونې په نتيجه کې په مورد نظر هيواد کې لاس ته راځي، ناخالصه ملي توليد تشکيلوي.

۵۲ - مالي سياست:

هغه سياست چې حکومت د اداري او يقيني معاملو د ماليې ورکولو، عامه قرضه، پيسې، تخصيصي، او عامه لګښتونه، د دغسې فعاليتونو تاثير په کسب او کار او ملي اقتصاد په ارتباط ايجادوي، د مالي سياست په نامه ياديږي.

۵۳ - اقتصادي بسيا کيدنه:

د مناسبو سياستونو او تدبيرونو اتخاذ، اقتصادي خود کفائی هدف ته د رسيدو په مقصد په هغه صورت کې چې يو هيواد وکولای شي، د خپل اړتياوو يوه لويه برخه په هيواد کې دننه، او له داخلي امکاناتو څخه په استفادې سره توليد کړي.

٥٤ - اقتصادي سياست:

دغه موضوع په کلي توگه د دولت په دخالت د ټول اقتصاد د اصلي اهدافو په لاس ته راوړنه اطلاق کيږي. د اقتصادي سياستونو کلي اهداف له لاندينو موضوعاتو څخه عبارت دي: د اقتصاد دوامداره وده، د قيمتونو د سطحې تثبيت، د پيرودلو د قدرت ساتنه، په اقتصاد کې د بشپړ برلاسي ايجادول، او په پای کې د شتمنيو د عوايدو مطلوبه توزيع او وېش.

٥٥ - اقتصادي پرمختگ:

اقتصادي پرمختگ د ننني او باندينيو (دروني او بېروني) عواملو څخه په استفادې سره؛ له اقتصادي ترقۍ او تکامل څخه عبارت دی.

له اقتصادي پرمختگ څخه هدف، له اقتصادي ودې څخه برخمن او مستفيد کيدل، او هغه رضامندي ده، چې د اقتصادي او ټولنيزې ودې او پرمختگ څخه لاس ته راغلي ده.

٥٦ - کريدت، اعتبار:

د شيانو (مالونو)، د خدماتو مالکيت، بې له سمدلاسه او فوري پرداخته او په آينده کې د استفادې حق ورکول کريدت نوميږي.

٥٧ - لگښت:

د شيانو او خدمتونو په کارولو د انسان د غوښتنو د رفع کولو، يا په بل عبارت له موجوده منابعو څخه د اوسني او جاريه اړتياوو د رفع کولو په منظور استفاده کول لگښت بلل کيږي.

د احصائيې له نقطه نظره د کورنيو، خصوصي شرکتونو او بالاخره جاري مخارجو د ټولو مصارفو څخه، د عمومي برخې جاري مخارج لاس ته راځي.

د عايد او مصرف په منځ کې رابطه دا رنگه ده چې، که څومره عايد زيات شي لگښت هم زياتيږي.

۵۸ - چک:

چک یوه لیکلې حواله ده، چې معمولاً په بانک کې د یو امانت ایښودونکي له خوا صادریږي، او بانک ته اجازه ورکوي چې یو ټاکلي مبلغ هغه شخص ته چې په نوموړې حواله کې یې نوم لیکل شوي وي، ورکړي.

۵۹ - چکي اعتبار:

یو له هغو خدماتو څخه دی، چې ځینې بانکونه یې د مشتریانو له پاره برابروی، په دې معنی چې یو مبلغ د کریدت (اعتبار) په نوم د مشتري له پاره تعینوي، او مشتري د چک په ایستلو، له دې حساب څخه کله کله برداشت کوي او په ټاکل شوې توگه دوخت او زمان له نظره، خپله قرضه بانک ته مجدداً تادیه کوي.

۶۰ - اعتباري امانتونه، چکي پیسې:

هغه پور چې یو بانک امانت ایښودونکی ته د یو مبلغ د زیاتولو په وسیله د هغه دارائي په حساب کې بانک ته ورکوي، او بیا نوموړی مشتري د چک په اهداکولو سره له هغې څخه گټه اخلي.

۶۱ - د چک په وسیله معامله:

هغه روش چې د هغه په اساس یو شرکت چک یا یو د اعتبار سند خرڅوي او پیرودونکی موافقه کوي، د قسطونو او دهغې د حاصل (بهرې) په منظمه تادیه او پرداخت، خپل طلب لاس ته راوړي، او له بلې خوا څخه پیرودونکی (خریدار) خپل چک په ټاکلو خرڅلاوځایونو کښې په شیانو (کالیو) تبدیلوي.

۶۲ - بودجه:

بودجه په واقعیت کې دعوایدو او لگښتونو براورد دی د وروستۍ او راتلونکی دورې له پاره، نو ځکه بودجه د جاري حسابونو د ساتنې وظیفه په غاړه نه لري، بلکې دعوایدو د حاصلولو او مصرف طرح او پلان په آینده کې وړاندې کوي.

٦۳- د قرضي سند:

د قرضي پاڼې ديو ډول بيې لرونکې ځانګړې پاڼې دي چې، د بهرى (حاصل) په ثابت نرخ، د مرکزي دولت، يا محلي دولتونو، شرکتونو، بانکونو، او نورو مؤسسو له خوا نشريږي.

٦٤- تجارتي بيه لرونکې پاڼې:

د لنډې مودې د تبادلې ورځني مختلف سندونه چې، د پيسو (پول) يو ټاکلي مبلغ تاديه کولو تعهد په يو ټاکلي او معين مدت او ځاى کوي، لکه حجت، تجارتي حوالې، تجارتي قبولي ګانې او داسې نور، چې د انتفاعي مؤسسو او شرکتونو له خوا صادريږي. په بانکدارۍ کې هغې قرضې چې د مالونو او شيانو د خريدارۍ په معاملو کې منځ ته راځي، په بيه لرونکو پاڼو کې شامليږي.

٦٥- بانکي قرضې:

بانکي قرضې هغه پېسې دي، چې تجارتي بانکونه يې د يوې مشخصې زمانې دورې له پاره د تجارتي او اقتصادي او همدارنګه ساختماني فعاليتو له پاره خپلو مشتريانو ته ورکوي.

٦٦- پشتوانه، د کاغذي پيسو پشتوانه:

هغه اندازه سرزر، اسعار او بيه لرونکي سندونه چې له قانون سره سم يو مرکزي بانک د کاغذي پيسو په مقابل کښې بايد ولري. هرکله چې يوه برخه د خپروشويو کاغذي پيسو (بانکنوټونو) د سره زرو پشتوانه ونلري، هغه ته اعتباري پيسې وائي.

٦٧- پس انداز:

د پس انداز اصطلاح په لاندنيو معناوو او مفهومونو په کاروَل کيږي:

۱- د پيسو يا مادي اجناسو د زېرمه کولو عمل د راتلونکې استفادې لپاره.

٢- د پیسو جریان یا هغه منابع چې په ټاکلي مدت او زمان کښې د دغسې عملیې پواسطه تولیږي.

٣- د سپما (صرفه جوئي) کولو عمل د منابعو د استفادې په طرز او روش کې او د منابعو اقتصادي ساتنه او څارنه.

٤- هغه منابع چې د سپما (صرفه جوئیې) او ساتنې او څارنې په اثر منځ ته راغلې وي. د اقتصاد په علم کې زیاتره پس اندازونه د پیسو (پول) په شکل د توجه وړ واقع کیږي.

٦٨- د تادیاتو بیلنس ،د پرداختونو ترازو:

د یو هیواد مجموعي تادیات باندنیو هیوادونو او د باندنیو (خارجي) هیوادونو د تادیاتو مجموعي ته په یو ټاکلي وخت کښې د تادیاتو بیلانس وائي. په حقیقت کې دغه بیلانس له خارجه سره د راکړې او ورکړې معاملو یوه لنډ فهرست دی چې، په پیسو ښودل کیږي.

دغه ورکړه او راکړه عبارت د سره زر، ټول مال التجاره او خدمات لکه کرایه او تادیات، د انتقالاتو لګښتونه، پانګې، قرضې او د هغې دربحې پرداخت دی. د یو هیواد د تادیاتو بیلانس یوه برخه ، له یو یا څو هیوادونو سره د هغه د اقتصادي رابطو محدوده دی، او یادا چې د هغه اقتصادي اړیکی د ټولې نړۍ سره دي.

٦٩- د تجارت بیلانس، د تجارت تله :

د صادراتو د مجموعي ارزښت، د یو هیواد د وارداتو د ارزښت په مقایسې سره دی، همدارنګه د یو ملي اقتصاد دوارداتو او صادراتو د پولي ارزښت په منځ کښې تفاوت ته د تجارت بیلانس وائي.

٧٠- بیلانس:

د بانګو او ورکړو یو لنډ فهرست په یو ټاکلي تاریخ کښې چې خلص کسر یا زیاتوالی هم ښیي.

په محاسبه کښې د حساب باقي په معنی استعمالیږي.

۷۱- بشپړ د سيالي (رقابت):

د مختلفو صنايعو د جوړښت نمونه په يو اقتصاد کې، چې له هره جهته د يوشي د عرضه کوونکي يو زيات تعداد دېو او بل سره رقابت لري. د کامل رقابت بازار د مشخصو خصوصيتونو لرونکی دی چې هغه عبارت دی له:

۱- په هر صنعت کې تو تعداد زياتې کوچنۍ تصدۍ فعاليت لري، او د هغه د هريو سود هغه وخت زياتيږي، چې د تصدي د نهائي لګښتونو او يا قيمت معادل وي، د کوچنيو تصديو د ابعادو په علت او د هغه زياتوالی، تصدي ګانې به نشي کولی، چې د بازار پر قيمت تاثير واچوي.

۲- د ټولو تصديو هدف - د هغوی د ګټې زياتوالی دی.

۳- تصديګانې کولای شی، بی له دې چې لګښتونه وزغمي، په ټاکل شوي صنعت کې داخل او يا له هغه څخه خارج شي.

٤- د معاملې وړ شيان (مالونه) يوشان او مشابه دي.

۷۲- اجاره:

د يو شخصي ملکيت د تصرف په منظور قرار داد دی. دغه قرار داد ممکن دی په مؤقتی توګه د يو ټاکلي وخت له پاره وي، يا د اجاره کوونکي د ټول عمر له پاره وي.

۷۳- استخدام:

استخدام د توليد د عواملو د په کار اچولو مفهوم لری، چې د ملي عايد او اجتماعي محصول د ايجادولو سبب ګرځي. برسيره پردې مصروفيت او اشتغال په يوه دنده او مسلک، او همدارنګه په کسب او کار کې هم استخدام ګڼل کيدای شي.

۷٤- اقتصادي عمومي اهداف:

اقتصادي عمومي اهداف، د لنډې مودې اهدافو (دا ستخدام د سطحې لوړول، د پيسو د ارزښت ثبات، د تاديا تو د بيلانس توازن)، او اوږدې مودې اهداف (اقتصادي انکشاف، د منابعو څخه معقوله استفاده، د عايدعادلانه ويش، او د کار د ساعتونو کموالی، د فراغت د ساعتونو زياتوالي) څخه عبارت دی.

۷۵- کار:

د انسان له فکري او جسمي فعالیت څخه عبارت دي چې د اړتیا وو د له منځه وړلو او د عوایدو دلاس ته راوړلو له پاره سرته رسیږي. کار د یو ځواک په توګه له جسمي او فکري استعداد څخه د استفادوی ارزښت د ایجادولو په غرض تعریف شوی دی. د کار عاید د کار د مزد یا اجورې په نوم یادیږي.

۷٦- تولیدي ظرفیت:

په یو ټاکلي وخت کې د وسایلو د تولیدي قوې د کمیت او کیفیت له نظره تولیدي ظرفیت بلل کیږي. څرنګه چې په هره تولیدي پروسه کې یوه اندازه پیسې مصرفیږي، نو ځکه د هغه د ګټې ربح او د وسایلو د فرسایش مبلغ، پر تمام شوي لګښت باندې اغیزه لري.

۷۷- برات:

عبارت له هغه سنده څخه دی چې، د هغه په اساس یو سړی بل سړي ته دستور ورکوي چې د هغه په رویت تریو ټاکلي او معین وخته د دریم ګړي سړي په وجه، یا د هغه پر حواله کې ټاکلي مبلغ ورکړي.

۷۸- تجارتي حجت:

تجارتي حجت له هغه سنده څخه عبارت دی چې، د هغه پواسطه لاس-لیک کوونکی د هغه پرځای چې دوجهې پرداخت ټاکلي موده د رسیدو سره سم دریم ګړي ته ورکړي، پخپله تعهد کوي.

۷۹- پروژه:

پروژه عبارت د فعالیت یا د اقتصادي فعالیتونو مجموعه ده چې، د یو واحد په حیث، پلانګذاري، تمویل او د هغه تطبیق له یوې خوا څخه لګښتونه ایجابوي، او له بلې خوا د هغه څخه د حاصل توقع هم کیږي. یوه پروژه د اقتصادي فعالیتونو مجموعه ده، په یو ټاکلي وخت کې، د یو مشخص مقصد او یا مقصدونو څخه، د یو یا څو مخصوصو هدفونو ته د رسیدو په خاطر شروع، او په یوه مشخصه دوره کې پای ته رسیږي.

۸۰- امانت:

امانت په اقتصاد کې عموماً د شیانو، پیسو او یا د نورو مشخصو اموالو او شیانو انتقال ته وایي، چې له یو شخص څخه بل شخص ته، د قرار داد په اساس او د ساتنې یا بل کوم مشخص مقصد او هدف په منظور صورت نیسي.

۸۱- د لنډې مودې امانتونه، لنډمدته سپارل شوی:

هغه امانتونه چې د لنډې مودې مخکینۍ خبرتیا په اساس اخیستل کیدای شي.

۸۲- میعادي امانتونه:

هغه امانتونه چې د پس انداز په بانکونو کې اینښودل کیږي، او د هغه ترلاسه کول په یو ټاکلي شوي وخت کې مخکینۍ خبرتیا ایجابوي.

۸۳- بانکي امانت، بانکي سپارل شوې:

د پیسو د یو ټاکلي مبلغ د اخیستو حق له یوه بانکه څخه، چې دغه حق د پیسو د معادل مبلغ یا نورې اسعارې یا بانکي قرضې د مخکینۍ تادیې په اثر ایجاد شوې وي، دغه حق او د هغه معادل پیسې بانکي امانت بلل کیږي.

۸٤- ګټه، ربح، ټکټ پولي:

هغه مبلغ دی چې د سرمایې د استعمال په عوض تادیه او حسابیږي، دغه مبلغ معمولاً د نرخ یا د سرمایې د فیصدي د حساب له رویه مطرح کیږي.

۸۵- اقتصادي نظام، اقتصادي سیستم:

د اقتصادي ژوند له ماهیته څخه عبارت دی، په ځانګړې توګه د طرز تملک ، د ملکیت استعمال او د کنترول حدود او د حکومت د مداخلې له لحاظه.

۸٦- د جاري حساب قرضه:

دا قرضه د بانک له مروجې قرضې څخه شمیرل کیږي، چې تجارت او صنایعو ته ورکول کیږي او په نننیو معاصرو اقتصادي معاملو کښې ورڅخه زیاته استفاده کیږي.

دریم څپرکی:

د اقتصادي نظریاتو تاریخي بهیر

د لرغوني دورې اقتصادي پیش بیني او نظریې:

د انساني او بشري تمدنونو د منځ ته راتلو په پیل کې، اقتصادي فعالیتونه له هغې سره موجود وو، او انسان د خپلو ټولنیزو مسئلو په سرته رسولو کې، ځینې عامې اقتصادي قانونمندۍ مراعت کړې دي.

په تیرو زمانو کې، اقتصادي قوانین د دین او اخلاقو د اصولو جزءوو، او ټولنیز قوانین د دې ارزښتونو پرېنسټ تنظیم شوي وو.

له میلاد څخه مخکښې په څلورمې او پنځمې پیړیو کې، د یونان ښارونه د نړۍ د نورو ځایونو او سیمو څخه آباد وو، او تبادله، تجارت او د بحرونو کشف د یونان په ټولنه کې د یو لړ اقتصادي فعالیتونو سبب وګرځید.

د اقتصاد په هکله د لرغونو یونانیانو مفکوره له دې کبله د اهمیت وړ ده چې، د اقتصاد اصطلاح پخپل ځانګړي مفهوم په لرغوني دوران کې او د لومړي ځل له پاره د یوناني فیلسوفانو، لکه ارسطو او افلاطون د استفادې او څیړنې وړ وګرځیده. په لرغوني یونان کښې سره له دې چې تجارتي فعالیتونو ښه رونق درلود، مګر کورنۍ د اقتصادي واحد (یا د اقتصادي فعالیتونو د مرکز) په حیث ګڼل کیده، له همدې سببه ارسطو اقتصاد «د تدبیر منزل» یا «د کور مدیریت» په توګه تعریف او په دې عقیده وچې اقتصاد په غیر د کور له مدیریت نه بل شي نه دی، په دې وخت کې د اقتصادي فعالیتونو اندازه زیاتره په کرهنه متمرکز وه، په داسې حال کې چې په ښارونو کې د شیانو تولید او د هغه منظمه مبادله په بازارونو کې، د سوداګرو د طبقې پواسطه ترسره کیده.

افلاطون او ارسطو مجلله ژوند او ثروت ټولول محکومول، او په دې عقیده وو، چې پانګه د فساد عامل دی، او هغوی سود (ربح) هم رداوه، د هغوی په نظر کرهنه مولد، او زراعتي تولیدی فعالیتونه یې تأئیدول او د هغې ملاتړ یې کاوه. په منځنیو پیړیو کې هم اقتصادي څېړنو محدوده ساحه اولمن درلوده، او په همدغو کې اقتصادي بحثونه د کلیسا د معیارونو په شاوخوا کې روان وو، په همدی اساس اقتصادي بحثونو زیاتره د اقتصادي مسئلو اخلاقي اړخ په برکښبی نیوه.

د اسلام د مقدس دین په منځ ته راتللو او اسلامي تمدن په خپریدلو، د اقتصاد په ساحه کې اغیزې پرېښودې، او اسلامي طرز تفکر د یووالي او پیوستون په اساس د ټولنې د افرادو په منځ کې د مسلمانانو ژوند ته قدرت خوځونکی ځواک وبابښه، او په ډیرو ساحو کې په موندنو او تحقیقونو بریالي شول، په ریاضیاتو او طبیعي علومو کې یې لوی پرمختګونه وکړل، اسلامي پوهانو د اقتصادي مسئلو په هکله او د معاملو په تنظیمولو کې، زیات کتابونه ولیکل.

اسلام په منځني ختیځ، منځنۍ آسیا او افریقا کې د لویو او قوي مدنیتونو بنسټ ایښودونکی شو، او د اروپایانو د افکارو په ویښولو کې یې ډیر لوړ او څرګند رول ولوباوه. اسلامي پوهانو لکه: فارابي، ابن رشد، ابن سینا او غزالي د پخوانیو او لرغونو یونانیانو فکري اصول اروپایانو ته انتقال کړل.

د اسلام مقدس دین پیدا ښت او د اسلامي فلسفې ودې د کتنی وړ اغیز د منځنیو پیړیو په طرز تفکر باندې پرېښودې.

د زمانې په تیریدو سره ټولنیز او اقتصاد بدلون او تحول په اروپا کې، د تجدد دور صورت وموند او د اقتصاد له نظره د دولسمې پیړۍ څخه وروسته په ایتالیا کې، وروروسته د اروپا په مرکز او شمالي هیوادونو کې، تجاران، صرافان او پیشه وران بریالي شول، ترڅو لازمه نفوذ او اقتدار په ټولنه د ځمکه والو په ځای لاس ته راوړي. په پنځه لسمه پیړۍ کې د اروپا پانګوالې حلقې په اقتصادي او سیاسي

ژوندانه کې لازم قدرت لاس ته راوړ ، د ختیځ اسلامي تمدن سره آشنا شول ، او د سرو زرو او سپینو زرو نویو زیرمه ایزو منابعو ته د امریکا د قارې د کشفولو له لارې څخه لاس ورسید ، چې دغو عواملو نوی افق د اروپائیانو له پاره خلاص کړ.

د رنسانس په دوران کې د خلکو اقتصادي وضع ښه او بهتره شوه ، لوی ښارونه منځ ته راغلل ، او ښاري ژوند پراختیا وموندل ، د بحري انکشاف او د حمل او نقل پراختیا د سفرونو امکان نورو ځایو ته ممکن وګرځاوه ، او د اجتماعي او اقتصادي له نظره ټولنې د پرمختګ لاره ووهله. بالاخره د متمرکزو دولتونو له ایجاده سره ، د دولت د قدرت د زیاتوالي په خاطر ، د مالیاتو ورکول د دولته څخه د مالیاتو په منظور ، د مقتدرو استعماري دولتونو د را مینځته کیدو له پاره لارې چارې برابرې کړې او په دې لړ کې د سوداګرانو مکتب په اروپا کې منځ ته راغی.

تجارتي مکتب (Mercantilism):

د پنځلسمی او شپاړلسمی پیړی تغیراتو ، بدلونونو او جغرافیائي اکتشافاتو په نتیجه کې او د دې امکاناتو منځ ته راتلل چې په لویدیځ کې د لمړنیو موادو منابعو ته لاس پیدا کړی. تجارتي روابط اوراکړی او ورکړی په واسطه او پیسو څخه کار اخیستل په اقتصادي روابطو کې ، په امریکا کې د سرو زرود ذخائرو کشف ، د تجارت حجم او اندازه په بهر کې زیاته کړه ، له بلې خوا څخه د دولتونو قدرت څرګندولو او د عصري اسلحی استعمال په جنګونو کې او د هغوی بریالیتوب ، د مستعمراتو او استعماري سیاستونو د منځ ته راتګ له پاره زمینه برابره کړه.

له دې تحولاتو سره سم اقتصادي فعالیتونه چې تر پنځه لسمې پیړی پورې په اروپا کې د مذهبی او اخلاقی اصولو ته تابع وو ، تغیر وموند او د کسب او تجارت او مادي شتمنۍ او دلوړ ارزښت لرونکی فلزاتو ، لکه سره زراو ، سپین زرو خواته انحراف وموند. د اروپائي ټولنې د منلو وړ نظریات د تجارتي اقتصاد ، ملت

غوښتنې او ملي مسائلو ته توجه د سره زر او سپین زر زیرمو ته هڅیدنې او تمایل، یوائې د ملي پانګې د منابعو تر عنوان او بهرني سوداګرۍ ته توجه او بالاخره د اقتصادي او نظامي سیاست پراختیا وه.

نوڅکه تجارتي مکتب یو اقتصادي سیاست او طریقه ده، چې په (۱۵) او (۱٦) پیړیو کې د نړۍ اقتصادي څانګړو شرایطو محصول او مجموعه ده. په دې شرایطو کې اروپائي نظامیان او سوداګر د ختیځ مالونو او د نوې نړۍ د شتمنیو په پلټنه کې شول. په ظاهره کې د مینې او دوستۍ ښودنو په عنوان د نورو مځکو او هیوادو ته داخل شول او پراخې مځکې یې تصرف کړې.

پرتګالیانو د افریقې له لارې څخه په هندو چین کې استعماري هډې جوړې کړې، هسپانویانو، د امریکې ډیره او لویه مځکه د هسپانیې د دولت په نامه لاس ته راوړله او د هغې متصرف شول، وروسته د انګلیس، هالنډ او فرانسې دولتونه هم ډګر ته ننوتل، او تجارتي او پولې استعمار ته یې پراختیا ورکړه.

په لنډه توګه د سوداګرۍ د مکتب څانګړنې عبارت دي له:

- خپل هیواد ته زیاته ګټه تر لاسه کول.
- د سره زرو او سپین زرو د فلزاتو ټولونه او خپل هیواد ته انتقال.
- نورو هیوادو ته د شیانو صادرول او د زیاتو وارداتو مخه نیول.
- د محلي او داخلي صنایعو څخه ملاتړ.
- د اومو او لومړنیو موادو واردات بیله محصول او ګمرکي عوارضو څخه.

د سوداګرانو مفکورې او نظریې په بیلابیلو شکلونو په اروپائي هیوادونو کې څرګندې شوې، په پرتګال او هسپانیا کې د فلزاتو سوداګرۍ وده او رونق وموند، په فرانسه کې زراعتي او صنعتي سوداګرۍ رواج وموند، هالنډ او انګلستان کوښښ وکړ، تر څو د نړیوالې سوداګرۍ له لارې څخه قیمتي فلزات لاس ته راوړي.

د (۱۸) پیړۍ په اوږدو کې د سوداګرانو د نظریو په اجرا او تطبیق کې ډیر مشکلات منځ ته راغلل، چې په تدریج سره د هغوی د نظریاتو صحت له تردید سره مخامخ کړ. د دې مکتب په کوښښن د مثبتې موازنې د ساتلو له پاره بهرني تجارت له مشکلاتو سره مخامخ شو، د صنعتي شیانو او کالیو واردولو مخه نیول هم په عمل کې بریالی سیاست نه و، او له هیوادو څخه په غیر قانوني توګه د سره زرو او اسعارو د خارجیدو باعث کیده. بالاخره صنعتي انقلاب د عنعنوي اقتصاد زیربنا ته په اروپا کې تغیر ورکړ. په نوي اقتصادي نظام کې صنعتي کار فرمایان د سرمایه داري د دوران سوداګر پانګه والو ځای ونیو. اقتصادي طریقې او همدارنګه محدود کوونکې تجارتی مقررات د دې مکتب، خپل ځای په تدریجي توګه هغه اندیښې او نظریې ته ورکړ چې د رقابت اصول او په کسب او کار د آزادۍ د (طبیعي قوانینو) له مخې یې بنسټ ایښودل شوی و. د بانکداری پراختیا او انکشاف په اروپا کې له یوې خوا، او د ټکنالوژۍ او اقتصادي نوښتونو چې د صنعتي انقلاب څخه نشأت کړی و، له بلې خوا، د دې باعث شو چې، سره زر او سپین زر د شتمنۍ د منابعو په عنوان خپل ځای ځمکې او زراعتي محصولاتو، کارخانو او صنعتي ماشین او آلاتو او په کلي توګه، صنعتي شیانو او مالونو ته پریږدي، او له بلې خوا هیوادونو وکولای شول د طبیعي منابعو څخه په ګټې اخیستنې، زیاتی پانګې اچونې او همدارنګه د کار د قوې حاصل او د کار د مولدیت لوړولو له لارې شتمن شي.

طبیعیون یا د طبیعت پلویانو مکتب (The Fhysiocracy):

په اتلسمه (۱۸) پیړۍ کې د سوداګرۍ د اقتصادي نظام د سقوط سره په اروپا کې د طبیعیونو مکتب بنسټ د فرانسې په هیواد کې کښیښودل شو. دغې مفکورې د اقتصادي عقایدو په تشکیل کې زیاته اغیزه درلوده. دغه مکتب د اقتصاد مطالعه د هغه زماني د فلسفي نهضت سره هم وتړله. د طبیعي نظم په مورد

کې يو جهت کښېښود. د طبيعي قانون د دې مکتب د عملي تفکر اساس تشکيلوي، د هغوی په نظر انساني ټولنه د له پر طبيعت باندې د حاکمو قوانينو تابع ده، او اقتصادي اعمال چې د هغې څخه نشأت کوي، هم طبيعت پورې تړلي ګڼي.

برسېره پردې طبيعيون په دې عقيده وو، چې د طبيعي قوانينو د اجرا څخه، يو طبيعي نظام منځ ته راځي، چې نه يوازې منطقي او عقيده يې وي، بلکه د ټولنې د اصلاح د پاره هم وي، او د هغوی په وينا ټول افراد او انساني قدرتونه بايد بې له ترديده د غير قابل تغير او انعطاف نه منونکې چې، خدای (ج) وضع کړي دي او بهترين ممکن مقررات دي پيروي وکړي. هغوی د اقتصادي فعاليتونو په آزادۍ باندې عقيده درلوده، او تاکيديې کاوه چې ټولنه بايد کاملاً آزاده اوسي، ترڅو هر وګړي وکولای شي د هغې ګټې په اساس چې لري يې، خپل اهداف تعقيب کړي. د دې اصل پرېنسټ د زياتو ګټو حاصلول او د ډېرو ښېګڼو تعقيبول په ډېر لږ لګښت سره به د هر انسان د اقتصادي روش اساس وي.

د غه مکتب د تجارتي مکتب په مقابل کې يو عکس العمل دی، چې په هغه دوره کې د فرانسې ګروندګر د تجارتي مکتب د سياستونو په اثر له بحران سره مخامخ وو، د فرانسې کروندګر د درنو ماليات په ورکولو مجبور او مکلف وو، په داسې حال کې چې نورې طبقې او قشرونه (نجيبان او روحانيون) ماليې ورکولو څخه معاف وو، په نتيجه کې د اقتصادي اصلاحاتو په لور لاره خلاصه شو، او طبيعيونو د نويو او تازه سياستونو اجراء، د اقتصادي اوضاع د ښه کيدو په خاطر مطرح کړه.

هغوی په دې عقيده وو، چې کرهڼه د توليد يوازېنی منبع د، صنعت او تجارت يوازې شيانو ته تغير شکل ورکوي او بس، نو ځکه مځکه د عايد او توليد يوازېنی منبع ده. مځکه يې د ثروت منشاء بللې ده، طبيعيونو د صنايعو فعاليتونه

د مالونو د تجارت او تبادلې څخه مهم ګڼلي دي. ځکه په صنعت کښې افراد او اشخاص د کار په اثر پر اومه موادو باندې د خپل د کار د ارزښت معادل عاید لاس ته راوړي، او په دې صورت کې د مشروع عاید خاوند وي، طبیعیون له هرې برخې څخه د مخه کرهڼه تشویق او حمایت کوي.

کلاسیک مکتب:

د اتلسمې پیړۍ په وروستیو او د نولسمې پیړۍ په سرکې اقتصادي مکتب منځ ته راغی چې د کلاسیک مکتب په نامه مشهور دی. ددې مکتب طرفداران د سوداګرۍ د مکتب عقیدې او مفکورې تر استفادې لاندې ونیولې او د اقتصادي قوانینو د کشف او د معاصر اقتصاد علم په بنسټ ایښودلو بریالی شول.

د اقتصادي مسائلو او پدیدو د تحلیل او تجزیې څخه دغې نتیجې ته ورسیدل چې دولت باید په اقتصادي چارو کښې له لاس وهلو څخه ډډه وکړي او ټول اقتصادي فعالیتونه خصوصي برخې ته پرېږدي. آدم سمیت (A. Smith ۱۷۲۱ - ۱۷۹۰) په دې عقیده و، چې د کار قوه د هرې ټولنې د اصلي ثروت منبع تشکیلوي. هغه عقیده درلوده چې تولید د تخصیص او د کارویش په اساس زیاتیږي او د ټولنې اقتصاد د خارجي قوې د دخالت څخه پرته خپل مؤثر فعالیت ته ادامه ورکوي. آدم سمیت د کسب او کار او د عرضه او تقاضا د موادو په بازار کښې د بین المللي تجارت د آزادۍ طرفدار و.

د سمیت د اقتصادي نظریې اساس د ژان ژاک روسو «د فرد اصالت» پرنسپ ولاړ دی. د کلاسیک مکتب وروسته په دوو مختلفو جهتو تکامل وکړ: یو د بدبینانو (انګلیسی) مکتب او بل د خوشبینانو (فرانسوی) مکتب.

رابرت مالتوس (R. Maltoss) او دیوید ریکاردو (D. Ricardo) د بدبینانو د مکتب نمایندګان دي.

مالتوس په دې عقیده و، چې که د نړۍ نفوس د هندسي تصاعد پر اساس

(٢-٤-٨-١٦-٣٢-٦٤) او غذائي مواد د حسابي تصاعد په اساس (٢-٤-٦-٨-١٠-١٢-١٤) زياتيږي، کله کله به د نفوسو سعودي تگ لوری هغه اندازې ته ورسيږی چې، انسان وکړای شي ځان د غذائي موادو له نظره تأمين کړي، هغه د زيږيدنو د مخنيوی پيشنهاد کوي. د مالتوس نوی پيروان دننني نسل تولی بدمرغۍ د هغوی د خپلو تصاميمو څخه گڼي، حتی په ځينو مواردو کې جنگونه او قحطۍ د نفوسي ودې د مخ نيوی د پاره ښه او لازم بولي.

د ريکاردو بدبيني د هغه د ځمکې «انت» په قانون کې نغښتې دی، دده په نظر د کښت وړ ځمکې مخصوصاً غوره ځمکې مساحت په نړۍ کښې، محدود دی، او د بشر د نفوسو د زياتوالي په صورت کې د ښو غوره ځمکو په مساحت کې هم کموالی راځي، او په نتيجه کې غوره ځمکې د محصولاتو قيمت هم زياتيږي، او دغه موضوع د يو اضافي ارزښت يا د ځمکې د «رانت» د تشکيل سبب گرځي، چې ځمکوال له هغه څخه گټه اخلي. د نفوسو په زياتيدو سره د کارگرانو مزد او اجوره کميږی، او د محصولاتو بيه زياتيږي، او په نتيجه کې د ځمکې «رانت» زياتيږي. د اجورې په کموالي او د قيمتونو په لوړيدو تقاضا محدوده کيږي، گټه او پانگه اچول محدود کيږي، او د نفوسو زياتوالی اقتصادي نظام قهقراته کشوي.

په کلاسيک اقتصاد کې مهمه او اساسي مسئله، په اوږده موده کې اقتصادي وده، ده. کلاسيک اقتصاد پوهان اصولاً دلوی اقتصاد عالمان او پوهان وو، او په کوچني اقتصاد کې د منابعو تخصيص ته يې توجه او پاملرنه نه درلودله، له دی کبله د اقتصاد کل يا لوی اقتصاد له روشه څخه په استفادې سره د اقتصادي ودې مسئله ترڅيړنې لاندې ونيوله.

د کلاسيک مکتب اقتصاد پوهانو په نظر نفوس د اقتصادي محرک دی، مگر د مالتوس او ريکاردو په نظر نفوس د اقتصادي انکشاف يولوی خنډ دی، او سرمايه داری نظام به په اوږده موده کی د يو سلسله مسئلو سره، لکه د نفوسو فشار

د اقتصادي رشد د اندازې کموالی، بحران او بېکاری سره مخامخ شي. ژان باتست سی J. B. Say ۱۷٦۷-۱۸۳۲ ار فرد رېک باستیا F. Basteia د مالتوس او ریکاردو پر خلاف د خوشبینانو د مکتب نمایندګان دی.

اشتراکي مکتب:

د نولسمی پېړۍ د پیل څخه د کلاسیک پیاوړي مکتب د تعادل د نظریې باوجود، د اقتصادي عدم تعادل او بحرانونه په ۱۸۱٤ - ۱۸۵۲ کالو کې منځ ته راغلل. اجتماعي اړو دوړ زیات شو او په کارخانو کې د کار شرایط له طاقت او توانه څخه ووتل، د کار ساعتونه زیات وو، او تقریباً د دولس ساعتو څخه (۱٦) ساعتونو ته په ورځ کې پورته شول، د قیمتو زیاتوالی، د خرید قدرت کموالی، وزګاری او نور اقتصادي او اجتماعي معضلې د شدیدی نا آرامی او اجتماعي تکرونو او بې نظمو سبب وګرځید، یو شمیر د آزاد بازار د نظام د تغیر غوښتونکي شول. دوی اقتصادي سیستم او خپل نظریات مطرح کړل، چې هغه د اشتراکی مکتب په نوم یادیدل. د هغوی د نظریې اساس پر اقتصاد باندې دولتي مالکیت و، په دی نظام کې د تولید عوامل (ځمکه، د کار قوه او پانګه یا سرمایه) د دولت په مالکیت کې قرار لري. ددې نظام پلویان په خصوصي مالکیت پر تولیدی وسایلو، مخصوصاً ځمکه او سرمایه (پانګه) باندې مخالف وو، ددې مکتب د نظریی په اساس کاګران له هغې څخه زیات چې ورته ورکول کیږی، سرمایه دارانو ته ارزښت ایجادوي، او د کارګرانو د کار په نتیجه کې «اضافی ارزښت» منځ ته راځي، چې عمدتاً د کار فرمایانو له خوا پرې خېټه اچول کیږي. دغه مکتب د آزاد بازار د له منځه تللو غوښتونکي و. د اشتراکي مکتب د اقتصادي نظرياتو بنسټ اینښودونکي په کلاسیک اقتصاد پورې، مخصوصاً د دوید ریکاردو په تصمیمونو باندی استقرار وو، اکثراً یې د هغه مفکورې اقتباس کړي دي.

د نهاييون مکتب (نوی کلاسيک):

دا اقتصادي مکتب د نويو روښونو پر اساس د لړو تغيراتو په منلو سره د کلاسيک مکتب د اصولو او قوانينو څخه طرفداري او پلوي کوي، په دې اساس يې د نوي کلاسيک مکتب په نوم شهرت موندلی دی.

تاريخي مکتب:

د نولسمې پيړۍ په سر کې د المان سياسي او اقتصادي حال او احوال ډير اغيزمن شوی و، او په نهه ديرش بيلا بيلو ايالتونو تقسيم شوی و، هر يو ايالت د حکومتي له نظره د نيمه مستقل سيتسم لرونکی، او د قتصادي له نظره د مستقل سياست لرونکی و، او پخپل منځ کې يې يو شمير گرکمرکي خنډونه تأمين کړي وو. له بلې خوا د المان د دولت په تلاش او کوښښ، د هغوی احساسات د ناپليون پر ضد تحريک شول او د المان ډيرو عالمانو د تاريخي مکتب اساس کښيښود. د دې هيلو د تحقيق په لوري حرکت په ۱۸۳۳ کال کې په المان کې د گمرکي او تجارتي اتحاديې په ايجادولو پيل شو. له دې څخه وروسته المان صنعتي کيدو ته آماده شو، د کلاسيک مکتب څخه په انتقاد، چې نړۍ په يوه کلي او عمومي نظريه تحليلوي، په داسې حال کې چې تاريخي سيستم بايد خپل خاص اقتصادي نظام تر نظر لاندې ونيسي.

د تاريخي مکتب اقتصاد پوهان په دې عقيده وو، چې اساسي هدف ته د رسيدو له پاره چې هماغه ملي اقتصاد دی، لومړی بايد د هر هيواد فرهنگ او تاريخ د سياست اساس وټاکل شي، او له دې لارې څخه کولای شو د ټولنې د اقتصادي آرامۍ او سوکالۍ د سطحې په لوړولو کې اغيزمن گامونه پورته کړو.

الف- پخوانی تاريخي مکتب:

دا مکتب ديو لړ نظريو حاصل دی، چې د اقتصادي فعاليتونو بدلون په جريان کې يې ځينې نظريې مطرح کړلې، چې هغه زياتې په تاريخي توضيح او بيان متکې دي. فريدريک ليست د تاريخي پرمختگ پړاوونه په پنځو مرحلو تقسيم کړي دي:

لومړی پړاو او مرحله چې په هغه کې انسانانو په بدوي شکل ژوند کاوه، او بشري ذهني او عقلي وده او انکشاف زيات محدود و.

دوهمه مرحله، د حيواناتو د ښکار مرحله ده.

دريمه مرحله، د ټولنو په مينځ کې د کرنې پراختيا مرحله ده.

څلورمه مرحله، هغه مرحله ده، چې په يوخت کرهنه او صنعت دواړه په ابتدائي او عنعنوي شکل موجود، او کرنې زيات انکشاف وکړ.

پنځمه مرحله، هغه مرحله ده چې په هغه کې همزمان د زراعت او صنعت سره سوداگري (تجارت) هم جريان لري او ملي اقتصادي وده او انکشاف په دري مرحلو تقسيموي:

لومړی، طبيعي اقتصاد: چې ټولنه زياتره په کورنی (فاميلی) اقتصاد متکي وي او د انسانانو اقتصادي فعاليت د هغوی د اساسي او لومړنی اړتياوو رفع کولو ته متوجه وي، په دې اقتصاد کې د مالونو تبادلې وجود نه درلود.

دوهم پولي اقتصاد: څرنگه چې د جنس په جنس مبادله په اقتصاد کې د مشکلاتو د پيدا کيدو باعث شوه، نو ځکه پيسو په تدريج سره د تبادلې وظيفه په غاړه واخيستله، او د بازار را کړې او ورکړې پرمختيا ومونده.

دريم کريډتي اقتصاد: د اقتصاد بله مرحله د کريدتي مرحلې څخه عبارت دی، يعنی په دې دوران کې، اعتبارات او د قرضي ورکول او کريدتو نه پراختيا مومي، او اقتصاد په دې مرحله کې په کريدټونو او اعتباراتو متکي وي، او برسيره پرپورتنې تقسيم بندی، کارل بوسير د اقتصادي تکامل مراحل په درې لاندنينو مرحلو ويشلي دي:

کسبگري اقتصاد: په دې اقتصاد کې، توليد د لگښت په منظور وي، او په هغه کې د کار تقسيمات ډير ساده وي، او هريو د خپلو اړتيا وو د تأمين له پاره د ځينو شيانو په توليد بوخت دي.

ښاري اقتصاد: ښاري اقتصاد د تجارت او تبادلې زېږند ده، او د روابطو په انکشاف او تبادلوي روابطو په اثر په تدريجي توگه د تبادلې عمده مرکزونه، يعنې ښارونه منځ ته راځي، په ښارونو کې اقتصادي فعالېتونه په زياته اندازه انکشاف کوي، او ښارونه حقيقتاً بازارونه دي.

ملي اقتصاد: ملي اقتصاد په ستره پيمانه د ښارونو د پراختيا او انکشاف څخه وروسته منځ ته راځي، ځکه تبادلوي او تجارتي رابطې د ښارونو په منځ کې، انتقالاتو او مواصلاتو ته پراختيا ورکوي او مراودې د ښارونو په منځ کې د انتقالاتو په واسطه ملي اقتصاد ايجادوي او اقتصادي فعالېتونه پراخه کوي.

ب- نوي تاريخي مکتب:

په دې برخه کې يو شمير پوهانو د نظر او عقيدې څرگندونه کړې، مگر دلته د هغه د اهميت سره سم د رستو W. Rostow نظر په لنډه توگه تر مطالعې لاندې نيسو. روستو اقتصادي انکشاف په پنځه مرحلې تقسيم کړې دي:

۱- **د عنعنوي اقتصاد مرحله:** دغه اقتصاد د کورنيو د اړتيا وو د ليرې کولو به منظور توليد کوي. په اقتصاد کې د ۷۵ فيصده څخه زيات نفوس په کرهنه کې مشغول دی. په ځينو ټولنو کې توليد د مصرف څخه زيات وي، مگر د توليد مازاد (اضافه توليد) د غير توليدي د مصارفو د پاره لکه، د جشنونو په تجليلولو او په نورو عنعنوي مراسمو کې په مصرف رسيږي. د دې مرحلې اقتصادي مشخصه داده، چې زراعتي توليد قسماً زياتيږي، او د ټولنې د ژوندانه سطحه هم لوړيږي او توليدي مازاد منځه ته راځي.

۲- **له خيزوهلو څخه مخکښې مرحله:** په دی مرحله کې داسې شرايط منځ ته راځي چې، د اقتصادي انکشاف له پاره په ټولو ساحو کې مساعده فضا برابره وي، او تدريجاً دغه مرحله په خيز کې شامليږي، يعنې په دې مرحله کې د چاپيريال

• شرايط د ټولنې اقتصادي فعالېتو له پاره، د ابتدائي زراعتي مرحلې څخه، صنعتي مرحلې ته مساعد وي، او په اقتصاد کې وده او انکشاف منځ ته راځي.

٣- د خيزاو توپ مرحله: پــه دې مــرحلــه کــې د اقتــصــادي انکشاف له پــاره شــرايط مســاعــد دي.

څلورم، د اقتصادي مرحلې پوخوالی او بلوغ:

په دې مرحله کې سرانه عايد (مجموعی توليدات په پولي واحد تقسيم پر نفوس باندې) د خــيزوهلو د مرحــلې دوه بــرابــره زياتيږي. د ټولنې ټولې ساحې، لکه: توليد او مصــرف، پانگه اچونه، خارجي تجارت، د عايد ويش او داسې نور په چټکتيا سره بدلون مومي.

پنځم د زيات لگښت مرحلـه: په دې مــرحله کــې لــه اقتــصادي ودې څخه زياته استفاده کيږي. د ټــولنې سطحه پورته ځي او توليدی او لگښتي شيان د افرادو لاس ته زيات ورځي.

ځلورم څپرکی:

اقتصادي سیستمونه او نظامونه

هر اقتصادي نظام او سیستم د یو لړ خصوصیاتو او معیارونو لرونکی وی، چې د هغه تولیدي او معیشتی جوړښت له هغې څخه نمایندګي کوي، او د هغه پر بنسټ یې ټولنیز مرکزونه او سازمانونه ولاړ وي.

هر ټولنه چې په هره اقتصادي او اجتماعي مرحله کې واقع وي او د خپل اقتصادي او فرهنګی ودې په هر درجه کې چې وی، د تولید، ویش او مصرف، هغه پر مختللي وي او که وروسته پاتی وي، ورسره مخامخ کیږي، او دا پوښتنې، چې څه شی تولید کړو؟، په کومه وسیله یې تولید کړو؟ او د چا له پاره یې تولید کړو؟، یعنی د تولید مقدار او اندازه، وسیله د تولیداو ویش شکل باید مشخص کړو.

انسانانو د ځمکې په کره باندې د خپل ژوند د لومړي وخته څخه د خپلو جسمي اړتیا وو په لیرې کولو کښې هلې ځلې کولې، کله په ابتدائي وسایلو د خپل ضرورت په اندازه د کبانو په ښکار بوخت وو، او نن د ډیر پرمخ تللي او مجهزو ماشینو پواسطه د خپل اقتصادي مسائلو او حیاتي اړتیاوو د حل د پاره کار او فعالیت کوي، مګر په تیر وخت او اوس او په ټولو شرایطو کې د خپل ضروریاتو او د خپلو هیلو او غوښتنو ته د رسیدو په خاطر کوښښ کوي.

څرنګه چې منابع محدودې دي او د انسان هیلې او غوښتنې نا محدودې دی، نو په ټولو حالاتو کې د خپل نا محدودو ضروریاتو د تأمینولو له پاره مجبوراً له درېو پورتنیو مسئلو سره مخامخ شي ، او د هغه د حل له پاره هڅه او هاند وکړي، یعنې باید دا معلومه کړي، چې د مختلفو شیانو او خدماتو څخه چې هغې ته اړتیا لري، کوم قسمونه د تولید له پاره انتخاب کړي، او په څه مقدار د هغی څخه تولید

کړي، او په وروستۍ مرحله کې د شیانو او خدماتو د تولید د پاره کومې لارې انتخاب کړي او په نتیجه کې تولید شوي شیان او خدمات په ټولنه کې د چا له پاره اختصاص ورکړي او با تقسم یې کړي.

هر ټولنه د پورتنیو درې ګونو مسئلو د حل له پاره خاصې طریقې انتخابوي چې، په هغه محدوده کې اقتصادي فعالیتونه سرته رسیږي.

د پورتنیو درې اصولو د اجراء او تطبیق د شکل او لارو چارو له مخې اقتصادي روشونه او سیستمونه مشخص کیږي، چې په لاندې توګه اوسنې اقتصادي سیستمونه تر مطالعې او څیړنې لاندې نیسو:

د آزاد بازار نظام (سرمایه داري سیستم):

د آزاد بازار نظام د اقتصاد له نظره، د تولید هغې طریقې او اقتصادي نظام ته ویل کیږي، چې په هغه کې خصوصي پانګې په فعالیتونو کې اساسي نقش لري.

له حقوقي نظره د آزاد بازار په نظام کې «خصوصي مالکیت ته د احترام اصل» معتبردی، د هغه پر اساس د تولیدي وسایلو خاوندان (سرمایه داران)، د ځمکې خاوندان او همدارنګه هغه خلک چې د کار قوه په اختیار کې لري، د خپل ثروت او تولیدی امکاناتو خاوند دی.

مالکیت او قرار دادونو ته د احترام اصل په اساس، سرمایه داران کولای شي، خپلې پیسې او سرمایې پخپله خوښه، د ګټې په مقابل کې پور ورکړي او یا پانګه آچونې ته اقدام وکړي، او یا د کار فرما په توګه تولیدي فعالیت کې داخل شي. د ځمکې خاوندان خپل ملک باندې تسلط لري، او حق لري چې ځمکه خرڅه کړي او یا یې بل چاته په اجاره ورکړي او د هغه د ګټې نه برخمن شي، په دې وخت کې کارګران کولای شي خپل کار د اجورې د لاس ته راوړلو په بدل کې، هغه مؤسسات او خلکو ته چې ورته اړتیا لري، عرضه کړي.

برسیره پردې کارفرمایان په دې نظام کې اساسي او اغیزمن نقش لري، د

هغه انسجام او ابتکار څخه چې د تولید د ترکیب د عواملو له پاره يې په کار وړي، ګټې د سرمايې، مځکې او د کار قوې څخه لاس ته راوړي. او لاس ته راوړل شوې حاصل د دې فعالیتونو څخه په دې سیستم کې څارل او ساتل کیږي، او حقوقي اصول او حاکم مقررات د اصل مالکیت څخه دفاع کوي.

د اقتصادي فعالیتونو انګیزه د آزاد بازار په نظام کې ګټه یا سود لاس ته راوړل دي. تولیدکوونکی زیار باسي هغه شیان تولید کړي، چې زیاتره ګټه د هغې څخه لاسته راشي، عرضه کوونکي کوښښ کوي، د ډېر تولید او خرڅلاو په نتیجه کې، ډېره ګټه لاس ته راوړي، او په دې حصه کې تولید کوونکي یو د بل سره رقابت کوي، او هر یو کوښښ کوي د خرڅلاو د قیمت په نږدې کولو د تمام شوي بیې سره، زیاتره تقاضا کوونکي ځان ته جلب کړي او په دې شکل په خپلو رقیبانو باندې بریالی شي او زیاته ګټه لاس ته راوړي. په دې برخه کې هر یو د تولید کوونکي څخه د قیمتونو په ټیټ راوستلو او یا د شیانو په ښه والي او د تبلیغاتو له لارې کوښښ کوي چې خپل د اړتیاوړ ښه شیان او خدمات ځانته اختصاص ورکړي. د دې سیستم له پاره د عرضه او تقاضا او بازار موجودیت او کامل رقابت لازمي دی، دغه د کارفرما په نظم کې د تولید او لګښت په منځ کې واسطه ده، او د تولید د عواملو ترکیب او د هغه هماهنګ کول، ځمکه وال، د کار خاوندان، او سرمایه داران د خپلې خوښې عاید او درامد ته بریالی کوي، په دې توګه له یوې خوا څخه په ټولنه کې عاید تقسیم او توزیع سرته رسوي، او له بلې خوا تولید شوي محصولات بازار ته عرضه کوي او له دې مدرکه څخه سوداګر او بازاریانو ته ګټه په لاس ورځي.

د بازار د نظام د بدلون بهیر:

ډیر اقتصاد پوهان شپاړسمه پیړۍ د تجارتي سرمایه داری عصر او زمان بولي، اما په تیرو تاریخي زمانو کې د پولي اقتصاد پانګه والۍ روش د کلمې په خاصه معنی ښه ښکاره وجود درلود، او په بابل، آتن او دیونان په ښارونو کې

شیانو تجارت او تبادلـــې په معامـــلو کې عمده رول درلود. مگر په شپاړلسمه پیړۍ کې پانگه والي نظـــام په پـــرمخ تللی توگه منځ ته راغي. څینې عوامل د سرمایه داری په منځ ته راتلو او د هغه په وده کې اساسي نقش درلود، چې په لنډه توگه توضیح او تشریح کیږي:

- د سوداگرۍ وده (انکشاف):

صلیبي جنگونه د ختیځ او لویدیز ترمنځ د تجارت پرمختگ سبب وگرځید، او دوه تمدنه یې یو د بل سره آشنا کړل، د اروپا او آسیا تجارتي ارتباط ته یې رونق ورکړ، او پولي او تجارت معاملې په اروپا کې پراختیا ومومند.

- د زراعتي تولیداتو وده او انساني عامل:

لاس ته راوړل شوي ارقام او اعداد ښیي، چې، له یوولسمی پیړۍ څخه وروسته په اروپا کې نفوس مخ په زیاتیدو شو. د نفوس زیاتوالی زیات خواړه (غذا) او ښه وسایلو اړتیا درلوده، چې د زراعتي تولید د طرز او طریقې د تکامل سبب شو، چې ښو وسیلو او تولیدی افزارو او سرمایې ته یې ضرورت درلود، نو په دې توگه د سرمایه داري نظام دودې او انکشاف سبب شو.

- د صنایعو پرمختگ:

د تجارتـــي او زراعـــتي فعالیـــتو د انکشاف او ارتباطی وسایلو د ښه کیدو سره جوخـــت، د اروپا صـــنایعو وده او پـــرمختگ وکړ. تولیدي روشونه په کرهڼه او صنعت کښې له ختیـــځ څـــخه اروپا ته انتـــقال شول، او د نساجی صنعت په اروپا کې پراختیا ومومندله.

- جغرافیائي ستر اکتشافات:

لوی جغرافیائي اکتشافات په پنځه لسمه او شپاړلسمه پیړۍ کې په ختیځ کې د پرتگالیانو او په لویدیځ کې د هسپانویانو له خوا، په نړیواله سطحه د تجارت

دودی باعث وگرځيد. برسيره پردې د سره زر او سپين زر ليږدونه او انتقال هم له مستعمره هيوادو څخه د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا سبب وګرځيد، او سرمايه داری د اروپا مسلط نظام شو.

- د رنسانس د عصر فکري بدلون اوذهنيت تغير:

په پنځه لسمې او شپاړلسمې پيړی کې د اقتصادي بدلونونو په مجموع کې اروپا له خوبه څخه ويښه کړه، او نوي د فکري، فلسفي او مذهبي غورځنګ منځ ته راغی چې په تاريخ کې د (رنسانس) په عصر او زمانه مشهوره دی، د دينی او فلسفی تغيراتو له جملې څخه، يو داو چې په دی دوره کې د تيرو دورو پر خلاف، د ثروت ټولول او زراټولول نامطلوب فعاليت نه ګڼل کيده، او سرمايه داري د دين له نقطې نظره مشروع او جائز ګڼل کيده.

په پيړيو کې د نړی د اقتصادي او اجتماعي شرايطو مجموعه، د زراعت، صنعت او تجارت، د پخوا څخه زيات د سرمايداری په قالب کې وده او انکشاف وکړ، او په اروپا کې د اقتصادي انقلاب سبب وګرځيد. په اتلسمه او نولسمه پيړی کې سرمايداري نظام خپل اوج ته ورسيد.

په اوسنی زمانه کې د بازار د نظام تغير او تحول:

تجارتي سرمايه داري د سوداګري د مکتب په مفکوره تر اته لسمی پيړی پورې ادامه درلود، د تناسب د نه لرلو په اثر د زماني د نوي اقتصاد جوړښت سره او د صنعتي انقلاب د واقع کيدو سره، د اقتصاد د عمل آزادي مفکوره د کلاسيک مکتب پر اساس پياوړی کړه.

د نوموړی نظام بنسټ په فردي ګټه پلټنه او آزادی باندی ولاړ و. صنعتي، مالي او تجارتي مؤسسو د خصوصي سرمايدارانو په وسيله د قانوني محدوديت څخه پرته کار او فعاليت کاوه، او رقابت د اقتصادي او توليد د اړيکو يوائنی معيار او ملاک ګڼل کيده.

تولیدي او تجارتي سازمانونه له کوچنیو سرمایه دارانو څخه تشکیل شوي وو او یو د بله سره یې رقابت کاوه او قیمت به په بازار کې د عرضې او تقاضا د قانون په اساس ټاکل کیده. دولت په اقتصادي چارو کې د لاس وهنې څخه ډډه کوله. مګر د صنعتي انقلاب او د صنعت په تکامل سره یوائې سرمایه داری نظام په نوي بهیر او مسیر کې په حرکت شروع وکړه، چې په لاندې توګه بررسي کیږي:

١ - د اقتصادي بشپړې آزادۍ ادامه او د دولت مداخله نه کول د دې سبب وګرځید چې رقابت په ډیره پراخه سطحه وده او انکشاف وکړي، د تولیدي مرستو په منځ کې سخت رقابت پخپل وار د بیو د ټیټوالي سبب وګرځید. په نتیجه کې دواړه تولید کوونکو له جملې څخه یو زیات تعداد چې د مبارزې قدرت یې د لوی تولید کوونکی سره نه درلود، له میدان څخه خارج شول.

یو شمیر تولیدونکو چې خپل فعالیت ته یې ادامه ورکوله، د تولیدي شیانو د قیمتو د ساتنې او تثبیت او د هغه تحمیل پر مصرف کوونکی او همدارنګه د تولیدي مصارفو کمول یو او بل ته نږدې شول، او د لویو او متمرکزو اقتصادي و احدونو د کارتل او ترست په نومونو تشکیلولو ته اقدام وکړ.

٢ - د صنعت په تکامل او پراختیا او ضرورت زیاتو او لویو سرمایو ته د نوي تولید د شرایطو سره د مقابلې له پاره کوچنیو سرمایه دارانو امکانات محدود شول، او په دې شکل واړه او انفرادي سرمایه داران له پخوا څخه زیات د لویو اقتصادي مؤسسو له خوا جذب شول. د غه تغیرات په تولیدي روابطو کې، په تدریجی توګه د انفرادي سرمایه داری د زوال او یو دسته جمعی سرمایه داری د دوری د پیل کیدو سبب شو.

٣ - له بلې خوا د لویو صنعتي واحدونو تشکیل په لوی تولیدی قدرت او د ډیرو کارګرو په تمرکز، یوه اندازه اقتصادي مشکلات او پروبلمونه منځ ته راوړل، د کارګرانو فقر، وزګارتیا، اغتشاشات او د ټولو ګټوته سرمایه دارانو او کار

فرمايانو، توجه كول د دې سبب شول چې، د اقتصادي كاملې آزادي نظريې او انفرادي سرمايه داري په باره كې عميق ترديد منځ ته راشي، او د دولت مداخله او تمايل د عدالت په تامينولو كې پياوړى شي.

د غه تمايلات او گرايشونه د اقتصادي نويو سيستمونو، لكه مختلط اقتصاد، سرمايه داري او هدايت شوى سيستم، ارشادي اقتصاد او نورو، د پيدا كيدو سبب شول، څرنگه چې نن د نړۍ په هيڅ يو هيواد كې، كامل سرمايه داري او انفرادي سيستم وجود نلري، اما په ټولو هيوادونو كې چې د آزاد بازار سيستم حاكميت لري، خصوصي مالكيت په رسميت پيژندل شوى دى.

خصوصي مالكيت په دې هيوادونو كې د ټولنې د اصلي ضوابطو په عنوان منل شوى دى، او كه نه خصوصي مالكيت به په پخپل محدوده معنا او مفهوم په ټولو ټولنو كې وجود ولري.

د سرمايه داري نظام بل حقوقي اساس د پوهې او وراثت حق په رسميت پيژندل دى، دغه حق لكه مالكيت پخپل وار، د مالياتي قوانينو او عادي قوانينو له طريقه محدودې شوي دي، په حاضر شرايطو كې د آزاد بازار نظام بل بنسټ او اساس، د كسب او كار آزادي ده. مگر دا حق هم لكه مالكيت په ځينو سرمايه داري هيوادونو كې عملاً تريوې اندازې پورې محدود شوى دى، او د تخصص او الزام په مختلفو څانگو كې او د آفرادو او اشخاصو د ښوونيزو امكاناتو محدود والى، د خپل كار په انتخاب كې په بشپړه توگه آزاد نه دى، او په حقيقت كې اړدي چې، د خپل كار او فعاليت وضع د ټولنې د امكاناتو او احتياجاتو سره تطبيق كړي.

د مركزى پلان اقتصادي سيستم (ټولنيز د تگ لارد)

د مركزي پلان اقتصادي سيستم تگ لاره، د اتلسمې پيړۍ په آخر او د شلمې پيړۍ په سر كې د يو سيستم په عنوان مطرح شوه، او دغه سيستم لومړى د مقابلې له پاره د آزاد بازار سيستم سره او د ټولنيز (اجتماعى) اقتصاد نظام د

فردي اقتصاد سیستم پرځای عنوان شو. مګر د زمانې په اوږدو کې د مختلفو اقتصادي او اجتماعي عواملو په نسبت دغه نظام په تدریج سره په مختلفو شاخو وویشل شو، او په متفاوتو شاخو او مشخصاتو مطرح شو، چې ځینې ددې تګ لارې او روښونه په نرمۍ او عتدال خپلې لارې ته ادامه ورکړه، چې کولای شو سوسیال دموکراتان ددې طرز تفکر یوه غوره نمونه وبولو، چې په تدریجي پرمختګ او پارلماني اصول، د فردي آزادیو په ساتلو او ملي عنعنو ته احترام، او همدارنګه د زماني او مکاني شرایطو تطبیقول او ملي کړنو ته پاملرنه لري.

برعکس ددې اقتصادي سیاست تند روانه تګ لارې تعقیبوونکی معتقد دي چې اشتراکي او دولتي مالکیت باید ټول صنعتي او زراعتي تولیدي وسایل، توزیع، سوداګري، حمل او نقل او عمومي خدمات په برکې ونیسي او د دولت دخالت په ټولو اقتصادي برخو کې، حتی په خرده فروشي کې تأکید کاوه. بازار او د هغه عملکرد د دې نظام له نظره مردود، او معتقد دي، چې تبادله او سوداګري باید کاملاً د دولت تر نظارت لاندې صورت ومومي.

د ټولنیزې تګ لارې طرفداران او پلویان (اجتماعیون) په عمومي توګه د مختلفو خدمتونو، لکه روغتیا، ښوونه او روزنه او استوګنځی دولتي کول غواړي، او د ټولنې اقتصاد د پلانګذارۍ له لارې تر کنترول لاندې ونیول شي، او ټول اقتصادي فعالیتونه په لویو او کوچنیو تولیدي واحدونو کې د دولتي پلانګذارۍ د تشکیلاتو په وسیلو رهنمائي کیږي.

اقتصادي نظامونه عمدتاً په دوو مختلفو تګ لارو او روښونو نه دي ویشل شوي، بلکه مختلف اقتصادي سیستمونه په اوسینو شرایطو کې ددې دوو سیستمو په حد فاصل کې واقع دي.

په پخوانی شوروي کې او تریو حده پورې په چین کې د ټولنې ټول اقتصادي فعالیتونه د کوچني اقتصاد څخه ترلوی اقتصاده پورې، د دولت تر اداري لاندې

واقع وو، يعنې د توليد اندازه، د ويش شکل او طريقه، همدارنګه د صنعتي، زراعتي، ارتباطاتو، خدماتو او نورو واحدونو او مؤسسو انکشافي پلانونه د هيواد په بيلابيلو برخو کې د اقتصادي مرکزي سازمان له خوا، رهبري او تنظيم کيدل. مګر دغه سياستونو تل برياليتوب نه درلود، او په عملي مراحلو کې کله نا کله زيات تغيرات او تحولات په دې پلانونو او برنامو کې وارد کيدل.

د متمرکز اقتصاد ځانګړتياوې:

د متمرکز اقتصاد له اساسي مشخصاتو څخه د ټولنې د اقتصادي فعاليتونو پلانګذاري او پروګرام جوړونه ده، په دې تګ لاره کې د مختلفو اقتصادي برخو او واحدونو د توليد اندازه، همدارنګه د ويش او لګښت شکل او طريقه د يو پخواني ټاکلي پلان پر اساس صورت نيسي.

بايد په پام کې ولرو چې د ملي اقتصاد پلانګذارۍ د يو متمرکز اقتصاد دپاره يوازې ځان کافي نه دی. ځکه چې په ډيرو هيوادونو کې د پلانګذارۍ سياست تعقيبيږي. مګر دغه هيواد ديو متمرکز اقتصاد تابع نه وی. په دې سيستم کې مرکزي سازمان (د پلان وزارت، د پلانګذارۍ کميته او يا د پلانګذارۍ کميسيون) اقتصادي تګ لارۍ توليدی واحدونو او مؤسسو ته دستور او هدايت ورکوي او د هغه اجراء او تطبيق په شکل او طريقه باندې څارنه لري. کولای شو د متمرکز اقتصاد عمده او مهم خصوصيات په لاندې ډول جمع بندي او بيان کړو:

۱- د عرضې او توليد د اندازې مربوط اهداف د اقتصاد د مختلفو برخو او د مختلفو شبانو ترکيبات د پلانګذارۍ له خوا صورت نيسي.

۲- د ځينو شبانو جيره بندي، مخصوصاً ډير مهم محصولات د پلانګذارۍ په واسطه صورت نيسي.

۳- د قيمتونو او مزدورۍ سطحې ټاکل د پلانګذارۍ په واسطه تحقق مومي.

٤- د کارد قوې استخدام او د کار بازار د برنامې او پلانگذارۍ پواسطه مشخص کیږي.

په دې سیستم کې د عوایدو توزیع د حکومتي دستگاه تر نظارت لاندې صورت نیسي. او ویل کیږي چې د اجتماعي نظارت لاندې او یا لږ تر لږه د خلکو او اجتماع انتظار ته نژدې باید دا کار صورت ونیسي. مگر باید وویل شي چې په عین حال کې د متمرکز پلانگذارۍ سیستم ډېرې خلاوې او نیمگړتیاوې هم لري چې دلته په لنډه توگه ځېرل کیږي:

لمړی: پلانگذاران نشي کولی چې په صحیحه توگه د ټولو شیانو قیمتونه په بازارونو کې همزمان محاسبه کړي، په ځینو حالاتو کې د ځینو محصولاتو له پاره، قیمتونه د پلانگذارانو له خوا اعلانیږي چې ډېر نازل وي. خرڅلاو په مرکز کې د اوږدو لیکو د جوړېدو او د دغسې محصولاتو جیره بندي سبب گرځي.

دویم: له کومه ځایه چې د پرداخت اندازه کارگرانو ته، د هغوي کار او عمل ته په نه پاملرنې سره صورت نیسي، نو په دې توگه معمولاً مزدونه او اجورې په مختلفو سطحو کې یو شي وي. په دې صورت کې د پلانگذارۍ سیستم د کارگرانو نوښت په پام کې نه نیسي.

دریم: کله چې قیمتونه او د معاشونو سطحه له بازار سره متفاوت وي، هر اړخیزه کنترول د فردي قیمتونو په هکله ضروري او لازمي وي. په دې دلیل په ډېرو پلانگذارۍ شویو اقتصادونو کې د مزد او معاش سیستم ټاکل او قیمت باید انعطاف پذیر وي او د ډېرو شیانو قیمتونه او معاشونه (اجورې) د بازار د ځانگړتیا وو په واسطه او د عرضه او تقاضا په مرسته ټاکل کیږي.

څلورم: ډېر اقتصاد پوهان عقیده لري، چې که هر څه فردي استثمار، غیر معقوله گټه او نور د سرمایه دارۍ سیستم د نا مطلوبو خصوصیاتو له جملې څخه

دي، مگر دغه خصوصيت چې په استبدادی او مطلقه نظامونو په سوسياليستی هيوادونو کې وجود درلود، ناچيز دي، او د پلانگذارانو د مفکورې او د خلکو د مفکورې تر منځ زيات توپير وجود لري، چې هر يو متفاوتې غوښتنې تعقيبوي.

د مختلط اقتصاد سيستم Mint Economy:

د غير متمرکز اقتصاد د خصوصياتو څخه يو دادی چې د عمومي او خصوصي اقتصاد مختلفې برخی د يو بل په څنگ کې واقع دي، او خپل فعاليت ته ادامه ورکوي. په غير متمرکز اقتصاد کې خصوصي تصدي د مالي استقلال او آزادو اقتصادي فعاليتونو امکاناتو لرونکی دي، او په ډيرو حالاتو کې د عمومی برخې ځينې مؤسساتو د خصوصي برخې پر اساس بناموندلي، او د اقتصادي آزادي عمل څخه مستفيد کيږي.

نو ځکه مختلط اقتصاد، د اقتصاد بازار هغه قسم دی چې په هغه کې دواړه خصوصي او دولتي برخې کولای شي په فعاليتونو کې شرکت ولري. دا واضحه خبره ده چې د ذکر شويو برخو مشارکت اندازه يو شان نه وي. او په ډيرو هيوادو کې دغه برخې متناسبې نه دي.

اوسنی او معاصر اقتصاد د دواړو برخو څخه په استفادې سره فعاليت کوي، او دمختلط د مالکيت سيستم د معاصرو سيستمونو له مهمو مشخصاتو څخه دی، که څه هم د ختيځې اروپا په هيوادونو کې او پخواني شوروي کې د خصوصي برخې د مشارکت درجه محدود وه، مگر په دې اقتصادونو کې هم خصوصي برخه ددې هيوادونو په اجتماعي توليد کې د کتنی وړ ونډه لري.

په مختلط اقتصاد کې مختلف دولتي او خصوصي اقتصادي روشونه او تگ لارې، د مرکزي او غير مرکزي پلان اقتصاد، انحصاري او رقابت ديو او بل څنگ کې فعاليت کوي. د معاصرې نړۍ د اقتصادي واقعيتونو به نظر کې نيولو سره، کولای شو ووايو چې د نړۍ ټول هيوادونه په واقع کې د مختلط اقتصاد لرونکي دي. په دې تفاوت چې په ځينو هيوادونو کې د دولتي برخې نفوذ

او اقتدار برجسته او په ځينې هيوادونـو کـې د خصوصي برخې اقتصادي او مالي امکانات ډير او پراخه وي. د مختلط اقتصاد د تگ لارې پيدايښت د سرمايدارۍ اقتصاد د شرايطو د تغير او تحول د معيشتي سيستم د ضرورت تطبيق د زماني او مکاني اړتياوو نتيجه ده، او د نولسمې پيړۍ د رقابتي اقتصادي نظام د فعاليتونو په پيل کې د دولت برخه او مشارکت په اقتصادي چارو کې مردود گڼل کيده. د آزاد بازار نظام د خپلو بدلونونو په جريان کې له ستونزو سره مخامخ شول. خصوصي مؤسسات د خپلې گټې په تعقيبولو سره، د ټولنيز و مسايلو د حل د پاره لکه د قيمتونو لوړيدل، وزگاري، تورم او د قيمتونو جگوالي او نورو سره حساسيت نه درلود، او ددې مسئلو حل د دولت سياستونو، تدابيرو او اقداماتو پورې مربوط ؤ. نو ځکه د وخت په تيريدو سره دولتونو د زيربنايي موضوعاتو د ايجاد په منظور او د اقتصادي تأسيساتو په جوړولو، او د ځينې اساسي مسئلو د حل په منظور او د ټولنيز عدالت د تأمينولو په خاطر، په اقتصادي چارو کې په مداخله لاس پورې کړ او د زماني په پرمختگ او په اقتصادي او اجتماعي وضع کې تغيراتو او بدلونونو، دغه مداخلې پراخې کړې. او د دولت دخالت د اقتصادي په مختلفو برخو کې د معاصر اقتصاد په قبول شوي اصل تبديل شو.

مختلط اقتصاد د مرکزي پلان اقتصاد او آزاد بازار اقتصاد د تعديل په نتيجه کې منځته راغی او دواړه مسلط اقتصادي سيستمونه د اقتصادي او اجتماعي واقعيتونو په درک سره دغه سيستم لږ او ډير خپل اقتصادي نظام کې شامل کړ، او د نړۍ ډير مختلط اقتصادي سيستم، هماغه د خصوصي برخې په څنگ کې د عمومي اقتصاد وجود او شتوالی دی.

د نړۍ سرمايه داري هيوادونو، لکه امريکا، انگلستان او فرانسه د دولت د دخالت مسئله په اقتصاد کې ومنله او ددې تحول له مجموعې څخه د نړيوال اقتصاد مختلط سيستم منځ ته راغی.

پنځم څپرکی:

سوداګري او د مالونو تبادله

په اقتصاد کې د سوداګرۍ او د مالونو تبادلې نقش او اهمیت:

سوداګري د انساني ټولنې په ژوندانه کې یو لازمي کار دی، تجاران د انسانانو لومړنی او په مجموع کې ټول ضرورتونه تهیه او هغوی ته وړاندې کوي، او په حقیقت کې د مالونو او شیانو د تقسیم او ویش دنده په غاړه لري.

داخلي سوداګرۍ په اوسنیو شرایطو کې په کلي توګه بدلون موندلی، او خرڅوونکي په حتمي توګه تولیدونکي نه وي. په نوی اقتصادي سیستم کې خرڅوونکی د بیلابیلو مؤسساتو د محصولاتو توزیع کوونکي دي، چې د خپل خدمت ارزښت د شیانو د اسانولو له قیمته څخه لاس ته راوړي.

خرڅوونکی دا اړتیا نلري، چې لکه د پخوا په شان خپل ګدامونه له مختلفو شیانو ډک کړي، بلکه د خرڅلاو د اندازې په نظر کې نیولو سره، خپلې اړتیاوې او احتیاجات پیشبیني کوي او پوهیږي چې د تولیدونکو مؤسسو ګدامونه تل د هغوی په واک کې دي.

په اوسنیو شرایطو کې پیریدونکی (مشتری) په خرڅوونکی پسې نه ځي، بلکه د نن ورځې سوداګري دې حال ته رسیدلې، چې خرڅوونکی د ټولو امکاناتو څخه استفاده کوي، ترڅو پیریدونکی ځان ته کش کړي او دغه کار ددې سبب شوی دی، ترڅو هر څوک کوښښ وکړي، چې کافي وسایل را ټول کړي او ښه کار وکړي، او د پیریدونکو (مشتریانو) د توجه په جلبولو، خپل کار ته رونق او پرمختیا ورکړي.

د مالونو او شیانو د تجارت او تبادلې مشخصات په اوسنیو شرایطو کې

آزاد بازار ته دا امکان ور ښښلی دی چې په پر نفوسو ښارونو کې ټول احتیاجات او غذایي، صحي د استوګنې او نور ضرورتونه په دې ښار کې په طبیعي او عادي نظم کار وکړي، په داسې حال کې چې هیڅ ډول کړنلاره او پلان د دې کارونو په انسجام کې موجود نه وي. نو ځکه بازار او د شیانو او مالونو تبادله د غه نظم او هماهنګی د ضرورتونو د تأمین له پاره تجارت ایجاد کړی دي. په بل عبارت، افراد او اشخاص د خپلې ګټې په پلټنه، د عامه ګټې په اوتوماتیک (خودکار) توګه تأمین او طبیعي نظم برقرار دي. دغه د ګټې جلبول د دی سبب شوی چې هرڅوک کوښښ وکړي چې کافي وسایل را ټول کړي، ترڅو ډیر کاروکړي. او پیریدونکی (مشتری) د رضایت په جلبولو سره خپل کار ته رونق ورکړي.

د پیریدلو (خرید) د قدرت په زیاتیدو مختلفو محصولاتو ته ضرورت زیاتیږي، تجارت او د مالونو تبادله زیات رونق مومي او د تولیداتو او محصولاتو توزیع لمن هم پراخیږي. په اوسنۍ نړۍ کې د نړۍ ټول هیوادونه په ټولو تولیدي برخو کې د ټولو محصولاتو په کار اچول او د هغه د ویش توان نلري، او په یوه تولیدي رشته کې اختصاص لرل او د هغه په تجارت کې زیاته ګټه لاس ته ورو ړي. په ملي او هیوادنۍ سطح هم د یو هیواد ټولې سیمی د خپل ټولنیز ژوندانه د ټولو شیانو په تولید لاس نه پورې کوي. بلکې د تولید د عواملو په اختصاص سره، په هغو ساحو کې چې د غه سیمی په هغه رشته کې یا په هغه تولید کې مهارت لري، لاس پورې کوي، او د دې محصولاتو په وړاندې کولو (عرضه کولو) د خرڅولو د هر قسم محصولاتو چې د هیواد په نورو سیمو کې تولیدیږي، ګټې لاس ته راوړي او د یوې ساحې تولیدات د یو هیواد په ټولو ساحو کې ویش او خپریږي.

د تجارت او تبادلې د تحولاتو تاریخي بهیر:

تجارت او تبادله په اوسنۍ ټولنه کې زیات اهمیت لري، او واضحه ده چې تقریباً ټول محصولات د تبادلې په منظور تولیدیږي. د تصدیو ټول تولیدات، او د

ګدامونو زېرمې د خرڅلاو د پاره صورت نیسي. صرف د دې تولیداتو لږه برخه د مؤلدینو د شخصي لګښت د پاره اختصاص مومي. په مختلفو علمي او فرهنګي خدمتونو کې په قسماقسم ټولنیزو کسبو کې هم د هغوی مادي او تبادلوي ارزښت په نظر کې نیول کیږي. او تبادلوي ارزښت او متوقعه ګټه هم په نظر کې نیسي. د ټول اهمیت او ارزښته سره چې تبادله یې په ټولنیز ژوندانه کې لري، کولای شو ووایو، چې دغه پدیده د انسان د تمدن د پیل سره یو ځای منځ ته نه ده راغلې، بلکې د شرایطو او اقتصادي وضعې او د انساني ټولنې د ژوندانه د تحولاتو زیږنده (مولود) ؤ اودي.

لمړی: په عنعنوي اقتصاد ونوکې، چې تولیدد کورنیو د مصرف په منظور صورت وموند، هیڅ قسم مبادل او راکړه ورکړه مطرح نه ؤ، او هرې کورنی په مستقله توګه خپل احتیاجات او ضروریات په خپل چاپیریال کې رفع کول او مبادلی یوازې ځینو محصولاتو ته اختصاص درلود. چې ددې خلکو او افرادو په محیط کې یا موجود نه و، یا نه تولید کیده. دغې تبادلې په پیل کې ډیر استثنائي اړخ درلود، مګر د وخت په تیریدو سره ددغه تبادلې بازار پراختیا ومونده او ددې منظور له پاره د هرې سیمې په سرحد کې یا په خاصو مناطقو کې بازارونه منځ ته راغلل.

دویم: د ښارونو په پراخیدو او د مختلفو حرفو او کسبونو په ایجادیدو او د مصرف کوونکي او تولید کوونکي تجمع په شهري مرکزونو کښې بازارونه تشکیلیږي. بازارونو د ښارونو په مرکزونوکې وده او اکشاف وکړ، تولیدونکو او مصرف کوونکو په هغه ځای کې یو د بل سره ملاقات کاوه. او په دی توګه تبادله او تجارت د وخت په تیریدو سره انکشاف او وده وکړه.

دریم: د لویو تولیدي او صنعتي مؤسسو او فابریکو په منځ ته راتلو او د ښارونو په پراختیا سره، ملي بازارونو د محلي بازارونو ځای ونیوا و پدې شرایطو کې تبادلې او تجارت ځانته واقعي مفهوم غوره کړ. نوی دولتونه هم منځ ته راغلل،

او د بازارونو پر مختللي او تکاملي روند له پخوا څخه غبنتلی او پياوړی شو. له دې وخت څخه وروسته استعماري بازارونه هم منځ ته راغلل او په اته لسمې پيړۍ کې د سوداګرۍ او د مالونو د تبادلې له پاره لوی شرکتونه تشکيل شول.

بالاخره په څلورمه دوره کې، د اوسپنې د لارې په منځ ته راتلو، په فضايي، ځمکني او بحري انتقالاتو په پراختيا سره نړيوال بازارونه منځ ته راغلل او سوداګرۍ په نړيوالو سطحو لوی موقف پيدا کړ. نړيوال تجارت زموږ د زمانې له مهمو مسائلو څخه ګڼل کيږي.

د مالونو د تبادلې او سوداګرۍ بنيګڼې:

کله چې مبادلې د شيانو او کاليو د تبادلې په شکل جريان درلود او اقتصاد په ابتدايي حالت کې وځينې معضلې د شيانو د عمومي معادلت له پاره چې د هغه پواسطه مبادلې په آسانه توګه صورت نيوه، تبارز کاوه. پروبلم له دې څخه سرچينه اخلي چې مثلاً يوکس د اړتياوو د رفع کولو د پاره، توکرانو (منسوجاتو) ته اړتيا درلوده. خو هغه پسه په اختيار او واک کې درلود، مګر د پسه په وړاندې کولو، او بدل شوی توکرانو (منسوجاتو) دلاس ته راوړلو په خاطر اړ ؤ چې له مختلفو کسانو سره مخامخ او مواجه شي. او له هر چا څخه وغواړي ترڅو د پسه په بدل کې توکران ورته عرضه کړي. مګر بنايي د خپل د نظر وړ جنس د موندلو د پاره يې ډير وخت تيراوه، ترڅو چې د خپل شی په موندلو به بريالی کيده، نو ځکه د يو ناچيز شی د بل شی خاوند اړ ؤ ترڅو د هغه سړي پلټنې ته ووځي چې د هغه د نظر وړ کالي او شيان په اختيار کې لري او بر سيره پردې د دوه تبادله شوی شيانو معادلت د بل سره هم يوه ستونزه وه، چې په عنعنوي او تبادلوي اقتصاد کې افراد او اشخاص ورسره مخامخ وو، او بايد اوږد او سخت پړاوونه يې طی کړای وای، نو ځکه د دې مشکل د حل د پاره د يو شي ايجادول او اختراع ضرور او لازمي په نظر بريښيده، ترڅو د ټولنې افرادو دغه ثابت شي د خپل جنس به مقابل کې قبول کړای وای. په لومړي سر کې

سپین زر د دې په منظور ومنل شو او د شیانو او مالونو د تبادلې په جریان کې اغیزمن واقع شو. له دې څخه وروسته خلکو وکولی شول خپل مالونه او اجناس په سپین زرو تبدیل کړي. او وروسته د مشروط او اجتماعي قرارداد له مخې چې دغه نجیبه فلز معادل منل شوی ؤ، خپل د نظر وړ نور شیان یې د سپین زرو معاوضه کول، او په دې توګه په مبادله او سوداګرۍ کې اسانتیا منځ ته راغله که خلک په اوسنیو شرایطو کې خپل مالونه او جناس په پیسو تبدیلوي، د دې معنا لري چې پدې پیسو کولای شي، په هر وخت او زمان کې خپل د نظر وړ اجناس او شیان راونیسي. دغه دریم ګړی شی چې د (پیسو) په نامه یاد شو، په تبادله او سوداګرۍ کې زیات اهمیت پیدا کړ او د ټولنې په اقتصادي ژوندانه کې د سترو بدلونونو او تغیراتو سبب شو. او همدارنګه سهولتونه او ښیګڼې یې په سوداګرۍ او تبادله کې منځ ته راوړې چې په لاندې توګه مشخص کیږي:

۱ - مبادله او تجارت د دی سبب ګرځي ترڅو د نړۍ د مختلفو نقاطو او ځایونو محصولات، لکه د منځني ختیځ نفت، د جاپان الکترونیکی وسایل، او د اروپا غذایي مواد د مختلفو ټولنو په اختیار کې واقع شي. که تبادله او تجارت نه وای، نو د نړۍ د شیانو او کالیو څخه په صحیحه توګه استفاده نه کیدله.

۲ - تبادله او سوداګرۍ د ټولنې د پاره د کار او مشغولیت د ایجادیدو سبب ګرځي. او خلک کار او فعالیت ته مجبوروي. که مبادلې وجود نه درلود هر نفر به مجبوراً د خپل اړتیا وړ تولید پخپله تهیه کاوه، که د هر نفر احتیاجات زیات وای، نو په دی توګه مجبور و د دغه ټولو ضرورتونو ته دسترسي ولري او ټول یې تولید، او هغه کارونه اجراء کړي چې د هغه د توان څخه په عادي حالت کې وتلې موضوع ده، او یا په داسي کارونو کې مصروف شي چې د هغه قوه او انرژي زیات مصرف نشي چې له نیکه مرغه مبادلې او تجارت د انسان دغه ستونزه حل کړې ده او خلک په اطمینان سره د مبادلې په وسیله کولای شي خپل هر قسم ضرورت مرفوع کړي او هر نفر د خپل ذوق او استعداد په مطابق کار وکړي.

۳- تبادله او تجارت د راکړې ورکړې د مختلفو فعالیتونو د رشد او پراختیا سبب شو. بازارونه منځ ته راغلل او ورځ په ورځ یې وده او انکشاف وکړ. او د مالونو راکړې، ورکړې ساحه پخه شوه، مختلف وزنونه د شیانو د اندزه کولو او وزنولوله پاره منځ ته راغلل، او په نهایت کې راکړه او ورکړې په اقتصاد کې د حمل او نقل د انکشاف او د انتقالاتو پروسې د چټکتیا سبب شو. او بالاخره یې اقتصادي وده او پراختیا منځ ته راوړه.

د متشبثو کسانو منځ ته راتګ او د سوداګرۍ رونق:

سوداګري د عامو خلکو د تصور په خلاف د قبایلو او کورنیو په منځ کې نه ده پیل شوې. ځکه تخصص او د کار تقسیم د کورنیو او قبایلو په منځ کې محدود ؤ، او خلکو اجناس او مواد صرف د خپل احتیاجاتو د لرې کولو په مقصد تبادله کول. په دې شرایطو کې داسې افرادو او اشخاصو وجود نه درلود چې په دایمي توګه تجارت وکړي.

د مبادلې محدودیت او د تولیدي شیانو کموالی او محدودیت د راکړې، او ورکړې د انکشاف او پراختیا مانع کیدل، ځکه چې دغه ټولو قومونو یورنګ محصول او یورنګ احتیاجات لرل، نو ځکه واقعي تجارت هغه وخت پیل شو چې بحري مسافرتونه ممکن شول او د لیرې هیوادونو په منځ کې، مختلف مواد او محصولات تبادله شول، نو ځکه سوداګري مخکښې له دې څخه چې په داخل کې مروج شي، خارجي بنه غوره کړه. او مخکې له دې چې ځمکنۍ شي بحري سوداګرۍ رواج وموند.

د سوداګرۍ د پیدا کیدو په تاریخچه کې دوه دورې سره فرق لري:

۱- لاسي خرځلاو د سوداګرۍ دو یا ګرځنده سوداګر: چې همدا اوس هم په ډیر لیرې او د آسیا او افریقا په کم انکشافو سیمو رواج لري. په دې قسم سوداګرۍ

کې د سوداګرۍ د مال کاروانونه حرکت کوي او خپل مالونه په حيواناتو باندې باروي او انتقال ورکوي. هرڅه ګتې په دې قسم سوداګرۍ کې شته. مګر د انتقالي مالونو د کموالي په نسبت يې ګټه نا چيزه ده.

٢- په هر ځای کې چې سوادګري لږ وده کوله، د ګرځندو سوادګر خپل ځای مقيم او ځای پرځای سوداګروته پريښود. مخکښې له دې څخه سوداګر پيريدونکی (مشتري) پسې تلل. مګر په اوسنو شرايطو کې پيريدونکو (خريدار) د سواګرو په لټه کې دي. مګر د پيريدونکي (مشتريانو) د جلبولو د پاره سوداګران د ځينو وسايلو څخه لکه، اعلانات، ابلاغيې، او د استازيو يا د اجناسو نمونه ورليږل او د تصويرو د نصب څخه کار اخلي.

بازار موندنه:

بازار موندنه مارکيټينګ په هغه تجارتي فعاليتو کې شامليږي، چې د شيانو او خدماتو جريان په توليد کوونکی څخه مصرف کوونکی ته ورسوي. او لاندې مادې په برکې نيسي:

١- مصرف کوونکی وضعيت او پيرودل او خرڅول يعنې خريدو فروش (عرضه او تقاضا)

٢- د هغه کار خصوصيت چې د غه قسم فعاليتونه سرته رسوي، لکه (تجارتی تشکيلات)

٣- ځينې موارد د صنعتي او زراعتي توليدات، د معدن استخراج پانګه اچونې او نورې چارې چې دولت د هغه اجرا په غاړه لري.

د بازار موندنې اهميت:

د بازار موندنې (مارکيټينګ) څخه هدف د محصولاتو خرڅونه نه ده، بلکې په بازار موندنه کې هغه ټولې چار ې شاملې دي، چې مالونه په ټاکلی وخت کې، پيريدونکی (مشتري) ته رسول کيږي. او په دې توګه مؤلدين لوړې ګټې لاس

ته راوړي. د غه عــملیه د مــصرف کــوونکي د احتــیاج د پوهیدو او پیژندنه. عرضه او تقاضا ، اشتهار او د مــصرف کوونــکي پوهول او آګاه کول، د هغوی هڅول د نمونې تقسـیم او توزیـع او پــه محلي مرکزونو کې عمده فروشي او پرچون فروشي له نمایش څخه عبارت دی.

د بازار موندنې هدفونه:

د بازار موندنې مارکیټنګ په هدفونو کې لاندي مسایل شامل دي:

د ډیرې او اعظمي ګټې لاس تـه راوړل، انسـاني ضرورتونـه رفع کـول، تـولیدي محصولاتو ته د زیاتې تقاضا او غوښتنې ایجادول، د آسانتیا وو او سهولتونو ایجــادول د اعظمي استفادې په منــظور د تــولید لــه پاره د ظــرفیت او حامي طاقت لوړول، د اقــتصادي پرمختګ او د ملي اقتصاد دودی او انکشاف د پاره مرسته او مساعدت.

د بازار موندنې فعالیتونه:

د بازار مــوندنې د فعالیتونو ساحه ټول کاري جریانونه د هغه د تولید او ګټې پلان چې د محصــولاتو د خرڅلاو څخه لاس ته راځي احتوا کوي. او له دې لاندې فعالیتونو څخه عبارت دي:

- د بازار مطالعه او پیژندنه.
- د تولیداتو له پاره تقاضا را منځ ته کول.
- د محصولاتو ټولونه او پیرودل د عرضې یا خرڅلاو په منظور.
- په ګدامونو کې د زیرمه کیدونکي محصولاتو تحویل.
- د خرڅیدونکی محصولاتو زیرمه.
- د محصولاتو ستندر د او درجه بندي.
- د مــوادو د ســته بنــدي وســایلو تــهیه، د محــصولاتــو درجه بندي، د حمل او نقل او پروسس.

- بسته بندي او انتقال.
- د قيمتونو د ثابت ساتلو په منظور د مالي منابعو ايجادول.
- د پلان طرح او مشوره ورکول د وروستيو توليداتو په برخه کې.

د بازاريابی د مطالعې طريقې:

کولای شو بـــازار موندنه (مارکيټنګ) پـــه لانــــدې طـــريقـــو او روښانو ترمطالعې لاندې ونيسو:

۱- د بازارموندنې عمليات:

بازار موندنه د تجاتي چارو بنه او غوره عمل دی. د سوداګرۍ ځينې چارې اوموارد يو او بل پورې تړلي دې او ددوی د کار شکل داسې دی چې ټول مسايل د شيانو په بهير کې د توليد کوونکی څخه د مصرف کوونکی ته، سره د خالت لري. په همدې اساس هغه دسته عمليا تو چې د شيانو د خرڅلاو او پيرودل، د هغه بيا خرڅول، کاليو او شيانو حمل او نقل او ګدام کول، تنظيمول، قيمت ګذاري، او په پای کې د هغه تحويل د مشتريانو (پيريدونکی) يوې ډلې ته په غاړه لري. د بازار موندنې د عمليو جزء بلل کيږي.

۲- د بازارموندنې مرستو تجزيه او تحليل:

د بازار موندنې مؤسسو مشخصه طبقه بندی چې يو د بله څخه توپير کيږي په لاندی ډول دی: واړه خرڅوونکي (خورده فروشان) عمده توزيع کوونکي او د بازار يابی چاری سهولت بښونکی مؤسسې. لکه تحقيقي، تبليغاتي، مبادله کوونکي، او اعتبار ورکوونکې مؤسسې. لږ خرڅوونکی (پرچون فروشان) کولای شو په کوچنيو ګروپونو تقسيم کړو، لکه سوپر مارکيټونه، د مصرف تعاوني شرکتونه او يا تخفيف ورکوونکی خرڅلاو ځايونه (فروشګاوی) عمده خرڅوونکي هم کولای شو په کوچنيو ګروپونو وويشو. چې سترو شرکتونو نمايندګان او د هغه له محلي شعبې څخه متشکل دي.

۳- د شیانو ډول ته په پاملرنې سره د بررسي اوویش بهیر:

په بازار موندکې د مطالعې دریم روش. د یو بل پسې محصولاتو او یا دا چې د مختلفو قسمونو محصولاتو بررسی کول دي. او دغه مطالعه د تولیدونکی څخه پیل او په آخرکې په مصرف کوونکی ختمیږي.

د داسې مطالعې په جریان کې مختلفې مؤسسې او بازار موندنې سازمانونه چې هر محصول د تقسیم په بهیر کې واقع دي، تر مطالعی لاندې نیول کیږي. دغه روش او تګ لاره واضح کوي چې څرنګه د بازار موندنې عملیات، له اقتصادي نظره د یو معین محصول د تولید له نقطې سره توپیر کوي.

بازار او د هغه ډولونه

بازار په معمولي مفهوم له هغه ځایه څخه عبارت دی چې پیرودونکی (خریدار) او مصرف کوونکي هلته سره مخامخ کیږي. په بل عبارت بازار عبارت له هغې نقطې څخه دی چې په هغه کې عرضه کوونکی او تقاضا کوونکی یو د بل سره لیدنه کتنه کوي چې په لاندې توګه د بازار ډولونه ځیړل کیږي:

د اجناسو بازار:

په دې ډول کې پیر دوونکی او خرڅوونکی په راکړه ورکړه او د کالیو (اجناسو) په خرید او فروش بوخت دي. د اجناسو بازار ممکن د یو ډول جنس (متاع) د عرضي خصوصیت ولري، لکه د اوسپنې خرڅوونکي بازار، د تیوکرانو خرڅولو بازار او نور او یا دا چې په عین وخت کې د مختلفو شیانو او کالیو خرڅولو ته اقدام کوي.

د اجناسو په بازار کې راکړه په دوه ډوله اجرا کیږي: یو د کالیو (شیانو) معاوضه له نورو کالیو سره، او بل کالی (شیان) د پیسو سره. د اجناسو معاوضه په اجناسو سره ډیر مشکلات لري، ځکه چې پیرودونکی (خریدار) او خرڅوونکی باید

هغه کالي او شیان پیدا کړي، چې مساوي ارزښت ولري، دغه مشکل ته په پاملرنې سره د پخوا څخه راکړې او ورکړې د اسانتیا او سهولت له پاره یوه واسطه چې پیسی (پول) نومیږي، منځ ته راغلی.

د پیسې او پانګې بازار:

د پیسی او پانګې بازار لوی او پراخ مفهوم لري، او ډېره پراخه حوزه به برکې نیسي. د پیسی او سرمایې په بازار کې د پیسی او سرمایې د عرضه کوونکی او تقاضا کوونکي خصوصي افراد او اشخاص، بانکونه، دولتي او نړیوالي تصدی ګانی او سازمانونه شامل دي. د پیسې او پانګې په بازار کې، برسیره پرپولي معاملو او قرضي، ټول کریډیټونه، د شرکتونو سهمونه او دولتي ارزښت لرونکې ورقې پورې مربوطې معاملې اجراء کیږي، علاوتاً د بیمې شرکتونه هم په پولي او مالي معاملو کې ستره ونډه لري.

د کار بازار:

د کار بازار د یوې یولې جغرافیائی ملـي او بیـن المللی سـیمې څخه عبارت دی چې پکې د مـختلفو مصـروفیـتونو خـاوندان او د هغوی تقاضا کوونکي یو له بـل سره مـلاقات کـوي.

د کار قیمت یعنې مزد، لکه د کالیو او اجناسو قیمت او د پیسو حاصل په پشپړه توګه د مختلفو اقتصادي او ټولنیزو عواملو تر تاثیر لاندې دي، دغه عوامل په طبیعي، تکنولوژیکي، پانګه اچونه او نورو امکاناتو پورې شامل دی.

د سوداګرۍ شرکتونو ډولونه:

د هر اقتصاد بریالیتوب هغو سازمانو پورې مربوط دی چې، په ټولنه کې اقتصادي او تولیدی فعالیتونه مخ ته بیائي. په تیرو تایخي لومړنیو ټولنو کې، تولیدی سازمان عمدتاً انفرادي و، او د کورنی په منځ ته راتلو کورنی (فامیلی) اقتصاد شکل وینو، او تـولیدي سازمان د ټولنې او اقتصادی نظامونو د پرمختګ

سره جوخت سرعت ومونداو وده يې وکړه، او په اوسنيو شرايطو کې لويې اقتصادي اتحاد يې توليدي او دويش فعاليتونه مخ ته بيائي، چې په لاندې توګه د شرکتونو ډولونه ډير لنډ در پيژنو:

تضامني شرکت:

تضامني شرکتونه هغه مؤسسې دي، چې د يو شمير کسانو په وسيله د اقتصادي فعاليتونو د سرته رسولو له پاره منځ ته راځي. په تضامني شرکتونو کې، شريکان د خپلې ټولې شتمنې (دارائی) سره مشترکاً د شرکت د مالي تعهداتو مسؤل دي. د شرکت په زيانمن کيدو يا ماتې سره مخامخ کيدو، شريکان بايد د خپلې شتمنۍ څخه د شرکت قرضي او پورونه ادا کړي. د شرکت ګټه د شراکت پر بنسټ او د شريکانو په موافقې سره ويشل کيږي.

سهامي شرکت:

سهامي شرکت هغه دی، چې د يو زيات شمير سهمونو او پانګه لرونکی څخه تشکيل شوې وي. په سهامی شرکتو کې، پانګه د سهمونو په شمير سره مساوي ويشل کيږي. هر څوک د برخې په پيرودلو سره کولای شي چې شرکت کې ګډون وکړي. د تضامني شرکتو په خلاف، د سهمونو د خاوندانو مسؤليت د شرکت په فعاليتونو کې، د هماغه اندازه پانګې او سهمونو پورې محدود دی، چې په شرکت کې يې لري.

تعاوني شرکتونه:

د تعاوني شرکتونو تشکيلات د ټولنې د پراخو پرګنو د ګټې د ساتنې پاره منځ ته راځي، او د يو رنګ خاص فعاليت له پاره رامينځ ته کيږي، لکه دويش او مصرف تعاوني شرکت او داسې نور. ټول پورتني شرکتونه د تشکيلاتو له نظره د مديره هيئت او نظار هيئت لرونکی دي، چې کتابونه او لازمه سندونه د شرکت د مالي او اداری چارو د پرمخ بيولو له پاره تنظيموي.

مدیره هیئت په حقیقت کې د شرکت اجرائیه قوه ده، چې د یو ټاکلي وخت له پاره د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کیږي.

د عنان شرکت:

د اسلامي فقهي له نظره، د عنان په شرکت کې، شریکان د مالونو د فتحی او یا تصرف په اختیار کې، یو د بل سره مساوي وي. شریکان د شرکت په کارونو او پانګه اچونه کې یو د بل سره سهیم دي او همکاري کوي. او شریکان د نورو له اجازې څخه پرته نشي کولای د شرکت په مال کې تصرف وکړي. په داسې حال کې چې د شریکانو برخه مساوي وي، په ګټه او زیان کې هم سره مساوي وي، او که نه ګټه او زیان د هغه قرار داد په اساس چې لاس لیک کړی یې دي، تقسیموي.

د مضاربې شرکت:

د مضاربې شرکت دا دی چې یو شخص یو شی بل چاته ورکوي، ترڅو هغه په کار واچوي او د هغه په ګټه په یو ټاکلي نسبت شریک شي.

دوه یا زیات کسان خپل منځ کې د شرکت وعده کوي، په دې شرط چې یو خوا پانګه ورکوي او بله خوا یا بل جانب کار کول په غاړه اخلي، او هغه ګټه چې لاس ته راځي، د هغه قرار داد په اساس چې په خپل منځ کې یې سره کړی دی، د دواړو خواوو په منځ ویشل کیږي، او که چیرته زیان او نقصان منځ ته راځي، ټول به سرمایې ته متوجه وي او عامل (هغه څوک چې کار کوي) مالي خسارې په غاړه نه اخلي، ځکه چې عامل امین دی او ضامن به نه وي.

د مفاوضې شرکت:

هغه شرکت دی چې دوه یا زیات کسان، یو د بل سره وعده کوي چې، په هر هغه شي کې چې لاس ته راوړي او یا ضرر کوي، یو او بل سره شریک دي، حتی که یو د هغوی څخه مال په میراث وړي، او یا کوم ګنج پیدا کړي، او یا تجارت وکړي او یا ګټه لاس ته راوړي ... او که هم ضرر وکړي او یا د چا مال له منځه وړي، په دې ټولې ګټې او ضرر کې یو د بل سره شریک دی.

د وجود شرکت:

دا شرکت داسې دی، چې دوه کسه په بازار کې د خلکو په منځ کې اعتبار لري، مګر مال او سرمایه (پانګه) نلري، دوی خپل منځ کې وعده کوي چې هر یو پخپله ذمه کې د نیسې په ډول څه شی ونه پیري، او هغه شی چې هریو پیرودی دي، د دواړو په منځ کې شریک وي، هغه بیا خرڅوي، او وروسته د اجناسو د پیسې ورکولو اداء کولو، حاصل شوې ګټه پخپل منځ کې سره ویشي.

او یا یو شخص پیژندل شوی او معتبر، مګر بې مال او ثروت او بل کس نوم ورکی او بې اعتبار، اما پانګه وال (سرمایه دار) خپل منځ کې قرار داد کوي، چې مال د سرمایې د خاوند په اختیار کې وي، مګر بل د هغه سرمایې او مال سره کار او فعالیت وکړي، یا د اعتبار وړکس د نیسی په ډول څه شي و پیري، او د هغه خرڅلاو بې اعتبار کس ته پریږدي، او هغه ګټه چې لاس ته راځي، خپل منځ کې سره تقسیم کړي، او یا په اصطلاح یو پیژندل شوی شخص د یو نوم ورکی شخص مال په یو لوړ قیمت او ګټه خرڅ کړی، ترڅو یو مقدار د هغه څخه ده ته پاتې شي.

دابدان یا اعمال شرکت:

د ابدان یا اعمال شرکت له هغه شرکته څخه عبارت دی، چې هر یو بیل په کار کې مشغول شي، او په هر شي کې چې ګټه لاس ته راوړي، خپل منځ کې به شرکت وي، که د دوی د کار نوع او شکل سره مساوي یامساوي نه وي.

محدود المسؤولیت شرکت (Limited):

هغه تجارتي شرکتونه چې د هغوی سرمایه په سهمونو تقسیم نه وي، او په شریک کې د هر یو مسؤلیت د تعهد شوي سرمایې په اندازه وي.

خاموش شرکت:

مخفي یا خاموش شرکت هغه دی چې، د یو یا څو کسو په منځ کې تشکیل شوی وی، او شریکان نه غواړي، چې د هغوی نوم او سرمایه درج او ثبت شي، او د خپل نورو خپلوانو او وابسته ګانو په نوم شرکت تأسیس او په کار اچوي.

نړیواله سوداګري

د اقتصادي ودې او انکشاف په نظریو کې، ځینې نظریې وجود لري، چې بهرنۍ سوداګرۍ، او د مالونو د انتقال آزادي بهرته او د هغه برعکس د پرمختیائي تولنې د اقتصادي انکشاف موجب ګرځي او د اقتصادي پرمختګ چټکتیا زیاتوي، برسیره پردې نورې نظریې هم موجودې دي، چې د نړیوالې سوداګرۍ آزادي او د سرمایې د عاملو انتقال د پرمخ تللې، او د دې عواملو لرونکي هیوادو په ګټه او د هغه هیوادونو په زیان تمامیږي چې د هغوی صنایعو نوی انکشاف کړی وي، او د نړیوالو بازارونو سره سیالي (رقابت) نشي کولی، مګر د نننۍ نړۍ اقتصادي واقعیت، او د دغسې روابطو د ګټې او زیان څخه پرته، د دې څرګندوی دی، چې د دغه رابطې د نړیوال اقتصاد د انکشاف او ودې او د تکنالوژۍ پراختیا په پیل کې تراوسه پورې د پرمختګ او پراختیا سره مخامخ دې، او د نړۍ ټول هیوادونه په یو قسم نه، یو قسم، یو باځو باندنۍ محصول ته متکي وي، او دغه اقتصادي اړیکې او مناسبات دهرې دورې په نړیواله سطحه، له تیر دورانه څخه ډیر زیاتیږي. د نړۍ هیوادونه خپله دودې او پرمختیا بهیر د نړیوال تجارت د مناسباتو او روابطو په انکشاف پیاوړی کړی، او په ځینو مواردو کې د دې مبادلې له جریان څخه د خپل اقتصادي رشد او پرمختګ له پاره هم ګټې اخیستې دي.

داسې پوښتنه مطرح کیږي چې سوداګرۍ ترکومې اندازې پورې د هیوادونو په اقتصادي انکشاف کې برخه اخستې شي؟ د کلاسیک اقتصاد پوهانو او وروسته، نړیوال سوداګرۍ په اقتصادي وده او انکشاف کې د موتور په حیث تلقي کیږي. په اوسنیو شرایطو کې د تجارت برخه د اقتصادي ځواک په زیاتیدو، او د تولید د عواملو او اقتصادي جریان څخه استفاده په پرمختیائي هیوادونو کې جوته ده. د نړیوال تجارت د نظریې اساس په ۱۵ او ۱۸ پیړۍ، یعنې د تجارتي مکتب په وخت کې مطرح شوي دی، او د دې سیاست بنسټ او اساس د صادراتو زیاتوالی او دوارداتو کموالی تشکیلوي.

اقتصادي وده او سوداګري:

د نړۍ د مختلفو هیوادو په منځ کې سوداګري د تولیدي محصولاتو د کیفیت د ښه کیدو سبب کیږي او د یو هیواد د تولیداتو مازاد نړیوالو بازارونو ته وړاندې او عرضه کیږي. برسیره پردې سوداګري د هیواد د بازارونو دانکشاف سبب ګرځي. او هم د کار ویش او اختصاص ښه کوي او معاصر تخنیک او ټکنالوژي ته په نړیواله سطحه پراختیا ورکوي. نړیواله سوداګري له انحصار څخه مخنیو کوي، او د رقابت او په پای کې د تولیدی کفایت د پیاوړتیا سبب کیږي.

آزاده سوداګري او د هغې ښیګنې:

د ډیرو اقتصاد پوهانو په سوداګری د دوهیوادو په منځ کې غالباً د دو کسو په منځ کې سوداګري ده، او د مالونو د تبادلې له نظره د هغه په منځ کې کوم فرق وجود نلري، ولې په نړیواله سوداګرۍ ګمرکي عوارض او محصول اخیستل کیږي، په داسې حال کې چې په داخلي تجارت کې دغسې محصول او عوارض وجود نلري.

له سیمه ایزو تولیداتو څخه ملاتړ:

د سوداګری او مبادلې د آزادۍ مخالفین معتقد دي، چې د مبادلې آزادی د دې سبب کیږی، چې د نوي صنعتي شوی هیوادونو تولیدات، د پرمخ تللي هیوادونو د تولیداتو سره په رقابت کې تماتیږی، او د هیواد اقتصادي استقلال ته به هم صدمه ورسیږی، او اقتصادي وابسته ګی به زیاته شي. برسیره پردې آزاد تجارت دیو شمیر مشغولو خلکو به د وزګارتیا سبب شي. ځکه داخلي همجنس، هم رنګه او مشابه شیان (کالي) د خارجي تجارت بازارونو کې داخلیږي، د دې عرصې کار کوونکی به وزګار شي، او په وروستي تحلیل تجارتي موازنه د پرمخ تللی هیوادونو په ګټه تمامیږي.

شپږم څپرکی:

پیسې، بانک او مالیه

پیسې (پول)

په پیسو او یا بې له پیسو تبادله:

کله چې یو شی (یو جنس) د بل شي سره مستقیماً تبادله شي، دغه عمل ته جنسي تبادله وایي، هغه تبادله چې د دو کسو په منځ کې د شیانو په مقابل کې صورت مومي، د هغه د مطلوبیت درجې پورې اړه لري، چې دواړه خواوو ته یې لري، او هر یو د تبادله کوونکی د هغه شي مطلوبیت، چې هغه ته اړتیا لري، ځان سره تاکي.

جنسي تبادله ځینې مشکلات رامینځ ته کوي:

لومړی: د دو کسو احتیاجات سره یو شان او مشابه نه دي.

دویم: د دو جنسو (شیانو) د تبادلې نسبت مشخص نه دي، او بالاخره د جنسي (جنس په جنس) عمده ستونزې دادی، چې تل نشو کولای، چې د معاملې وړ دوه شیان یا دوه خدمته یو د بل سره منطبق کړو، نظر په همدې مشکل او ستونزې په راکړه او ورکړه کې پیسې (پول) رواج شو.

له پیسو څخه په استفادې سره، راکړه او ورکړه په دو مرحلو کې صورت نیسي:

لومړی: خرڅلاو، دوهم: پیرودل (رانیول)

پیسې په تبادلو کې د رابطې رول لوبوي، او تبادله او راکړه او ورکړه د پیسو سره په چټکۍ او په اسانتیا صورت نیسي.

د پیسو تعریف:

پیسې په متفاوت او رنګارنګ شکلونو او قسمونو تعریف شوي، او هر عالم نظر په دنده، اشکالو، مشخصاتو او د هغه تاثیراتو او اغیزو سره پیسې تعریف کړې دي.

دیو لرغوني او پخواني تعریف په اساس، پیسې هغه متاع (شی) دی چې، جنسي تبادله له منځه وړي. ځینې وروستي عالمان، پیسې هغه متاع ګڼي چې د هغه لرونکي ته قدرت ورکوي، ترڅو ځان د قرضې څخه په وخت کې خلاصوي، او د خرڅولو او پیرودلو (خرید او فروش) په معاملو کې آزادي ولري. ځینې نور «د پیسو د پیژندنې اسانه لاره» د هغه وظیفو ته متوجه کړې، او د پیسو تعریف یې د هغه وظیفې پورې مربوط کړی دی. هر جنس چې وکولای شي د (تبادلې، د زیرمې، د حسابي واحد ارزښت او د پور د ادا کولو وسیلې) وظیفې سرته ورسوي، پیسې ګڼل کیږي.

ماکس ویبر (Max Weber) پیسې (پول) د یو تبادلوي شی په توګه پیژني او عقیده لري، چې دغه شي په ساتلو کې هم د اقتصادي مختلفو مرکزونو پواسطه د تبادلې د وسیلې په حیث ومنل شي.

البرشت فورست من (Albrisht, Forst, Man) پیسې (پول) یو قانوني طلب ګڼلی دی، او په دې عقیده دی، چې دغه طلب (غوښتنه) تل د فعال کیدو قابلیت لري او د فعال کیدو هدف، د قانوني طلبه څخه پر اجتماعي محصول باندې د کمي او کیفي له نظره څخه عبارت دی، چې د یو تضمین شوي تبادلې د وسیلې په توګه ده. له پورتنیو تعریفونو څخه داسې نتیجه اخیستل کیږي، چې پیسې د هغو وظایفو ته په پاملرنه تعریف شوې ده.

د پیسو تاریخچه:

دا واضحه ده چې، په تیرو تاریخي وختونو کې، پیسې د نن ورځې په شکل وجود نه درلود، او هم په هغه وخت کې مختلف شیان د پیسو په توګه ګڼل شوي، او

د وخت په تیریدو سره پیسې د هغوی ځای نیولی دی. د راکړې او ورکړې پرمختګ په اثر، د انساني تمدن په لومړیو وختونو کې، د تبادلې وسیلې د پاره ضرورت احساس شو، او د حیواناتو څخه د تبادلې د وسیلې په توګه په راکړه او ورکړه کښې استفاده کیدله. د لومړیو پیړیو په وروستیو کې او د منځنیو پیړیو په لومړیو کې ځینې فلزات (مخصوصاً سره زر او سپین زر) د تبادلې د وسیلې په توګه تراستفادې لاندې واقع شول.

په ځینو تولنو کې، لکه افریقې او د بحر الکاهل جزیرې، صدف، د مرغی بنیکی د تبادلې وسیله وه او تر دې وروستیو سلوکالونو د تبادل د وسیلې په توګه ترې استفاده کیدله. مګر انسانان د پوهې او معلوماتو پواسطه وپوهیدل چې ددې مختلفو پیسو له جملې څخه لکه حیوانات، تنباکو، کانې او نور، سره زر او سپین زر د راکړې او ورکړې د پاره د ښه مشخصاتو او معیارونو لرونکي وي، یا په بل عبارت دغه دوه فلزه د پیسو (پول) وظیفې په ښه توګه سرته رسولای شي.

دغه فلزات د خپل کیمیاوي خواصو په اساس چې په طبیعت کې په آزاده توګه وجود لري، او د هغوی د فزیکي خواصو په اساس، لکه ځلیدنې او د ورق کیدو قابلیت او داسې نور د عامو خلکو د خوښې سبب وګرځیدل. پورته ذکر شوې طبیعي ځانګړنې، اغیزمنې اقتصادي نتیجې هم له ځانه پر ځای درلودې او ددې فلزاتو لوړتیا یې نسبت د نورو مالونو او شیانو ته برجسته کړې دي:

په حمل او نقل کې اسانتیا، د سره زر او سپین زر دایمي پاینښت او پاته کیدل، د سره زر او سپین زر مشابهت او همرنګي په ټولو هیوادونو کې، ددې فلزاتو د ویش قابلیت، د نجیبه فلزاتو د پیژندنې وضاحت او نور. ددې فلزاتو ښیګڼې او خصوصیتونو د پیسې په توګه قوت وباخښه او د نړۍ ډیر پخواني هیوادونو سره زر او سپین زر د پیسو په شکل په راکړه او ورکړه کې استعمال کړل او ووسته د سره زر او سپین مسکوکاتو د پیسې په حیث رواج ومومند.

وروسته بانکنو ټونه د سره زر او سپین زر پر ځای جریان کې ولوید، او د تعویض قابلیت یې د سره زر په مقابل کې درلود. فلزي او کاغذي پیسې دواړه د مبادلې په جریان کې د استعمال وړ وګرځیدې، پیسې نه یوازې د فلزي او یا په کاغذي شکل وجود لري، بلکې د هغه په څنګ کې لیکلې پیسې (چک، بیه لرونکي اسناد) هم په جریان کې د پیسو په حجم او اندازه ډیر نقش لري.

د پیسې وظیفې:

الف- د تبادلې وسیله:

هر شی چې وکولای شي د اجناسو او خدماتو په مقابل کې تادیه او ومنل شي، پیسې بلل کیږي. د بو شي منل او قبلول د تبادلې د وسیلې په حیث دوه عامله لري:

لومړی دا چې پیسې د خلکو په نزد ارزښت لري، او هر څوک غواړي چې هغه د خپلو شیانو (اجناسو) او خدماتو په مقابل کې لاس ته راوړي، دوهم که پیسې ذاتي ارزښت هم ونلري (لکه کاغذی بانکنوټونه) د عام قبولي قابلیت په تبادله کې لري، چې حکومت هغه قانوناً مروج کړی دي، او قانوني پیسې (پول) په توګه پیژندل کیږي، قانوني مروجې پیسې (پول) یا Legal Tender، د خپل د تبادلې قابلیت قدرت د حکومت د توانمندي او اقتدار څخه ترلاسه کوي، او په هر ځای او هر وخت کې دغه کاغذي پیسې، د اجناسو او شیانو او خدماتو د پیرودلو او لاس ته راوړلو له پاره په کار وړای شي، او جنسي مبادلې ته ضرورت نه احساسیږي.

ب- د ارزښت د ذخیرې وسیله:

د پیسې د لومړۍ وظیفې په پام کنبې لرلو سره، یعنې د عام قبولي قابلیت څخه د هغه دوهمه وظیفه نشأت کوي. پیسې کولای شي په مختلفو وختونو کې په راکړه او ورکړه کې ورڅخه استفاده وشي. د دې امکان د درک وړ دی، پیسې کولای

شی په وروستی وخت کې د استفادی وړ وگرځي، او په معاملو کې کار ورځنې واخیستل شي، که پیسې د وخت په تیریدو سره خپل د خرید قوه له لاسه ورکړي، د هغه لرونکی کوښښ کوی، ترڅو شیان او اجناس د ممکن په صورت ډیر ژر تقاضا وکړي، او یا د جنس په جنس معامله په دې حالت کې د توجه وړ وگرځي. ځنې وخت امکان لري چې د پیسې ذاتي ارزښت د هغه ذاتي ارزښت په نسبت د وخت په تیریدو سره زیات شي. په اوسنیو شرایطو کې پیسې د ارزښت د ذخیرې په توگه، هغه وخت خپله دنده په ښه توگه اجراء کولای شي، چې مقدار یې کنترول شي، او دوهم د هغه په استقرار باندې اعتماد ولري د پیسې استقرار، د موازنې په ایجادولو سره په یو ملي اقتصاد کې د اقتصادي دوران په دننه کې د پیسو د حجم او اندازې ترمنځ ممکنه دی.

ج- حسابي واحد:

د پیسې دا وظیفه په دې معنا ده، چې د هغه په اساس د نورو اجناسو ارزښت مقایسه کیږي، یعنې پیسې د نورو شیانو او اجناسو د ارزښت د ټاکلو د وسیلې په حیث عمل کوي، دا یو حقیقیت دی چې د ټولو شیانو او خدماتو بیه په پولي معیار تثبیت کیږي، او د هغې پواسطه سنجش او مقایسه کیږي، د یو حسابی واحد په شتوالي کې د ارزښتونو مقایسه ناممکنه کیږي، او په دې وسیله محاسبه او حسابداري سیستم په ملي اقتصاد کې آسانه کیږي.

د- د پورونو د اداء کولو وسیله:

د خلکو او افرادو مالي تعهدات د پیسو پواسطه تادیه او تصفیه کیږي، او د دې وظیفې پواسطه پیسې د پورونو د تادیې یوه وسیله کیدای شي، او هیڅ څوک نشي کولای د پور په ادا کولو کې د هغه د منلو څخه انکار وکړي. مگر دا واضحه ده چې، د پولی تورم په شرایطو کې، پور ورکوونکی (دائن) خساره مند کیږی. د پیسې وظیفه د ارزښت د ذیرمې د وسیلې په عنوان او د هغه په اداء کولو زیانمنه کیږي.

بانک

انساني تمدن د پخوا زمانو څخه د مالونو او شیانو د تبادلې د نقش او اهمیت، او همدارنګه د پیسو ایجاد او د هغه څخه د راکړه او ورکړې د وسیلې په حیث، د شیانو د ارزښت ساتنې، حسابي واحدونو په درک کولو سره د کریدتي مؤسساتو په منځته راوستلو اقدام وکړ. چې د وخت په تیریدو سره د مالي او پولي ننني مؤسسې اساس او تهداب یې طرح او بنسټ یې کېښودل شو. دغه مؤسسې د خپل تکامل او بشپړتیا په بهیر کې د ډېر ابتدائي او ساده شکل څخه تر اوسني پولي او مالي د څو رابطه ایزه د عملیاتي روابطو په یوه لویه شبکه تغیر شکل وکړ، او دغه تکامل جریان همدارنګه ادامه لري. په اوسنیو شرایطو کې د ټولنې اقتصادي عادي او ورځني فعالیتونه بې له بانکو څخه تصور نشي کیدای.

مالي او کریدتي مؤسسی په اوسني حالت کې د اقتصادی فعالیتو ټولې ساحی احتواء کړی دي، او ددې فعالیتو لمن ورځ په ورځ پراخه کیږي. او ددې مؤسسې د سیاستونو، اقداماتو او تدابیرو ډېر تاثیرات د اقتصادي ژوندانه د فعالیتونو په مجموعه باندې وارد یږي.

همدا اوس اوس په ملي او بین المللی مقیاس کې په زیاتو هېوادونو کې مختلف بانکونه د خپل حقوقي شکل او د معاملاتي اهدافو له نظره منځ ته راغلي او هر یو په مختلفو خاصو برخو او څانګو د اقتصادي ژوندانه په ساحه کې فعالیت کوي. په اوسني اقتصاد کې بانکونه اساسي او مهمی دندې په غاړه لري، ورکړې راکړې چاری، کریدتي او مالي عملیات په ملي او نړیواله سطحه سرته رسوي. او زیات تشکیلات او اساسات د مالونو او اجناسو د تبادلې په ساحه کې او په اقتصادي او معاملاتي روابطو بوخت دي.

د بانکي فعالیتونو پراختیا د تجارتي چارو د پراختیا او انکشاف له پاره ډېر امکانات او فرصتونه منځ ته راوړي. او پولي او مالي ډیرې پیچلي او بغرنجې

معاملې په ډېر لږ وخت کې حل و فصل کوي. د امانتونو منل، د حسابونو خلاصول د افتتاح، د کریډټونو ورکول، د معاملې سرته رسول، د اسناد سهم پورې مربوط عملیات، پور او ارزښت لرونکې پانې په داخل او خارج کې د شتمنیو انتقالول اسعاري معاملې، د سره زر معاملې، د ضمانتونو تضمین او صادرول، زراعتي، او تعمیراتي مؤسسو سره کومک، حمل و نقل او مشارکت او په نورو اقتصادي چارو کې معاملې سرته رسول د بانکونو له سترو دندو څخه ګڼل کیږي، چې د هغوی د اجرأتو څخه پوهه او معلومات ډېر ضروري او لازمي کار دی.

د بانکونو د ودې تاریخي بهیر:

د تاریخي اسنادو او شواهدو په اتکا د ۳۲۰۰ - ۳٤۰۰ د میلاد څخه مخکې کالونو کې په بابل کې بانکونو وجود درلود، چې د اوسني نړۍ د بانکونو سره مشابهت لري، او د هغه مشابه مؤسساتو په لرغوني یونان کې هم وجود درلود، او داسې شواهد هم وجود لري چې د سرو زرو او سپینو زرو څخه د تبادلې د وسیلې په توګه کار اخیستل کیده.

په پخوا زمانو کې هم مروجه بانکي معاملې په یونان کې معمول وې، رومیانو د یوناني تمدن سره په تماس کې له فلزاتو څخه د مسکوکاتو په توګه استفاده کوله، رومي بانکدارانو د یونان مروجه بانکي معاملې وسایلو ته پراختیا ورکړه. په منځینو پیړیو کې سوداګري او د مالونو تبادله خنډ سره مخامخ شوه، د پوروونو تادیه نسبتاً محدوده شوه، او بانکي معموله طریقه هم له فعالیت څخه ولویده.

د سوریې او اسرائیل خلک لومړني قومونه وو، چې عمدتاً یې پولي معاملې سرته رسولې، او وروسته پولي معاملات د انحصار په توګه د یهودیانو په لاس کې متمرکز شول.

په نهمې او لسمې پیړیو کې یوازې پولي تبادله د یوې حرفې په توګه بلل کیده، چې په اوله کې د زرګرانو له خوا سرته رسیده، هغوی خپل میز Bamea

مارکیټ کې اېښودل ، او پولې راکړې ورکړې یې سرته رسولې ، له همدې امله یې په دولسمه پیړۍ کې د بانکدارنوم ځان ته غوره کړه ، د مسکوکاتو د تبدلۍ څخه د اماناتو معاملې منځ ته راغلې ، په لومړي سرکې په منظمه توګه صورت نیوه ، یعنې امانت اېښودونکي خپل هماغه اصلي سکې ، جنساً لاس ته راوړلې ، ددې منظمو اماناتو څخه وروسته غیر منظم اماناتو وده او انکشاف وکړ ، په دې شکل چې بانکدار مجبور نه و ، چې هماغه سکه بیرته تادیه کړي ، بلکه کولای شو د هغه معادل د هغه لرونکې کسانو ته بیرته ورکړي . په دې وخت کې د حسابدارۍ د سیستم په انکشاف سره د پیسو انتقال د حوالې او برات پواسطه رواج وموند . باید وویل شي چې د بانکي فعالیتونو چټک بدلون سره ، د بانکدارۍ چارې په ایتالیا ، فرانسه او انګلستان کې پراختیا وموندله .

لومړی بانک د وینز په ښار کې په ۱۱۵۷ میلادي کال کې تأسیس شو ، داسټردام په (۱۶۰۹) کال کې او دهامبورک بانک په ۱۶۱۹ کال کې تأسیس شو .

نوموړي بانکونو امانت قبلاو او د خلکو د ضرورت وړ حوالې یې سرته رسولې ، په حقیقت کې د سوداګرانو صندوق و . په اوسنۍ زمانه کې اروپایي بانکونه په صنایع ، سوداګرۍ مواصلاتو او پولي راکړه او ورکړه پخې پانګې اچونې کړي دي ، په ایتالیا ، هسپانیا ، آلمان او انګلستان کې اول بانکونه تأسیس شول . ددې بانکونو په څنګ کې ، نور متنوع بانکونه ، لکه : د قرض بانکونه ، د بیړۍ چلولو دا سنادو بانکونه ، د سپما (پس انداز) د بانګې اچونې شرکتونه او داسې نور منځ ته راغلل . له بلې خوانه دولت د بانکي مسألو په هکله خپل مسؤلیت درک کړ ، او د مرزي بانک له طریقه د پیسو خپرولو کنترول ، د قرضې په رهنمایې کې فعاله ونډه واخیستله .

په اوسني وخت کې بانک له با اهمیته اقتصادي پدیدو څخه دی ، د بانکونو

رول او اهمیت په مختلفو هیوادونو کې د هغه د اجتماعي او اقتصادي ودی له نظره متفاوت دی. په صنعتي پرمخ تللو هیوادونو کې بانکونه د هغه هیواد د اقتصاد د رهبري کوونکي عنصر په توگه منځ ته راځي. بانکونه پراخه پانگه اچونې په صنعتي او تجارتی برخو کې کړي دي. او کولای شي د صنعتي درجي وده وټاکي، او پولي سیاستونه تنظیم کړي.

د مخ په ودې هیوادونو په اقتصاد کې د بانک رول د هغوی د اقتصادي ودې د سطحی په تناسب محدودی دی.

د بانکونو ډولونه:

الف- مرکزي بانک:

مرکزي بانک، د هیواد په بانکي سیستم کې د خاص موقف لرونکی وی او د پولي سیاست له نظره ټاکلي هدفونه په غاړه لري. مثلاً د پیسو (پول) تدارک د اقتصاد له پاره، د پیسو داخلي او خارجي ارزښت ساتنه، د قرضی ورکول اقتصاد ته د استخدام او اقتصادی ودې د ساتلو په منظور، او بالاخره د تادیاتي انتقالاتو تنظیم له خارج سره او داسی نور.

د مرکزي بانک وظیفې عبارت دي له: د پیسو خپرول، د دولت بانک او د انتقالاتي تادیاتو د تصفیې د مرکز په توگه.

ب: معاملاتي بانکونه:

معاملاتي بانکونه مختلف ډولونه لري، او د هیوادو د اقتصاد او د هغوی د ضرورتونو په مطابق تأسیسیږي، د پولې پانگې ټولونه، یوې پانگې ته تغییر شکل ورکول، په ملي او بین المللی ساحه کې تادیات سرته رسول، او فردي او ټولنیزو سپماو و (پس اندازونو) وظیفی په غاړه لري.

ج: د پورونو بانک:

د قرضې یا پورونو بانکونه په عمومي توگه، هغه بانکونه دي، چې د

قرضونو او خدماتي معاملی سرته رسوي، مگر د لنډې مودې قرضې ورکوي. دغه بانکونه معبادی امانتونه لاس ته راوړي، برسېره پردې د ارزښت لرونکو پاڼو معاملې هم سرته رسوي.

د- د سپما (پس اندازونو) کسې:

د سپما او پس انداز کسې د افرادو اشخاصو د پس اندازونو په پیاوړی کولو لاس پوری کوي. د پس انداز د موندلو شبکې ته پراختیا ورکوي، د خلکو محدود صنایع تولوي، او د تولې شوې مبالغو څخه د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا له پاره قرضې ورکوي.

هـ- د قرضې کوپراتیفونه:

د قرضې کوپراتیفونه دنورو کوپراتیفونو په څیر یو مشخص تعداد ته، د شخصي گټې د دفاع پر اساس، اداري استقلال او فردي مسؤلیت په اساس قرضې ورکوي. د تجارتي قرضې د کوپراتیفونو وسایل د زراعتي قرضې کوپراتیفونه دي.

و- اختصاصي بانکونه:

اختصاصي بانکونه یو قسم فعالیت او بانکی عمل سرته رسوي او د فعالیت د ساحې له نظره سره تفکیک کیږي، لکه د بیمې شرکتونه، د عمراني پس انداز وکسې، رهنی بانکونه او سرمایوي شرکتونه.

ز- انکشافي بانکونه:

دا بانکونه زیاتره سیمه ایز شکل لري، او په ځینو پرمختیایي هیوادونو کې تأسیس شوي دي، د هغوی لومړی هدف، په اقتصادي او اجتماعي پرمختگ کې برخه اخیستل دي. دا قسم بانکونه په انفرادي او دسته جمعي توگه فعالیت کوي او د یوې منطقې د یو هیواد او یا هیوادونو وده او پرمختگ له پاره تاکلې طرحې او پروگرامونه تر اجراء لاندې نیسي، لکه د آسیایي انکشافي بانک، د افریقا د انکشاف بانک، دلاتینې امریکې انکشافي بانک او داسې نور.

ح- د امانتونو بانکونه:

دا بانکونه معمولاً سهامي شرکتونه دي، سپما شوي د نورو مؤسسی په راس او دوران کې سرمایې او شتمني اخلي، او د خپل مقررۍ په اساس یې په کار اچوي، دغه بانکونه مالي فعالیتونه هم سرته رسوي، مثلاً ارزښت لرونکو پاڼو پیرودل او خرڅولو کار سرته رسوي.

ط- د کار بانکونه:

د کار بانکونه هغه مؤسسې دي، چې په صنعتي چارو کې فعالیت کوي، او د هغوی پانګه د هغوی له ذخیرې څخه عبارت دی. برسیره پر دې په ځینو موارد و کې د لویې تجارتي اتحادیې پانګې جذبوي او ورباندې کار او فعالیت کوي.

ی- خارجي مخصوص بانکونه:

دا بانکونه مالي چارې سرته رسوي او د سرمایې د استفادې او ګټې په خاطر په کار اچوي، او خارجي پانګې را جلبوي، او په خارجي تجارت کې سرمایه ګذاري کوي، او صادرونکي ته قرضي ورکوي.

عمومي ماليه

د عمومي مالیې د علم تعریف:

د یوې ټولنې د اداری او د چارو د انتظام له پاره د هغو سازمانونوا و مؤسسو موجودیت چې د هغوی مجموعه د هغې ټولنې د حکومت د ستګاه تشکیلوي، لازم او ضروري ده. حکومت یو شمیر مسؤلیتونه او وظیفې لري، او همدارنګه له هیواد څخه دفاع او اجتماعي تأمینات په غاړه لري، او مصرفونه هم په غاړه اخلي او متحمل کیږي چې (د عمومي مالیې مخارج) نومیږي.

د عمومي لګښتونو د ورکولو له پاره دولت باید یو مقدار عواید د خلکو، مؤسساتو او نورو څخه لاس ته راوړي، چې د دې ضرورتونو له تأمین له پاره دغه

دارائي په مصرف ورسوي. هغه عواید چې دولت یې د خلکو څخه لاس ته راوړي «عمومی عواید» نومیږي، د عمومي مخارجو تاکل او د هغه مخارجو د تأمینولو طرز او طریقه دعمومي عوایدو په وسیله، د عمومي مالیې د علم موضوع ده. په دې علم کې د دولت دستگا دخل او خرڅ تر څیړنې لاندې نیول کیږي.

د عمومي مالیې عمده(سترې)برخې دادي:

عمومي عواید، د مالي چارو اداره، د بودجه بندۍ مسایل، د هغو مبالغو څخه ساتنه او حفاظت چې د دولت په اختیار کې دي.

عمومي مالیه پخپله د اقتصاد د علم یوه برخه ده، ځکه چې د انسان د تاکلې غوښتنې په وړاندې کولو سره تماس لري، او د ټولنې د شخصي افرادو پر تولید او ویش (توزیع) باندې تاثیر لري، او د ټولنې د شتمنۍ پر مصرف باندې هم اغیزمن دی.

په اقتصاد کې د دولت مداخلې علتونه او عوامل:

د دولت مداخلې یا نه مداخلې په هکله په اقتصاد کې، ځنې منځنی وخت متفاوتې نظر یې وړاندې کیږي. ځینی په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې مخالف دي، او وائي چې په واقع کې د آزاد بازار مشخصات او عمل د ټولنې اقتصادی ستونزې او مشکلات حلوي، او د اقتصاد د غیر مرکزي شکل پلویان دي، او ځینې نور په اقتصاد کې د دولتونو مداخلې موجودیت لازمي او ضروري گڼي. له اقتصادي نظره هم ځینې موارد وجود لري، چې دولت کولای شي تریو حده پورې په اقتصاد کې مداخله وکړي:

– د اقتصاد انکشاف د برنامه ریزۍ او پالانگذارۍ له پاره او د اقتصادي ودې او پرمختگ ته د رسیدو په خاطر د دولت همکاري او همگامی لازم او ضروري ده.

– د شتمنۍ او د هغه څخه حاصل شوی عاید ویش بنايي د آزاد بازار په

مشخصاتو کې غیر عادلانه صورت ونیسي. دولت کولای شي د هغه د تعدیل او تنظیم په منظور او د دې نقیصې له اصلاح له پاره، په عادلانه ویش (توزیع) اقدام وکړي.

- دولت کولای شي چې د استخدام او نفوس په هکله پر ځینو طرحو او نظریو اتکاء ولري، او په دې لاره کې مشخصې پالیسۍ په نظر کې ولري، په داسې حال کې چې په دغسې مواردو کې بازار او خصوصي مؤسسې د لازمې برنامې او نظریې څخه بې برخې دي.

- د نوې محلي صنایع څخه د حمایت په خاطر په خارجي مشابه شیانو د تعرفې او محصول وضع کول لازم او ضروري دي، او دا کار د دولتونو په صلاحیت کې دی، ترڅو په دغه اقداماتو لاس پورې کړي. خصوصي تشبث د دغسې چارو په سرته رسولو نه قادر دي او نه علاقه لري.

عمومي لګښتونه:

د دولتونو مهمه وظیفه د پخوا څخه د پردې د تجاوز په مقابل کې د هیواد ساتنه ده، نوځکه، د هیواد د دفاع مخارج، د عمومي لګښتونو ډیر ستر شمیر تشکیلوی. د دولت بله وظیفه د نظم او داخلي امنیت، او د عدالت تأمین د افرادو تر منځ د اختلافونو د رفع کولو په خاطر دي.

د دولت بله وظیفه د حکومت د دستګاه لګښتونه تأمینول دي، له پورتنیو مصارفو برسیره، دولتونه او حکومتونه له پخوا څخه یوه بله مهمه وظیفه هم په غاړه لري، چې په تدریج سره یې د اقتصادي مؤسسو په پراختیا سره ډېر اهمیت پیدا کړی، دغه وظیفې دادي:

عمراني او ساختماني طرحې، د لارې، کانالونو، هوائي میدانونو، د بریښنا او مخابراتو شبکې ایجادول او داسې نور.

د مالیې ډولونه:

الف- مستقیمې مالیې:

مستقیمې مالیې په دوو ډولو ویشل کیږي: پر شتمنۍ مالیې او پر عوایدو مالیې. په اوسني وخت کې تقریباً په ټولو هیوادونو کې مستقیم مالیات اساساً پر عوایدو باندې دی، او مالیې پر شتمنۍ (دارائی گانو) تقریباً محدودې دی.

ب- پر ځمکو باندې مالیې:

له پخوا زمانو څخه مالیې له مختلفو شتمنیو څخه اخیستل کیده. یوه له پخوانۍ او معمولو مالیو څخه، پر ځمکې باندې مالیې دي، پر ځمکې باندې مالیې د تاریخ په اوږدو کې له زیاتو تغیراتو او بدلونونو سره مخامخ شوې دي.

پر ځمکې باندې مالیې، یا د ځمکې له عایده څخه اخیستل کیږي، یا د ځمکې له قیمته څخه اخیستل کیږي.

د ځمکې پر عایداتو باندې مالیې، هماغه د مزروعي املاکو پر عاید باندې مالیې دي. د ځمکې پر قیمت باندې مالیې هم دو شکله لري: یا پر ټول قیمت، یا پر اضافه قیمت. مالیې پر اضافه قیمت هماغه د مالیې وصول، له ناکسب شوي عایده څخه ده. د ځمکې له اضافه قیمت څخه مالیه هم کولای شي، په دوو طریقو واخیستل شي: یو د ځمکې د انتقال په وخت کې د یو مالک څخه بل مالک ته، یعنې د ځمکې د خرڅلاو په وخت کې په دې ترتیب چې: خرڅونکی مکلف کیږي چې د خپلې د ځمکې د خرید او فروش له تفاوت څخه یوه برخه د مالیې په شکل دولت ته ورکړي، بله طریقه په هغه موقع کې ده چې مالیه د ځمکې د انتقال په صورت کې د یو خاوند (مالک) څخه بل خاوند ته نه منتظر کیږي، بلکه خاوند مکلف دی چې یوه برخه د ځمکې د ارزښت تفاوت، چې ده پورې مربوطې دي په کلونو یا کال کې چې اساس نیول شوی دی، د مالیې په توګه تادیه کړي.

ج- ماليې پر ارث او بلا عوض انتقالات:

یو د مهمو او معمولو مالیو پر شتمنیو، مالیې پر میراث دي، او هغه داسې مالیې دي، چې د مالونو او شتمنیو، چې له یو شخص څخه د فوت نه وروسته پاته شوي دي.

د- پر عاید باندې ماليې:

د ډېرو اساسي او مهمو مستقيمو ماليانو څخه په ننيو هيوادونو کې پر عايداتو باندې ماليې دي. دغه ماليې د اشخاصو د خالص عايد څخه لاس ته راځي.

هـ- سرانه ماليې:

سرانه ماليه د مستقيمو مالياتو څخه یو ډول ماليه ده، چې په پخوا زمانو کې معمول او اوس متروک شوې دې، يعنې له هر فرد څخه به ماليه اخيستل کيده.

و- حقوق او ګمرکي عوارض:

حقوقو او ګمرکي عوارض له پخوا څخه تر اوسه د دولتونو د عايد له مهمو منابعو څخه دي. د هر هيواد حقوق او ګمرکي عوارض د هر مختلف شي (جنس) په نسبت په سند کې درج شوي دي، چې د هغه هيواد د «ګمرکی تعرفې» په نوم يادېږي.

د ګمرکي تعرفې په تنظيم کې بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي:

- د اجناسو طبقه بندي
- نرخ بندي.
- د اجتماعي، اقتصادي او سياسي اهدافو تأمينول.

ز- پر معاملاتو باندې ماليې:

پر معاملاتو باندې ماليې، هغه ماليې دي چې د پيرودلو او خرڅولو په وخت کې د معاملې د قيمت په تناسب له خرڅوونکی څخه اخيستل کيږي. خرڅوونکی

هم دغه مالیې د خرڅلاو په وخت کې د شي (جنس) پر قیمت باندې زیاتوي، پیرودونکی (خریدار) ته یې انتقالوي. پر معاملاتو باندې مالیې د هغه د پراختیا او عمومیت له مخې په لاندې توګه دي:

- د پرچون فروشۍ پر معاملاتو باندې عمومي مالیې.
- د توریع کوونکو څخه پر معاملاتو مالیې.
- پر معاملو باندې عمومي مالیی.
- د لاس ته راوړل شویو د مجموعې څخه مالیې.
- له خالص عاید څخه مالیې.

ح- پر لګښت باندې مالیې:

پر مصرف باندې مالیې، هغه مالیې ته ویل کیږي چې، د یو جنس د قیمت یو جزء دی او د جنس پیرودونکی (خریدار) د پیرودو په وخت کې هغه تادیه کوي.

هغه مبلغ چې هر شخص د دې ډول مالیې له پاره ور کوي، د هغه لګښت په اندازې پورې تړلې دي.

پر لګښت باندې د غیر مستقیمو مالیو ستر ډولونه:

- پر نفتو باندې مالیې.
- پر دخانیاتو باندې مالیې.
- پر تجملي او غیر ضروري شیانو باندې مالیې.

د حق ثبت مالیات.

غیر مستقیمې مالیې چې په اکثرو هیوادونو کې معمول دي، هغه مالیې دي چې، د حق ثبت په عنوان ور کول کیږي، یعنې هغه مالیې دي چې د اسنادو او املاکو او د معاملو د ثبت له بابته په رسمي دفترونو او یا نورو ادارو کې لاس ته راځي.

مآخذونه او منابع

١ - آصفی، محمد مهدی، گردش ثروت در سیستم اقتصاد اسلام، د محمد علی مقدس، ژباړه تهران

٢ - اشرفی، محمد نعیم، حقوق تجارت، د اقتصاد پوهنځي لکچر نوټ (ناچاپ).

٣ - الزام، ذبیح الله - محتوی و مفهوم علم اقتصاد، د اجتماعي علومو مجله کابل پوهنتون، کابل، ١٣٥٨ کال.

٤ - بورروین، اقتصاد نوین، ترجمه احمد نامدار، انتشارات اقبال ایران، ١٣٤٧ کال.

٥ - پورمقیم. سید جواد - اقتصاد بخش عمومی نشرنی، ١٣٧٣ کال، تهران.

٦ - پیرنیا، دکتور حسین، مالیه عمومی مالیاتها و بودجه ایران چاپ.

٧ - تفضلی، فریدون - تاریخ عقاید اقتصادی، آرمان چاپ تهران، ١٣٧٢ کال.

٨ - جیروند، عبدالله، برداشتی از مالیه عمومی، تهران ١٣٦٨ کال.

٩ - دوست، محمد انور، لکچرنوټ پول و کریدت (ناچاپ)

١٠ - دولتشاهی، طهماسب محتشم، مبانی علم اقتصاد ١٣٧٠ کال، تهران.

١١ - دنیز فلوزا، اقتصاد معاصر و اعمال اقتصادی، د منوچهر فرهنگ ژباړه نشر سروش، تهران ١٣٧٠ کال.

۱۲ - سرابی عبدالواحد، تاریخ نظریات اقتصادی، کابل پوهنتون، ۱۳۵۸ کال.

۱۳ - شبان محمد انور، تئوریها، عوامل و سیاست های انکشاف، ۱۳۷۵ کال، پیښور.

۱٤ - شبان، محمد انور اسد، محمد نعیم، امکانات استفاده از نظریات و سیاست پولی و بانکداری در افغانستان، ۱۳۷۵ کال پیښور.

۱۵ - غوثی، محمد عارف، قاموس اقتصاد، ۱۳۵۳ کال کابل.

۱٦ - فرهنگ، منوچهر فرهنگ، بزرگ علوم اقتصادی، دویم ټوک، ایران، ۱۳۷۰ کال.

۱۷ - قره باغیان، مرتضی فرهنگ اقتصاد و بازرگانی ۱۳۷۲ کال، تهران.

۱۸ مزارعی، عدنان، اصول علم اقتصاد، ۱۳۵۲ کال، ایران.

۱۹ - منتظر ظهور، محمود اقتصاد خرد - کلان، ایران.

۲۰ - د مارکتینګ مضمون لکچرنوټ اقتصاد پوهنځی ناچاپ.

۲۱ - نیاز، غلام محمد نیاز، تصدی بانکی د اقتصاد پوهنځی لکچرنوټ.

PROPERTY
ARIC

د اریک د گرځنده کتابتونونو د اداری خپاره شوی کتابونه

۱ - د افغانستان عمومی جغرافیه
۲ - جغرافیای عمومی افغانستان
۳ - د افغانستان تاریخی ودانی
٤ - بناهای تاریخی افغانستان
۵ - د افغانستان محلی خواړه
٦ - ورزشهای محلی افغانستان
۷ - سپینه کوتره
۸ - کسان طلایی
۹ - زده کړه وچی ورزده کړو!
۱۰ - بیا موزیم تا بیاموزانیم!
۱۱ - په افغانستان کـی د چاپیریـال سـاتنه
۱۲ - حفاظت محیط زیست در افغانستان
۱۳ - په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
١٤ - تربیـه و تهیـه ء بُـزق و باغها در افغانستان
۱۵ - د تمدن سوغات
۱٦ - ارمغان تمدن
۱۷ - زلزله در افغانستان
۱۸ - په افغانستان کې زلزلې
۱۹ - معیوبین و جامعه
۲۰ - معیوبین او ټولنه
۲۱ - د افغانستان لنډکی تاریخ
۲۲ - تاریخ فشرده ء افغانستان
۲۳ - د چرګانو ساتنه او پالنه
۲٤ - مرغداری
۲۵ - دنیای کودک
۲٦ - د ماشوم نړی
۲۷ - نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
۲۸ - د افغانـستان اقتصـادی حالت ته یو د کتنه
۲۹ - د شاتو مچیو روزنه
۳۰ - زنبور داری
۳۱ - د افغانستان مشاهیر
۳۲ - مشاهیر افغانستان
۳۳ - د افغانستان کلک پوستي میوي
۳٤ - میوه های سخت پوست افغانستان
۳۵ - جغرافیاي ولایات افغانستان
۳٦ - د افغانستان د ولایتونو جغرافیه
۳۷ - تکنالوژی بایوگاز
۳۸ - د بایوگاز تکنالوژي
۳۹ - پرخوری یا خود خوري
٤۰ - ډیر خوراکی
٤۱ - بازی های عامیانه اطفال
٤۲ - د ماشومانو ولسي لوبي
٤۳ - ٤٤ - لنډي ها
٤۵ - رهنمای تشخیص وتداوی امراض چشم، گوش، گلو وبینی
٤٦ - د سترګو، غوږ، ستوني او پزی ناروغیو د تشخیص او درملنی لارښود.
٤۷ - سرگرمی با تجربه های علمی
٤۸ - په عملي تجربو سره وخت تیرول
٤۹ - په افغانستان کې کاني زیرمی
۵۰ - ذخایر معدنی افغانستان
۵۱ - اساسات ماهی پروری
۵۲ - د کبانو د روزلو لارښونی
۵۳ - اوبه د ژوند سرچینه
۵٤ - آب سر چشمه ء حیات
۵۵ - تدبیر منزل
۵٦ - د کور سمبالښت
۵۷ - سبزی ها
۵۸ - سابه
۵۹ - د افغانستان مشاهیر (دویم ټوک)
٦۰ - مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
٦۱ - توصیـه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
٦۲ - په افغانستان کې د باغونو د پرمختګ په هکله ګټوري لارښوني
٦۳ - شاهراه های افغانستان
٦٤ - د افغانستان لوي لارې
٦۵ - ورزش
٦٦ - ورزشی
٦۷ - تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستا
٦۸ - په افغانستان کې د ډله ایزو اړیکو وسایلو لنډ تاریخ
٦۹ - سیمای محیط زیست افغانستان
۷۰ - د افغانستان د چاپیریال بڼه



سیف الدین سیحون د زین الدین زوی
په ۱۳۳٤ هـ ش کال د بدخشان ولایت په
درواز ولسوالۍ کې زیږېدلی.

زده کړې:

د بدخشان پامیر لیسه، پروان
دارالمعلمین، کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ماستر (۱۳۷۱ هـ ش).

دندې:

د بدخشان ولایت په ښوونځیو کې ښوونکی، د بلخ او کابل د
پوهنتونونو د اقتصاد په پوهنځیو کې استاد.

آثار:

تحلیلي از امکانات سرمایه گذاری خارجی و اقتصاد افغانستان،
دورنمای انکشاف صنعت در پلان انکشافی، یو شمیر مقالې او همدا
اثر (اقتصاد).

په بیلا بیلو سیمینارونو او ورکشاپونو کې یې ګډون کړی، او علمي
رتبه یې پوهنیار ده.

د اریک گرځنده کتابتون
ځواکمن
د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز

د اریک د گرځنده کتابتونونو د خپرونو لړۍ
پرله پسې نومره ۷۲